Ketabton.com

# پښتو معاصر لیکوال

عبدالقدوس نجیب

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو معاصر لیکوال

لیکوال:

**عبدالقدوس نجیب**

**سریزه، سمون او څېړنه**

**د**

**محمدویس**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: پښتو معاصر لیکوال

لیکـــوال: عبدالقدوس نجیب

سریزه، سمون

او څېړنه: محمد ویس

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼه: www.melitahrik.com

ډیـزایـن: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۰۷)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه او کور ودانی

په دې برخه غواړم د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځې د پښتو څانګې له درنو استادانو،دوستانو او په ځانګړي توګه له خپل لارښود استاد سرمحقق زلمي هیواد مل څخه چې د لارښود استاد په توګه يې ، د تیزس د لیکلو په جریان کې پوره لارښوونه راته وکړه او د تحقیق ترپایه يې خپلې همکاري له مانه ونه سپمولې د الله ج له در بارڅخه ورته د ډیر عمر او ښه صحت غوښتنه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


**ګڼه سرلیک........................................................ مخګڼه**

د سر خبرې........ .................................................... ۱

لنډیز.................................................................... ۳

سریزه.................................................................... ۴

د تذکرې مأخذ ....................................................... ۵

د تذکرې لیکوال.................................................... ۶

د عبدالقدوس نجیب آثار ........................................... ۶

د څیړنې هدف ....................................................... ۹

د څیړنې میتود ...................................................... ۹

د څیړنې شالید ...................................................... ۱۰

**۱ د تذکرې اصلي متن**

۱-۱ . د پښتو ژبې معاصر لیکوال.................................. ۱۲

۱-۲ . آشنا ................................................................ ۱۲

۱-۳ . آریا................................................................. ۱۳

۱-۴ . ارشاد ............................................................. ۱۵

۱-۵. ابوالوفا ............................................................. ۱۶

۱-۶ . الفت ............................................................... ۱۷

۱-۷ . ایوبي محمد انور ............................................... ۱۸

۱-۷-۱ . د محمد انور ایوبی د کلام نمونه .......................... ۱۸

۱-۸ . ایوبي ............................................................ ۱۹

۱-۸-۱ . د ایوبی د کلام نمونه ....................................... ۲۰

۱-۹ . ایوبي محمد نادر ............................................... ۲۱

۱-۹-۱ . د کلام نمونه .................................................. ۲۲

۱-۱۰ . ایوبي غلام فاروق ............................................ ۲۳

۱-۱۰-۱ . د شعر نمونه ................................................ ۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-۱۱. اخلاص ........................................................ ۲۴
۱-۱۱-۱. د اخلاص د نظم نمونه ........................................ ۲۴
۱-۱۲. ایازي ........................................................ ۲۵
۱-۱۳. ایازي محمد یوسف ........................................ ۲۶
۱-۱۴. ایازي محمد انور ........................................ ۲۷
۱-۱۵. احمدي ........................................................ ۲۸
۱-۱۵-۱. د احمدي د کلام نمونه ........................................ ۲۸
۱-۱۶. اثک ........................................................ ۳۰
۱-۱۶-۱. د اثک د نظم نمونه ........................................ ۳۰
۱-۱۷. اتم ........................................................ ۳۲
۱-۱۸. احمد جان ........................................................ ۳۳
۱-۱۸-۱. د منشي احمد جان د کلام نمونه ........................................ ۳۴
۱-۱۹. رحمت الله بابا ........................................................ ۳۶
۱-۱۹-۱. د رحمت الله بابا د شعر نمونه ........................................ ۳۷
۱-۲۰. بینوا ........................................................ ۳۸
۱-۲۰-۱. د بینوا چاپ شوي آثار ........................................ ۳۹
۱-۲۰-۲. د کلام نمونه ........................................ ۳۹
۱-۲۱. رشاد ........................................................ ۴۲
۱-۲۱-۱. د رشاد شعر او شاعري ........................................ ۴۳
۱-۲۱-۲. د رشاد تألیفات ........................................ ۴۳
۱-۲۱-۳. د کلام نمونه ........................................ ۴۳
۱-۲۲. خواخوږی ........................................................ ۴۶
۱-۲۲-۱. د خواخوږي د شعر نمونه ........................................ ۴۶
۱-۲۳. سید ........................................................ ۴۷
۱-۲۳-۱. د سید د ماموریت دوره ........................................ ۴۹
۱-۲۳-۲. د کلام نمونه ........................................ ۵۰
۱-۲۴. جانان ........................................................ ۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-۲۴-۱ . د جانان د کلام نمونه ........................................ ۵۵
۱-۲۵ . واسعي ................................................................ ۵۸
۱-۲۵-۱ . د واسعي د کلام نمونه ........................................ ۵۹
۱-۲۶ . قاضي عبدالصمد ........................................................ ۶۰
۱-۲۶-۱ . د قاضي عبدالصمد د شعر نمونه........................ ۶۱
۱-۲۷ . مسلم .......................................................................... ۶۳
۱-۲۷-۱ . د مسلم د کلام نمونه ........................................ ۶۳
۱-۲۸ . نومیالی .. ........................................................... ۶۵
۱-۲۸-۱ . د نومیالي د کلام نمونه ........................................ ۶۵
۱-۲۹ . حیدري ........................................................................ ۶۷
۱-۲۹-۱ . د پښتون ناظم میر حیدر کورنۍ ........................ ۶۷
۱-۲۹-۲ . د میر حیدر حیدری د پښتون ناظم د تحصیل دوره ....... ۶۸
۱-۲۹-۳ . د پښتون ناظم د پښتو سره مینې د پیداکولو عوامل...... ۶۹
۱-۲۹-۴ . د پښتون ناظم د شاعرۍ دوره ............................ ۶۹
۱-۲۹-۵ . د پښتون ناظم د مطبوعاتو سره پیژند ګلوي .... ۷۰
۱-۲۹-۶ . د حیدری د شعر نمونه........................................ ۷۱
۱-۳۰ . پښتون ........................................................................ ۷۴
۱-۳۰-۱ . د پښتون د کلام نمونه ........................................ ۷۴
۱-۳۱ . مستغني ........................................................................ ۷۶
۱-۳۱-۱ . د مستغني د کلام نمونه ........................................ ۷۸
۱-۳۲ . بینوم ............................................................................ ۷۹
۱-۳۲-۱ . د شعر دیوان ........................................................ ۸۰
۱-۳۲-۲ . د ده اشعار او کلام ................................................ ۸۱
۱-۳۲-۳ . د بینوم د کلام نمونه ........................................ ۸۱

## ۲ تعلیقات

۲-۱ . آشنا ................................................................ ۸۳
۲-۱-۱ . د آشنا یو بیت له فرهنګه........................................ ۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲-۲ . محمد نجیم آریا.......................................................۸۵
۲-۲-۱ . د محمد نجیم آریا آثار ......................................... ۸۶
۲-۲-۲ . د محمد نجیم آریا د دري شعر نمونه ............................... ۸۶
۲-۳ . محمد شاه ارشاد ................................................... ۸۷
۲-۳-۱ . د محمد شاه ارشاد آثار.........................................۸۸
۲-۳-۲ . د ارشاد د شعر نمونه.............................................۸۸
۲-۴ . محمود شاه ابوالوفا..................................................۹۰
۲-۵ . گل پاچا الفت......................................................۹۱
۲-۵-۱ . د الفت آثار.........................................................۹۲
۲-۵-۲ . د گل پاچا الفت د نثر نمونه......................................۹۳
۲-۶ . محمد انور ایوبي.....................................................۹۵
۲-۷ غلام محی الدین ایوبي..................................................۹۵
۲-۸ . محمد نادر ایوبي......................................................۹۶
۲-۸ -۱ . د محمد نادر ایوبي آثار...........................................۹۶
۲-۸-۲ . د محمد نادر ایوبي د نثر یوه بیلگه..............................۹۸
۲-۹ غلام فاروق ایوبي.......................................................۹۹
۲-۱۰ عبد الخالق اخلاص.....................................................۱۰۰
۲-۱۰-۱ . د عبدالخالق اخلاص آثار.........................................۱۰۰
۲-۱۱ . محمد اعظم ایازي....................................................۱۰۲
۲-۱۱-۱ . د محمد اعظم ایازي آثار..........................................۱۰۳
۲-۱۲ محمد یوسف ایازي........................................................۱۰۴
۲-۱۲-۱ . د محمد یوسف ایازي آثار..........................................۱۰۴
۲-۱۳ محمد انور ایازي.........................................................۱۰۶
۲-۱۴ . لعل محمد احمدي.......................................................۱۰۶
۲-۱۵ . نظر محمد اښک.........................................................۱۰۷
۲-۱۵-۱ . د نظر محمد اښک د نظم نمونه.....................................۱۰۷
۲-۱۶ . سید حسن اتم...........................................................۱۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲-۱۷ منشي احمد جان ............................................۱۰۹
۲-۱۷-۱ . د منشي احمد جان آثار ..........................۱۱۰
۲-۱۷-۲ . د منشي احمد جان د نثر نمونه ...................۱۱۰
۲-۱۸ . رحمت الله بابا .............................................۱۱۲
۲-۱۹ . عبدالرؤف بینوا ...........................................۱۱۳
۲-۱۹-۱ . د استاد بینوارسمي دندې .............................۱۱۴
۲-۱۹-۲ . د بینوا آثار ................................................۱۱۵
۲-۱۹-۳ . د عبدالرؤف بینوا د نثر نمونه ........................۱۱۹
۲-۲۰ عبدالشکور رشاد ...........................................۱۲۱
۲-۲۰-۱ . د عبدالشکور رشاد چاپي آثار ........................۱۲۳
۲-۲۰-۲ . د عبدالشکور رشاد ناچاپ آثار .......................۱۲۶
۲-۲۰-۳ . د علامه رشاد د نثر نمونه ..............................۱۳۱
۲-۲۱ محمد ابراهیم خواخوږی .....................................۱۳۳
۲-۲۱-۱ . د خواخوږي آثار ........................................ ۱۳۴
۲-۲۱-۲ . د محمد ابراهیم خواخوږي د کلام نمونه ............ ۱۳۴
۲-۲۲ . سید حسین سید ............................................ ۱۳۵
۲-۲۲-۱ . د سید حسین سید د نظم نمونه ......................... ۱۳۶
۲-۲۳ ملامحمد شریف جانان کاکړ ................................ ۱۳۶
۲-۲۳-۱ . د ملا محمد شریف جانان آثار .......................... ۱۳۷
۲-۲۳-۲ . د ملاجان د نظم یوه نمونه .............................. ۱۳۸
۲-۲۴ . عبدالخالق واسعي .......................................... ۱۳۹
۲-۲۴-۱ . د عبدالخالق واسعي د ماموریت دوره ................ ۱۳۹
۲-۲۴-۲ . د ښاغلي واسعي ترجمې او تألیفات ....................۱۴۰
۲-۲۴-۳ . د ده د نظم نمونه .......................................... ۱۴۱
۲-۲۵ . قاضي عبدالصمد .......................................... ۱۴۳
۲-۲۵-۱ . د قاضي عبدالصمد د نظم نمونه ........................ ۱۴۳
۲-۲۶ . محمد رسول مسلم .......................................... ۱۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-۲۶-۱ . د محمد رسول مسلم د شعر نمونه ............................ ۱۴۵
۲-۲۷ . محمد نومیالی ........................................................ ۱۴۷
۲-۲۷-۱ . د محمد انور نومیالي چاپ شوي آثار ........................ ۱۴۹
۲-۲۷-۲ . د ښاغلي  نومیالي ځینې نا چاپ آثار ......................... ۱۵۰
۲-۲۷-۳ . د نومیالي د نثر نمونه ............................................ ۱۵۰
۲-۲۸ میر حیدر حیدري ....................................................... ۱۵۳
۲-۲۹ . محمد رسول پښتون ...................................................... ۱۵۳
۲-۳۰ . عبدالعلي مستغني ...................................................... ۱۵۴
۲-۳۰-۱ . د مستغني آثار ......................................................... ۱۵۵
۲-۳۰-۲ . د عبدالعلي مستغني د نظم نمونه ............................ ۱۵۵
۲-۳۱ . فضل اکبر بینوم ......................................................... ۱۵۶
۲-۳۱-۱ . د بینوم د کلام نمونه ............................................... ۱۵۸
پایله ..................................................................................... ۱۶۰
مناقشه ................................................................................... ۱۶۱
کلي پایله ............................................................................... ۱۶۳
وړاندیزونه اوسپارښتنې .......................................................... ۱۶۴
مأخذونه ................................................................................. ۱۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملـي تحریـك دا ژمنـه د یـاد کـال د کـب پـر (۲۸)مـه نېټـه پـوره او د یـوې پرتمینې غونـډې پـه تـرڅ کـې یـې شـل عنوانونـه علمـي اثـار هېوادوالـو تـه وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنـه کـړو اثـارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیلـه لـري چـې لـه دې اثـر څخـه بـه زمـوږ هېـوادوال پـه زړه پـورې ګټـه پورتـه کـړي. ملـي تحریـك لـه ټولـو هغـو لیکوالـو، ژبـاړونکو، سمونچارو، مـالي او معنـوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چـاپ پـه دې ټـول بهیـر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیـر یـې بریـالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سر خبرې

د ماسترۍ د تحصیلي دورې د تیزس لپاره د یوې داسې موضوع په هڅه کې وم چې د ژبې او فرهنګ په بډاینه کې موثره تمامه شي او تکراري نه وي. په همدې خاطر ما د خپل استاد سرمحقق زلمي هیوادمل صاحب څخه د موضوع د ټاکلو لپاره مشوره وغوښته هغه راته وویل ،چې د پښتو یوه تذکره ده د عبدالقدوس نجیب په نامه یوه لیکوال لیکلې او د شاعرانو او لیکوالو سوانح او فرهنګي فعالیتونه په کې بشپړ نه دي، مستقله نه ده چاپ شوې، متن به یې چاپ ته آماده کې او هم په باندې تعلیقات،تحشیه او سریزه ولیکې ښه موضوع ده، د تذکرې کاپي مې پخپله له استاد څخه واخیسته او لیکل شوې بڼه مې د سرمحقق زلمي هیواد مل په وساطت له مطبع روهیال څخه ترلاسه کړه او د ثبت لپاره مې په ۱۳۹۴ کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي ته فهرست او غوښتنلیک ورکړ چې له نیکه مرغه د بورد له خوا زما د تیزس موضوع (د پښتو معاصر لیکوال تحشیه،تعلیق اومکمله سریزه) تر عنوان لاندې ومنل شوه او کار مې ور باندې شروع کړ.

د تیزس د لیکلو په جریان کې مې له بیلابیلو کتابخانو، تر ډېره د جمهوري ریاست د کتابتون څخه چې د درانه استاد سرمحقق زلمي هیواد مل په هلو ځلو د پخواني جمهور رییس حامد کرزي د حاکمیت په دوران کې جوړه شوې وه او زما دتیزس اړوند ډېرې ماخذونه همدلته وو استفاده وکړه، له دې سربیره مې د یو شمیر فرهنګیانو سره هم مصاحبې کړې دي له هغوی څخه مې معلومات راټول کړي چې دلته یې ځای بولم څو د هغوی یادونه او مننه ورڅخه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د استاد ښاغلي سر محقق زلمي هېوادمل څخه ډېره مننه کـوم ،چــې ددې تېزس د لارښود استاد په توګه يې د دې تيزس د ليکلو له پيله تر پايه له مانه خپلې لارښوونې او مرستې نه دي سپمولي،په هره برخه کې يې راســره پــوره همکاري وکړه او واقعا د دې موضوع په بشپړولو کې راسره ډېر پــه تکليــف او ستړی شو، چې ډېره مننه ورڅخه کوم کور دې يې ودان وي او الله ج دې ډېــر عمر له روغتيا سره ورکړي.

همدارنګه د مطيع الله روهيال څخه هم مننه کوم چې د تذکرې پوره متن چې په طلوع افغان اخبار کې خپور شوی وه ماته را کړ او د ځينو ليکوالو چــې پــه پښتو تذکرو کې د هغوی په باب معلومات نــه وو راغلــي د هغــوی د محترمــو کورنيو غړي يې را ته معرفي کړل او د معلوماتو په راټولو کې يې زماکار اســان کړ چې کور ودانی ورته وايم.

ديوې خبرې يادونه بايد دلته وکړم چې د دې تذکرې د څو محدودو ليکوالانــو په باب مې پوره معلومات پيدا نه کړای شول، د دوی شرح حــال څنګــه چــې تذکرې ضبط کړی، هماغسې پاتې دی.

په پای کې د ټولو هغو دوستانو او استادانو څخه مننه کوم،چې په يو نه يوه بڼه يې په دې موضوع کې له ماسره مرسته کړې ده.

په درنښت

محمدويس

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډيز

دا تيزس د پښتو ليکوالو او شاعرانو د يوې معاصرې تذکرې تـدوين او احياتـه وقف شوی دی. دا تذکره شاوخوا ۶۰ کاله وړاندې ترتيـب شـوې او ۳۱ افغـان ليکوال او شاعران پکې معرفي شوي دي.

د پيل په خبرو کې دا روښانه کيږي، چې د ماسترۍ دورې په پای کې بايـد يو تيزس وليکل شي، چې دهمدغې اړتيا پر بنسټ مې د دې تيـزس فهرسـت برابر کړ، د پوهنتون بورډ ومانه او د سرمحقق زلمي هيوادمـل تـر لارښـوونې لاندې مې د موضوع د تحقيق کار بشپړ کړ.

په مقدمه کې مې د تذکرې د معرفـۍ، مأخذونو،هـدف ، د کـار ميتـود او د موضوع شاليد په باب خبرې کړې.

ورپسې د تذکرې اصلي متن راغلی په دغه برخه کې ۳۱ شـاعران تـر اولسـم نمبر پورې د الفبا هجا پراساس معرفي شوي دي، په پاتې نورو کې دا ترتيب په نظر کې نه دی نيول شوی.د تذکرې متن مې د تدوين له معاصرو روشونو سـره سم تدوين کړی دی، هغه شرايط چې د تدوين روش شناسي ښوولي دي.

له دې وروسته د تعليقاتو برخه ده د تعليقاتو په برخـه کـې مـې د تـذکرې د شاعرانو شرح حال پـه بشـپړ ډول راوړی دی، د تعليقـاتو د تحقيـق ميتـود تشريحي دی.

له تعليقاتو وروسته په ترتيـب سـره پايلـه، مناقشـه، کلـي نتيجـه ګيـرې وړانديزونه او مأخذونه راوړل شوي دي.

د دې تذکرې له موادو د ادبي تاريخ په تحقيقـاتو او نـورو ادبـي څيړنـوکې د څيړونکو لپاره د استفادې موارد لري. او ويلي شو چې دا يوه نـوې تـذکره لـه مقدمې او تعليقاتوسره زموږ فرهنګي حلقوته وړاندې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

ادبې تذکرې د شاعرانو او لیکوالو د احوالو او آثارو د خوندي کولو او د شاعرانو د معرفي لپاره له ډېرې پخوا څخه په شرقي فرهنګ کې دود دي او تراوسه لا لیکل کېږي، عمده ګټه او هدف یکې دا نغښتی دی چې د هرې ژبې د ادبیاتو تاریخ دلیکنې لپاره له بنیادي منابعو څخه ګڼل کېږي.

د پښتو ادبیاتو په معاصره دوره کې چې په افغانستان کې کومې تذکرې لیکل شوې دي قدیمه تذکره په کې په ۱۳۱۶ او ۱۳۱۷هـ ش کلونو کې لیکل شوې ده، نوم یې دی د پښتو نني لیکوال دا تذکره استاد خادم او استاد رشتین دواړو په ګډه جوړه کړې، د دې تذکرې څه برخې مرحوم خادم د کابل کالنۍ د ۱۳۱۸ هـ ش کال په ګڼه کې چاپ کړې دي د دې تذکرې لومړنۍ برخې د کابل کالنۍ د ۱۳۱۶ او ۱۳۱۷ هـ ش کلونو په کڼو کې خپرې شوې دي. بله تذکره عبدالرزاق زهیر لیکلې د ده تذکره په فارسي ژبه ده او نوم یې دی،شعرای معاصر پښتو چې تراوسه نه ده چاپ شې او خطي نسخه یې د افغانستان په ملي آرشیف کې خوندي ده او دریمه همدا تذکره ده.

**د تذکرې معرفي:**

په دې تذکره کې ټول یودیرش شاعران معرفي شوي البته له دغو شاعرانو څخه ډېری یې هغه وخت ژوندي وو او د یادې شوې تذکرې له لیکلو وروسته د پښتنو لیکوالو په وروسته لیکل شویو تذکروکې یې دځینوشاعرانو او لیکوالو د سوانحو او د دوی د علمي او ادبي کړنو په باب معلومات راغلي دي.

په یاده شوې تذکره کې څوتنه لیکوال او شاعران داسې دي چې زما د معلوماتو له مخې د پښتنو لیکوالو په بله تذکره کې نه دي معرفي شوي یوازې د همدې تذکرې لیکوال یې سوانح راوړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو معاصر ليکوال دغه تذکره ما د خپل استاد سرمحقق زلمي هيواد مـل په وساطت له مطيع الله روهيال څخه ترلاسه کړه له دواړو ښـاغلوڅخه مننـه کوم چې په دې برخه کې يې له ماسره پوره همکاري وکړه.
دا تذکره ( د پښتو معاصر ليکوال) په مستقله توګه تراوسه نه ده چـاپ شـوې خو په طلوع افغان کې په ترتيب سره په ځو برخـوکې خپـره شـوې ده د دې تذکرې د ليکلو تاريخ په باب هم ښاغلي ليکوال څه نه دي ليکلي خو دومـره ښکاري چې ياده شوې تذکره د عبدالروف بينوا د اوسني ليکوال څخه ښـايي ځو کاله مخکې ليکل شوې وي. بله يادونه داده چې دا تذکره هغه وخت ليکـل شوې چې مرحوم نجيم آريا د طلوع افغان مدير و،ځکه مولـف چـې د محمـد نجيم آريا په باب خبرې کړې دي، هلته ليکي"دطلوع افغان اوسنی چلوونکی" له دې يادونې ښکاري چې دا تذکره د ديرشمو کلونو په جريان کې ليکل شوې ده، ځکه مرحوم نجيم آريا په ديرشمو کلونکې د طلوع افغان مدير و.
داسې ښکاري چې دا تذکره يو څه متفرقه په ديرشمو کلونـو کـې پـه طلـوع افغان کې چاپ شوې او بيا د څلويښتمو کلونو په اوايلو کې چې کلـه ښـاغلی ايوبي د طلوع افغان مدير و، دا تذکره مسلسله بيـا خپـره شـوې ده، ځکـه د تذکرې کوم متن چې موږ ته رسيدلی په پيل کې يې د ايوبي ياددښت دی.

## د تذکرې مأخذ:

د دې تذکرې د زياتره ليکوالو او شاعرانو معرفي خپلـه مؤلـف پيـدا کـړې او بيا يې تنظيم او ليکلي دي. اما د ځينو شـاعرانو او ليکوالـو سـوانح او د آثـارو نمونې يې د پوهاند رښتين، خادم، واسعي، ژواک او نورو لـه ليکنـو اخيسـتي دي. هغه ليکوال چې يې له نورو منابعو پيداکړي دي، هرځای يې خپـل مأخـذ ښوولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تذکرې لیکوال:**

د تذکرې لیکوال او ټولوونکی عبدالقدوس نجیب د عبدالغفور خان زوی د حاجي محمد ایاز خان لمسی په ختـه بابړ او په ۱۳۰۲ هـ کال کې د کندهار د بابړو په کوڅه کې زیږیدلی د پښتو ژبې شاعر او لیکوال تیر شوی دی.

رسمي زدکړې یې تر لسم صنف پورې دي او نور تحصیلات یې په خصوصي توګه کړي دي.

له زده کړو وروسته یې د ښوونکي وظیفه اخیستې او له ۱۳۱۸ هـ ش کال څخه تر ۱۳۳۰ هـ ش کلونو پورې نور رسمي کارونه کړي دي او له هغه وروسته یې بیا شخصي کارونه ترسره کړي دي.

په پښتو او دري ژبو یې لیکنې کړي او په اردو، هند ي،عربي او انګلیسي ژبوهم پوهیده.

ښاغلی نجیب له هغو مقالو، اشعارو او یا ترجمه شوو وړو مضامینو علاوه چې په طلوع افغان، کابل مجله، هلمند، اتفاق اسلام ،او یا نورو وطني جرایدو کې خپاره شوي دي په پښتو او دري هم ځینې مستقل ترجمه شوي او یا تألیف شوي آثار لري او هغه دادي.

**د عبدالقدوس نجیب آثار:**

۱ـ لارنس یادافغانستان پیرکرمشاه،دا کتاب له اردو څخه په ۹۳ مخونوکې په پښتو ترجمه شوی او د ۱۳۴۰ هـ ش کال د مطبوعاتي جوایزو له پاره کاندید شوی وه.

۲ـ واقعات رویدادبغاوت بچه سقاو: له اُردوڅخه دري ژباړه چې د ۳۰ مخونوپه شاوخواکې په ۱۳۷۶هـ ش کال کې چاپ شوی دی.

۳ـ جغرافیهٔ پښتونستان جنوبي ــــ دا کتاب د ۱۰۴ مخو په اندازه په دري ژبه لیکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ نواب اميرخان سالارزی د ټونګ درياست مؤسس چې د اکبرشاه يوسـفزي تاليف دی:
دا کتاب له اردو څخه په ۹۰ مخونوکې په پښتو ترجمه شوی او د پښتو ټـولنې په کتابخانه کې خوندي دی.
۵ـ متن بيانيه خان عبدالغفار خان در دادگاه لاهور ـــ دا رساله له اردو څخـه په دري ترجمه شوې ده.
۶ـ زيب النساء بيګم: دا کتاب له اردو څخه ترجمه شوی او پـه ۱۳۲۵ هـــ ش کال کې په طلوع افغان اخبار کې مسلسل خپور شوی دی.
۷ـ د کوه نور الماس: دا کتاب له اردو څخه ترجمه شوی او په ۱۳۳۰ هـ ش کال کې په طلوع افغان اخبار کې په مسلسل ډول خپور شوی دی.
۸ـ خوني غل : دا قصه له اردو ژبې څخه په پښتو ترجمه شوې او د ۱۳۳۴ هـــ ش کال د طلوع افغان په اخبار کې په مسلسل توګه خپره شوې ده.
۹ـ د کندهار پخواني فضلاء: دا تأليف شوی کتاب د ۱۳۳۲ هـ ش کال د طلـوع افغان د اخبار په ۸۰ ګڼو کې مسلسل خپور شوی دی.
۱۰ـ د ژان ژاک روسو دوې مقالې : دا کتاب له اردو څخه ترجمـه شـوی او پـه ۱۳۳۵ هـ ش کال اوبيا په ۱۳۴۰ هـ ش کال کې د طلوع افغان پـه اخبـار کـې مسلسل خپور شوی دی.
۱۱ـالدخان : يوه وړوکې رساله ده چې له عربي څخه ترجمه شوې او په ۱۳۳۵ هـ ش کال کې په طلوع افغان اخبار کې خپره شوې ده.
۱۲ـالهاويه : د مصطفی لطفي منفلوطي يوه افسانه ده چې له عربي پـه پښـتو ترجمه او په طلوع افغان کې مسلسله خپره شوې ده.
۱۳ـ الاحنجه المتکسره او مضجع العروس : د جبران خليـل دوې افسـانې دي چې له عربي څخه په پښتو ترجمه او په ۱۳۴۰ هـ ش کال کې په طلوع افغـان کې خپرې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۴ــ آراکوزیا: دا کتاب د کندهار د تاریخي وضعیت تر اسلام د مخه او وروسته بیانوي.(۷: ۱۲۸۳)**

**همدارنګه د ښاغلي عبدالقدوس نجیب د یو شمیر نورو اثارو او د وفات تــاریخ په باب معلومات چې په پښتو تذکرو کې يې ذکر نه وو راغلی مــا د کنــدهار د فرهنګیانو څخه ترلاسه کړل دلته يې وړاندې کوم:**

**۱۵ــ افغانستان درسال ۲۰۰۱ میلادی ( از طالب شاهی تا حامد شاهی ) ۹۰مخه.**

**۱۶ــ طالب شاهی او دهغه ناوړه اثرونه ترجمه په ۶۰ مخو کې.**

**۱۷ــ مجله الاحکام الشرعیه : دوه ټوکه جلد الاول ، جلد الثــاني پــه دري ژبــه ترجمهشوې ، تعلیقات او تحشیه د اروابښاد له خوا پر لیکل شوېاو د ۱۲۰ مخونو په شاوخوا کې ده.**

**۱۸ــ روڼې اوښکې یا دپردېس سوغات :۱۱۸ مخه شعري ټولګه ده.**

**۱۹ــ خوشا ل ختټک : په اردو ژبه يې لیکونکی دوست محمد کامــل او دپښــتو ترجمه يې داروابښاد له خوا تر سره شوې او د ۸۰ مخونو په شاوخوا کې دی.**

**۲۰ــ دعلامه اکاډیمسن پوهاند رشاد دمړینې ګزارشات ، انځورونه ، شــعرونه او نظریات، ۳ ټوکه.**

**۲۱ــدعلامه اکاډیمسن پوهاند رشاد ژوند لیــک، علمــي ، ادبــي ، کلتــوري او سیاسي کارنامې د مرګ تر ساعته پورې ،۴۵ مخه.**

**۲۲ــتاریخ وقوعات افغانستان از سال۱۸۰۰ - ۲۰۰۰ میلادي.**

**۲۳ــ پښتو معاصر لیکوال (همدا تذکره).**

**استاد عبدالقدوس نجیب د ۱۳۸۴ هــ ش کال دچنګاښ دمیاشتي پر شپاړسمه چې د جولاي دمیاشتي د اوومي سره سمون لري د ۸۲ کلنۍ په عمر دسرطان د ناروغۍ له امله چې ورپېښه وه د امریکا د متحده ایالاتو د کلفورنیا ایالــت د لاس انجلس ښار د(Wephill ) ویپ هیل په روغتون کی د افغانستان د وخــت د نهو بجو په شاو خوا کې وفات شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څېړنې هدف:

د دې تذکرې له تدوینه زموږ هــدف دادی، چــې د پښــتو د معاصــرې دورې تذکرې لیکنې ټولې ورکې کړی سره پټلیس شي او دا لړۍ لکه څنګه چــې ده زموږ په فرهنګي تاریخ کې ځای ونیسي.

ما په همدې نیامت دا تذکره تدوین کړه، سره له دې چې ددې تذکرې ځینــې لیکوال او شاعران تردې تذکرې د مخه د پوهاند رښتین او اســتاد خــادم پــه تذکره کې معرفي شوي دي او بیا وروسته د اوسني لیکوال په دریو ټوکونو کې هم راغلي دي، خو بیا هم ځینې داسې لیکــوال او شــاعران پکــې شــته چــې تراوسه بل ځای نه دي معرفي او د نورو( معرفي شویو) شاعرانو او لیکوالــو پــه سوانحو کې ځینې داسې خبرې شته چې یې د شــرح حــال د بشــپړتیابه پــه مراتبو کې له څېړونکو سره مرسته کوي.

## د څېړنې میتود:

د دې تذکرې په لیکلو کې ما له دوو میتودونو څخه کار اخیستی دی:

(۱) د تذکرې متن: د تذکرې متن مې د تدوین له معاصرو روشــونو ســره ســم تدوین کړی دی، هغه شرایط چې د تدوین روش شناسي ښوولي دي.

(۲) د اثر د سریزې او تعلیقاتو میتــود: د دې تــذکرې د بشــپړتابه او د مــوادو توضیح په منظور پر تذکره سریزه او تعلیقات ما لیکلــي دي، د دې ســریزې او تعلیقاتو د تحقیق میتود تشریحي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څېړنې شالید

د هر تحقیقي اثر د بشپړولو په موخه څېړونکی اړ دی د موضوع د لا ښه وضاحت په منظور له تخنیکي پلوه ورته یو عنوان پسمنظر یا په ساده اصطلاح شالید نومبړي و کاږي. له دې څخه د محقق او څېړونکي هدف دا وي چې خپل ځان او لوستونکو ته دا معلومه کړي چې ایا کومه موضوع چې مونږ د تحقیق په موخه انتخاب کړي پخوا تر مونږ کوم ښاغلي پرې کار کړی که نه.

په داسې مواردو کې مونږ هم اړ یو چې په یاده لړۍ لږ غوندې رڼا واچوو، دغه تذکره (پښتو معاصر لیکوال) د دیرشمو کلونو په جریان کې ښاغلي عبدالقدوس نجیب لیکلې ده، په مستقل ډول تراوسه نه ده چاپ شوې اما په طلوع افغان اخبار کې په مسلسل ډول نشر شوې ده. په دې تذکره کې ۳۱ شاعران او لیکوال معرفي شوي دي چې د لیکوالو او شاعرانو سوانح په کې بشپړې نه وې اړتیا وه څو د دغو شاعرانو او لیکوالو شرح حال په کې بشپړ شي. په همدې خاطر ما تصمیم ونیوه چې په تذکره کې د راغلو لیکوالو او شاعرانو د سوانحو د بشپړتابه لپاره په باندې تحشیه، تعلیق او سریزه د ماسترۍ د تیزس موضوع په حیث انتخاب کړم، د موضوع د ثبت لپاره مې په ۱۳۹۴ کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي ته فهرست او غوښتنلیک ورکړ چې له نیکه مرغه د بورد له خوا زما د تیزس موضوع (د پښتو معاصر لیکوال تحشیه،تعلیق او سریزه) تر عنوان لاندې ومنل شوه او کار مې ور باندې شروع کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تيزس په بشپړولو کې مې د علومو اکاډمۍ کتابتون، د جمهـوري رياسـت د کتابخانې، د کابل پوهنتون کتابتون او ځينو نور کتابخانو څخه استفاده او د يو شمير استادانو او فرهنګيانو سره مرکې کړې دي او تيزس مې بشپړ کړی دی. بايد وويل شې چې په دې تذکره کې داسې شاعران هم شته چې په نورو پښتو تذکرو کې د هغوی په باب معلومات نه دي راغلي او يواځې ښاغلي نجيب يـې شرح حال راوړی دی. په دې هيله چې دغه تيزس د پښتو ادبيـاتو تـاريخ پـه برخه کې د استفادې وړ وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تذکرې اصلي متن

## ۱-۱ د پښتو ژبې معاصر لیکوال:

زموږ یوه تکړه ادیب ښاغلي نجیب د پښتو ژبې د ادب د بڼ د بلبلانو د پېژندګلوۍ دپاره د پښتو ژبې د معاصرو لیکوالو په نامه یو کتاب لیکلی دی چې تر خپله وسه پورې یې د پښتنو لیکوالو پر ژوند، افکارو او نظریاتو باندې ښه روښنایي اچولې ده.

نو د یوې خوا موږ د نوموړي کتاب د لیکونکې قدر کوو او د داسې ګټورو کتابو په لیکلو کې تر دې لا زیات توفیق ورته غواړو او د بلې خوا د دې دپاره چې د طلوع ګران ویونکې له هغه څخه استفاده وکې نو د دې پسه موږ د نوموړي کتاب د تخلص د هجا د حروفو په ترتیب سره په مسلسل ډول خپروو.

## ۱-۲ آشنا

عبدالباري آشنا، د ملا محمدنور آخند زوی په خټه بختیاری، یو د ښو احساساتو لرونکی تعلیمیافته ځلمی دی، تقریباً دوه کاله کېږي چې تحصیلات یې په موفقیت سره پای ته رسولي دي، او د قندهار د احمدشاه بابا په لېسه کې د ښوونکې په حیث سره کار کوي، که څه هم نوموړی په فارسي او پښتو ژبه مضامین لیکلای سي مګر میل او مینه یې د خپلې مورنۍ ژبې پښتو د لیکني و خوا ته زښته ډېره ده، دی وایي "که پښتانه غواړي چې پښتو ژبه وروزي او دا قول یې په صدق سره وي نو باید دې خوا ته ډېره توجه وکړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله ژبه له هره حیثه ثروتمنده کې، که داسي نه وي نو خدای خبر چې پښتو به پښتو کېږي او د پښتنو به ارمان په خېژي"، له دې څخه معلومېږي چې محبت يې له خپلې مورنۍ ژبې سره د هومره افراط و حد ته رسېدلی دی چې او اندازه نه لري.

د انګليسي ژبې له آثارو څخه خو بشپړه استفاده اخيستلای سي، ګمان کوم چې په عربي ژبه به هم لږ لږ پوهېږي، د منثورو او منظومو آثارو له ويلو څخه يې دا معلومېږي چې د وطن د اعتلا او اصلاح ډېر ډېر خاطرات او اميدونه يې په زړه کې پټ ساتلي دي، د تحصيل په زمانه کې به يې ګاهي ګاهي ځني آثار د وطن په جرايدو کې ليدل کېدله، مګر دا دوه کاله کېږي چې ببخي چپ دی، نه يم خبر چې د وظيفوي موانعو له حيثه څخه څه نه ليکي او که په دې ځوانه ځواني کې ستړی سوی دی؟

زه له ښاغلي آشنا څخه خواهش کوم چې بايد داسي ژر ستړی يا مايوسه نه سي او خپل د پښتو او پښتونوالي خدمت ته د قلم له لاري څخه چې ايماني او وجداني وظيفه يې ده بيرته دوام ورکې، که ګران ويونکې غواړي چې د ده د کلام نمونې ووينې د طلوع افغان د ورځپاڼې د (1327 _ 1328)سنې کلکسيونونو ته دې مراجعه وکې.

## ۱-۳ آريا

محمدنجيم آريا د خان محمد زوی په ختڼه ګرديزی، د طلوع افغان د اخبار اوسنی چلوونکی يو اخلاقي، متحمل او متواضع، اعتدال پسنده او د ښو احساساتو لرونکی اديب دی، نشريات يې د وقت او زمان له مقتضا سره سم دي، له نويسنده ګۍ سره يې د عين متعلمۍ له زمانې څخه مينه درلوده.

په (1321) سنه کې چې د حبيبې لېسې څخه په اعلٰی درجه سره فارغ التحصيل سو نو فوراً يې د نوموړي ذوق له خاطرو څخه د مطبوعاتو په مستقل

(c) ketabton.com: The Digital Library

رياست کې مقرره کی، د (1326)سنې په ابتدا کې يــې د لياقــت او اهليــت لــه خاطرو څخه خارجه وزارت له نوموړي رياسته څخه د تبديلی خواهش وکی، د (1328)سنې د جوزا په مياشت کې د زيات فعاليت په نتيجه کې په ډهلي کــې يې د مطبوعاتي آتش دنده په غاړه کې ولوېدله، سره له دغسي درنو وظيفــو د ده ميل د نګارنده ګی او ادب و خوا ته زيات و، هر رنګه مهمو چوکېو د ده آزاد روح چې د ادب په فضا کې روزل سوی و، نه سوای اېلولای نو هغه و چــې پــه (1329) سنه کې بيرته مطبوعاتي صحنې ته راغی او د انيس د ملي ورځپاڼي په مديريت سره مقرر سو، هغه روش چې ده له ثقافتي او نشرياتي حيثه څخه په نوموړې جريده کې کړی دی، د ډېري ستاينې وړ دی، د (1332 )سنې د حمل په مياشت کې د صلاحيت لرونکې مقام له خوا د طلوع افغان د چلوونکې په حيث وټاکل سو، له هغي زمانې څخه چې دلته يې په کــار پيــل کــړی دی، عــلاوه د اخبار پر چلولو باندې يې د نوموړي مديريت د کتابخانې تنظيم تر پخــوا ســم کړی او د پوهنې ننداري مفيده علمي موّسسه يې پرانيستلې ده، لا پــه پســې دی چې د تودې د افکارو د تنوير له پاره نور عصري وسايل لا هم غونډ کــې، د ليکنې طرز يې اجتماعي رنګ لري، ګاهي ګاهي د نــړۍ پــر سياســي واقعــاتو باندې ښه په زړه پورې تبصره هم کوي، نوموړی پر هغو ليکوالــو بانــدې چــې فارسي يې ژبه ليکنې کوي او پښتو يې نه وي زده، سخت انتقاد نيسي، منظوم مضامين يې زما تر نظر نه دي تېر سوي، منثور مضامين يې کــه غــواړي چــې ګران ويونکې ولولي د (1331)سنې د انيس کلکسيون دي وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۴ ارشاد

محمدشاه ارشاد د عبدالخالق زوی، د کوهدامن او اوس د کابل اوسېدونکی، د فارسي او پښتو ژبې یو زبده لیکونکی او په عربي علومو کې پوره واک لري، نوموړی د عربي دارالعلوم تر فراغت څه موده وروسته د کابل د حقوقو په مدیریت کې مقرر سو او دغه وظیفه یې په ښه ډول سره اجرا کړه. بیا څه وخت د جمعیت العلماء غړی هم و، د څه مودې له پاره د حی الفلاح په مدیریت انتخاب سو، پسله هغې څخه یې د طلوع افغان د ورځپاڼې په مدیریت سره تقرر پیدا کی، تقریباً دوه کاله یې دا جریده چلوله، بیا کابل ته تبدیل او هلته د مطبوعاتو د مستقل ریاست د مشاور په حیث سره وټاکل سو، تر اوسه پورې پر هغه وظیفه باندې باقي دی .

ارشاد یو تجربه کاره او د عصر و زمان د ایجابه سره مطاب کارکوونکی دی، مضامین یې یو نوع اجتماعي او تنقیدي رنګ لري چې د وخت د اقتضا سره یې سم نشروي، که ویونکې غواړي چې له مضامینو څخه یې حظ واخلي د طلوع افغان د تېرو کلو کلکسیونونه دي وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۵ ابوالوفا

محمود شاه ابوالوفا د مولوي مبارک شاه زوی اصلاً د قندهار او یو جید عــالم او د پښتو ژبې د لغاتو یو زبردست محقق او لیکونکی دی، پرتــه د دې ژبــې لــه لیکنې څخه یې په عربي ژبه هم ډېر کتابونــه لیکلــي او د عربــي ممــالکو پــه مختلفو ځایو کې یې نشر کړي دي، که څه هم له وطنه څخه لیري په هند کــې د پردېسۍ په حال کې شپې او ورځې صبا کوي او د وظیفوي موانعاتو له لاملــه د سر و ګرولو ته نه دی خلاص، مګر سره له هغه یې خپله مورنۍ ژبه پښتو نــه ده هېره کړې، ګاهي ګاهي خپل خواږه مضــامین او مفیــد فرمایشــات پښــتو ټولنې ته را استوي، لیکنې یې تل د پښتو ژبې د لغاتو د څېړني او حل و فصــل کولو په شاوخوا کې دي، د ده مقصد لــه دې لاري څخــه دا دی چــې دا ژبــه د پردیو ژبو له لغاتو څخه مستغني کې، هغه کومکونــه چــې ده د پښــتو ژبــې د قدیمو شاعرانو د دېوانونو په را استولو کې د پښتو ټولنې سره کړي دي د ډېــر قدر وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۶ الفت

**ګل پاچا خان الفت د میر سید پاچا خان زوی ډېر فاضل او د پښــتو معلومــاتو ښښتن دی، په پښتو او افارسي ژبه کې خو په ښېخي آزاده پیمانه ســره لیکنــه کولای سي، تر فارسي د پښتو سره چې مورنۍ ژبه یې ده زیاته مینه لري او څه چې یې لیکلي دي ګرده په پښتو دي. د فارسي ژبې کوم اثر خو یې تــر اوســه پورې زما تر نظر نه دی تېر سوی.**

**په مطبوعاتي نړۍ کــې پســله مــدیریت، ماموریــت، عضــویت او د اخبــار د نګارندګۍ له دندو څخه دا دوې دورې کېږي چې د زیات اهمیت او لیاقــت لــه خاطرو څخه یې د مشرقي خلک په شورا کې د وکالت په حیــث ســره ټــاکې، ګرچه ما ښاغلی الفت رویتاً نه دی لیدلی مګر له لیکنو او خوږو منظومو څخــه یې د ملي درد او زیاتو احساساتو لرونکی بولم، د شعر او کلام و نمونې تــه یــې څه حاجت نسته، آثار او اشعار یې د وطن په مطبوعاتو کې هومره چاپ ســوي دي چې بیان یې نه کېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۷ ایوبي محمدانور

محمدانور ایوبي د محمدایوب زوی، یو فهیم او عالم سړی دی، چې اوس یې عمر 50 کالو ته رسېږي. په قندهار کې یې ابتدایي تحصیلات و سر ته ورسول او د مطالعو او تجربو له کبله یې ډېر معلومات حاصل کړه، نوموړي د وطن په اکثرو ادارو کې رسمي ماموریتونه کړي دي، خو اوس پر خپله مځکه باندې حاضر او بزگرۍ ته یې مخ سوی دی.

دی د پښتنوالي، کلک عزم او حریت خاوند دی، چې یو کار ته یې مخ سو تر ځو چې سر ته یې ونه رسوي له خپل عزم څخه نه اوړي، په عین حال کې متدین او په زړه پاک او صاف سړی دی. اکثره وخت د کتابو خصوصاً د دیني موضوعاتو په مطالعه تېروي، په اردو ژبه پوهېږي او له عربي څخه هم استفاده کولای سي. په اشعارو کې یې شعري سلاست زیات لیدل کېږي. پخوا یې ډېر منظوم مضامین په اصلاح کې خپاره سوي دي، مگر اوس یې انزوا اختیار کړې او اشعار نه وایي، د مضامینو رنگ یې اجتماعي دی، اشعار یې چنداني نه دي ویلي..

## ۱-۷-۱ د محمد انور ایوبي د کلام نمونه :

مسلمان به عقلمند وي بلندخیاله
بې کوښښه هیڅ کار نه ځي پر مخ باندې
هوښیار بوله چې په کار کې کوښښ کاندي
له ویلو سره سم که دي عمل وي
فایده مند به دي نو هله دا ویل وي
زیات ویلو به هوښیار ته حاجت نه وي
په یوه نکته سي پوه که غفلت نه وي
مسلمان به به عقلمند وي بلندخیاله
وي مسلک بې د اصلاح له قیل و قاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکم عــزم پــه خپــل رب بــې توکــل وي
لــوی نامــداره پــه دنیــا کـــې بــه اول وي
اتحـــاد او اتفـــاق بـــه یـــې خاصـــه وي
صـــداقت، وفـــاداري بـــه یـــې پېشـــه وي
د وفـــا او د ســـخا بـــه وي لـــوی غـــر
هـــم شـــجاع او دلاور بـــه وي عســـکر
چـــې خـــاطر یـــې لـــه ایمانـــه منـــور وي
نېـک اخلاقـه، نېـک خصـلته نېـک سـیر وي
وي ظـــاهر یـــې لـــه باطنـــه ســـره ســـم
حــق ویــل کــا، نــه څــه زیــات او نــه څــه کــم
دا نـــارې وهـــي کـــه څـــه یـــې لـــږ اثـــر دی
د وطـــن پـــه غـــم غمجـــن "محمـــدانور" دی

## ۱-۸ ایوبي

غلام محی الدین ایوبي د محمدانور ایوبي زوی د (۲۶) کالو ځلمی، د اخلاقــو او مذهبي قیوداتو زښت ډېر پابند دی، له پښتو او پښتونوالي سره خاصــه مینــه لري. د قومي تعصب منحوس عناصر یې عصري تعلیم وژلي او محوه کــړي دي. دی صرف ځان مسلمان او پښتون ګڼي، د پښتو سره یې د مورنۍ ژبې توب لــه خاطرو څخه د ډېري مودې راپدېخوا د لیکنې ټینګه علاقه نښلولې او د عــین متعلمۍ د زمانې څخه لا پر تعلیمي موانعو سربېره نه وه هېره کړې.
ښاغلی ایوبي (12) صنفه د قندهار د احمدشاه بابا په لېسه کې سر ته ورســول او وروسته تر هغه په کابل کې د ادبیاتو په فاکولته کې په تحصیل لګیا ســو او تېر کال د هغې فاکولتې څخه بریالی راووت او څو میاشتې دمخه د قنــدهار د مطبوعاتو په مدیریت کې د لومړي ځل له پاره د آژانس د مامور په حیث مقــرر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سو اوس سربېره پر دغه د مطبوعاتو معاون هم دی، د هغه وخت راهيسي چې نوموړی مطبوعاتو ته راغلی دی، د طلوع افغان په اخبار کې يې ډېر تحول پېښ کړی او غواړي چې نوی رنګ ورکړي، دی د وطن او قوم د ترقۍ ډېر شوقمن او اصلاحات غواړي، په ژوند کې يې اعتدالي روش غوره کړی او د اعتدال پر خوا دی، اخلاقي ژوند خوښوي او له غرض څخه خالي دی، د هر ډول اجتماعي مضمون پر ليکلو قادره دی، پخوا يې منظوم مضامين ډېر ويل خو اوس يې ډېر شوق د نثر نويسۍ خوا ته دی، مګر تر نظم يې نثر خوندور دی. د ده منظوم او منثور مضامين د وطن په اکثرو جريدو کې لکه طلوع افغان، انيس، اصلاح، کابل مجله، زېرى، ژوندون او نورو کې چاپ سوي دي. ښاغلی ايوبي په انګليسي ژبه کې پوره واک لري او له انګليسي ژبې څخه يې ځيني ترجمې هم کړي دي.

ده د قندهار د علماوو او پوهانو يوه رساله تاليف کړې ده چې تر اوسه پورې نه ده چاپ سوې. د مرحوم مخلص رباعيات د ده په اهتمام او تصحيح سره چاپ سوه.

## ۱-۸-۱ د ايوبي د کلام نمونه :

رنګ دې ورک سي د دې هسي مختورن
په کار نه دی د ځلميانو تش فېشن
پوه هغه دی چې ودان کړي خپل وطن
عاقبت به لوړ معراج ته ورسېږي
هغه څوک چې اوس حاصل کا علم و فن
چې غمخوره د دې خاوري ملت نه وي
رنګ دې ورک سي د دې هسي مختورن
په ظاهره که ځان پاک ښيي ملت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پــــه بـــاطن کـــې لـــوی خـــاین وي د وطـــن**
**ځــان ځــاني ســوله قیامــت نــه دی نــو څــه دی؟**
**ځلــه بېــل يــې کــړه يــاران د خپــل ګلشـــن**
**پــه ټــول عمــر هــيڅ مايــل علــم تــه نــه ســوو**
**جهالــــت لا هــــم بربـــاد کـــړو واړه نــــن**
**کـــه دغـــه زمـــوږ احـــوال وي چـــې مـــي ووې**
**خـــدای خبـــر چـــې يـــو ذره بـــه ســـو ســـودمن**
**لـــږ څـــه هـــوښ دي ســـر تـــه درولـــه اې ورورو!**
**رب دپـــاره پـــر دې حـــال دي ســـه غمجـــن**
**دا غفلـــت دی ملتفـــت عمـــل تـــه نـــه ســـوې**
**کـــه دانـــا يـــې ډېـــر عمـــل کـــا لـــږ ګفـــتن**
**"ايـــوبي" دغـــه وينـــا دي ځـــان تـــه وکـــړه**
**څـــه چـــې وايـــې عملـــي کـــا خپـــل ســـخن**

## ۱-۹ ايوبي محمدنادر

**محمدنادر ايوبي د محمدسرور ايوبي د تاجر د جريدې د موّسس زوی، يو د ښو اخلاقو لرونکی تکړه ځوان دی. هغه زياته مينه چې دی يې د خپلې مورنۍ ژبې (پښتو)سره لري د ډېري ستايني وړ ده. اوس د حقوقو د فاکولتې محصـل دی، په انګليسي ژبه ښه پوهېږي او له اردو څخه لږ لږ استفاده اخيستلای سـي، د ليکني طرز يې اجتماعي او اصلاحي دی، منظوم او منصـور مضـامين لـيکلای سي، د ده يوه ښه رساله د طلوع افغان په ورځپاڼه کې د "سپين او مرغلره" پـه نامه خپره سوېده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۹-۱ د کلام نمونه:

هغه کس به سي نېکنام
چې ښه خُلق لري مدام
دغه ژوند درنه تېر بېږي
بدان تېر سوله ناکام
د نېکۍ هیڅ زوال نسته
ښه به واخلي تل انعام
څوک چې دام ایږدي و بل ته
هغه بند سي په خپل دام
سود و زیان دي ټوله خپل دي
که نېک نام سې یا بد نام
هر څه ښه دي د نېکانو
نېکان ټوله دي آرام
چې هر چا سره بدي کا
څوک بې نه کا احترام
څه چې بد وي ته یې پر بېږده
په ښو تل کانده قیام
که ښه نه سې "ایوبي" ته
څه په کار دی تش کلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱–۱۰ ایوبي غلام فاروق

غلام فاروق ایوبي د حاجي محمدانور ایوبي زوی د احمدشاه بابا د لیسې زده کړی دی، چې نوی د لیکنې میدان ته راغلی او غواړي د خپل ورور غلام محی الدین ایوبي په څېر پښتو او پښتنوالي ته خدمت وکړي، د ده دا حس ډېر د قدر وړ دی، په منثورو او منظومو مضامینو کې بد نه دی، قوي امید سته چې د خپل مشر ورور په لارښوونه سره به په دې مسلک کې یو تکړه ځلمی سي، د کلام طرز یې عشقي دی.

### ۱–۱۰–۱ د شعر نمونه:

### د جدايي رېغ

مبتلا هسي په غم د جانان چا کړم؟
د خپل ګل څخه جلا په ارمان چا کړم؟
لېونی ګرزم د خلکو په نظر کې
خبر نه یم چې پر دې لار روان چا کړم؟
سرې لمبې د بېلتانه رابانديې ګرزي
نه پوهېږم په دې اور کې سوزان چا کړم؟
د همزولو له ټولي یم راوتلی
په دې ژوند کې نن په اه و فغان چا کړم
دا عزيز وطن پر ما باندې انګار سو
د شېرين حیات په ترخ کې ګریان چا کړم؟
"ایوبي" وم شکایت مې له چا نه و
اوس حیران یم مبتلا په خپل ځان چا کړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۱۱ اخلاص

عبدالخالق اخلاص د ملا جان اخندزاده زوی د چغسرای د دهوز په مقام کې زېږېدلی دی. د فقه او نظم کتابونه یې د خپل پلار څخه، حدیث او ځینې نور یې د وطني علماو څخه ویلي دي. د ماموریت په خوا کې یې د غند کاتبي، د شورا د وکالت دورې تېرې کړې دي، په (1316) سنه کې د انجمن عضو سو په پښتو او فارسي کې نظم او نثر لیکې، د نظم او نثر نمونې یې په انیس او کابل مجله کې سته. عبدالخالق په نظم کې خپل تخلص (اخلاص) لیکې، ده دا لاندي کتابونه لیکلي دي-:

۱ـ استقلال : په دې کتاب کې د افغانستان د محمدزایي شاهانو تاریخ او د استقلال موضوع په پښتو نظم لیکل سوېده، دا کتاب چاپ سوی دی.

۲ـ تصحیح التلاوت یې د قرائت په علم کې لیکلی دی.

۳ـ نهضت پښتو : په دې کتاب کې د پښتو لغتونه د فارسي په نظم کې د نصاب الصبیان په اصول راوړل سوي دي، دا دوه کتابونه، نه دي چاپ سوي.

### ۱-۱۱-۱ د اخلاص د نظم نمونه :

### پوه او ناپوه

پښتو کې یو متل دی د ناپوه په باره
کم عقل له کوتک دی او هوښیار له اشاره
ناپوه کله پوهېږي د دنیا په باریکو
هر څو که ورته ووایې د عقل سپاره
ناپوه د هوښیار په مصلحت نه راځي کله
هیچا څخه د یو کار نه کوي دی استشاره
که څه یې د پردي په مخکې ووایې په ورو
دی کېدي په بازار کې کوتکې په نغاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا دا عجبـه زياتـه چـې نـاپوه نـه ګڼـي ځـان
هــوا تــه يــې پــروا کــړي د علــم طيــاره
خو خير که دی په دې څـه پوهېـدلی لـږ و ډېـر
چـا ځلــه بــه راوړلای د نــاپوهو پــه شــماره
نادان مه ګڼـه هغـه چـې لـه چـا کـوي پوښـتنه
يا ځان ورتـه ښـکاريږي لـه بـل چـا نـه بېکـاره
نادان هغه باله شي چـې يـې نـه وي عقـل خپـل
هـم نـه کانـدي لـه کبـره لـه بـل چـا اسـتعاره
د احمق پوه پـه دنيـا د تـوري وار دی يـا د شـل
ويشــتل پــه تپانچــه دي يــا وهــل پــه کتــاره
هوښــيار هغــه ســړی دی رشــتيا "عبدالخالقــه"
چې ځان کـړي د نـاپوهو لـه مجلـس نـه کنـاره

نوټ-:

د ښاغلي اخلاص پوره شهرت ځکه چې ما ته نه و معلـوم نـو لـه دې جهته څخه مي د ده سوانح د ښاغلي خادم په قلم ليکل سوې او د (1318) سنې په سالنامه کې خپره سوې وه، کټ مټ ښېله څه زياتوني څخه رانقل کړه.

## ۱-۱۲ ايازي

ښاغلي محمداعظم ايازي د محمداسلم زوی يو عالم او پـر پښـتو ژبـې مـين ليکونکی دی، تحصيلات يې په هند کې تر لسم صنفه پورې پای ته رسولي، په انګليسي او اردو ژبه کې د بشپړو معلوماتو څښتن سوی دی، وختي چې وطـن ته بيرته راغبرګ سو، لمړی وار د قندهار په مکاتبو کې د معلم په حيث او بيـا د پښتو د ادبي انجمن په عضويت سره مقرر سو، هغه وخـت چـې د نومـوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجمن نوم پښتو ټولنه سوه او د پښتو ژبې د نهضت دورې پيل وکی نو ايازي د صرف و نحوي د شعبې په مشرتوب سره وټاکل سو، عــلاوه د نومــوړي دونـــي وظيفې پر اجرا باندې يې د کابل د لېسو د لوړو صنفو او د ادبياتو د فــاکولتې و هلکانو ته هم د پښتو درس ورکاوه، په آخر کـــې ببخـــي د معــارفو وزارت تــه تبديل او هلته يې د نوموړي وزارت د تدريساتو د رياست د پښتو پــه څانګــه کې و خپلې مورنۍ ژبې ته ستر خدمتونه وکړه، يو څو عمــر يـــې د جنـــوبي د ولايت د معارفو د مديريت دوره هم تېره کړه او بيا متقاعد سوی دی، د نظــم و د نثر ليکني او ترجمه کړي آثار يې اصلاحي او تبليغي جنبه زياته لري او بل د پښتو ژبې د صرف و نحوي د قواعدو جمع کول او روښول يې د زيات تقــدير وړ دي، پرته د قواعد پښتو او لس زره لغاتو له اثر څخه يې بل اثر ما نه دی ليدلی، افواهي اورم چې الفاروق يې هم پښتو کړی دی، د نظم او نثر نمونه يـــې ګـــران ويونکې په انيس، کابل مجله او د پښتو په مجله کې کتلای او لوستلای سي.

## ۱-۱۳ ايازي محمد يوسف

ښاغلی محمديوسف ايازي د محمدعلم زوی يو پوه څوان او تکــړه اديـــب دی، رسمي تحصيلات يې په هند کې تر اعدادي پورې پــای تــه رســولي او د ښـــو معلوماتو خاوند سوی دی، له انګليسي او اردو آثــارو څخــه بشــپړه اســتفاده اخيستلای سي، په فارسي او پښتو ژبه کې پوه ليکــونکی دی، دی څـــو عمـــر معلم او بيا د طلوع افغان د اخبار معاون سو، هغه وخت چې مدير يې کابل تــه وغوښتل سو نو د دغه اخبار د چلولو مهمه وظيفه د ده په غاړه کـــې ولوېدلــه، تقريباً ديرلس کاله يې نوموړی اخبار په ډېر ښکلي ثقافت او ښه صورت ســره وچلاوه، پروسږ کال د قنــدهار د بلــديې د رياســت معــاون و، اوس اورم چـــې بېکاره دی. ايازي يو زړه سواندی، معتدل مزاجه او د ښو افکارو لرونکی ســړی دی، په هر ځای او هر کار کې له عدم تشدد اولين کلامه څخه کــار اخلـــي؟، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکني و نمونې ته يې حاجت نسته، که ګران ويونکې غواړي چې ودې لــولي د (1327)سنې کلکسيون ته دي مراجعه وکړي.

## ۱-۱۴ ايازي محمدانور

محمدانور ايازي د محمدعلم زوی، يو تعليم يافته اخلاقي ځــوان دی. دی پــه قندهار کې زېږېدلی او سن يې و (30) کالو ته رسېږي. پسله تحصيله څخه يې تقريباً دا يوولس کاله کېږي چې د قندهار په معارفو کې د معلمی يا سرمعلمی په حيث کار کوي، په انګليسي ډېر ښه پوهېږي او له اردو څخه لږ لږ اســتفاده اخيستلای سي، په طلوع افغان کې يې مفيد اجتماعي مضامين نشر سوي دي او ښې ښې ترجمې يې هم کړي دي. دی د ښه فکر لرونکی او د وطــن پــه درد دردمند ځملی دی، منظوم مضامين يې ما نه دي ليدلي او نثر يې ډېر خونــدور او د معنٌی ډک دی، د کلام نمونه دې ګران ويونکې د طلوع افغان د تېرو کلو په ګڼو کې وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۱۵ احمدي

**لعل محمد احمدي يو ډېر عالم، متواضع او معتدل مزاجــه ســړی دی. دی پــه 1328 سنه کې چې د عربي دارالعلوم څخه فارغ التحصــيل ســو نــو دســتي د بالامرغاب د محکمې د قاضي په حيث مقرر سو، د پښتو له شعر و شاعرۍ سره يې د عيني متعلمۍ له زمانې څخه مينه درلوده او هر کله به يې د کابل و مجلې ته ښه خوندور اجتماعي مضامين د نثر يا نظم ورکوله، دا څو عمر کبــړي چــې ببخي چپ دی، ګمان کوم لکه چې د وظيفوي کارو ډېرښت دی غلی کړی دی.**

### ۱-۱۵-۱ د احمدي د کلام نمونه:

**پښتانه ويښ دي نــن يــې ســور بيــرغ نښــان ايښــی دی**
**پــــر دښـــمنانو ظالمـــانو يـــې لـــړزان ايښـــی دی**
**نــوم د اجــدادو بــه تــازه کــړي پــه رشــتيا هيــواده**
**پښــــتنو لاس د اتفـــاق نـــن پـــر قـــرآن ايښـــی دی**
**د قـــوم عـــزت او شـــرافت پـــه ښـــه مړانـــه غـــواړي**
**ويښـــو زلميـــانو د وطـــن ســـر پـــه ميـــدان ايښـــی دی**
**پښـــتون ولاړ دی هـــيڅ پـــروا د پاکســـتان نـــه کـــوي**
**پاکستان نــه دی خوشــي نــوم يــې پاکســتان ايښــی دی**
**زه يــم خــادم د پښــتنو پــه ننــګ کــې ســر ورکــوم**
**ځکــه مــي نــوم د پښــتونخوا پښتونســتان ايښــی دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدخواهان غواړي چې خپل طوق کړي د پښتون پــه غــاړه
ځکــه محــبس کـــې يـــې بنـــدي فخـــر افغـــان ايښـــی دی
يـــــو مـــــو هـــــدف د پښـــــتنو پښتونســـــتان ښـــــودلی
مرګ ته خوشحال يو بل هــدف مــو ګورســتان ايښـــی دی
"احمــدي" وايـــي يـــا بـــه ژونـــد کـــړو د ژونـــدو پـــه شـــاني
يـــا کوچېـــدل مـــو لـــه جهـــان څخـــه پيمـــان ايښـــی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۱۶ اڅک

ښاغلی نظرمحمد اڅک د لعل محمد زوی یو احساساتي او د ښې رواني لیکنې خاوند دی. د طلوع افغان د اخبار د معاونۍ په زمانه کې به یې کله کله ډېر خوندور اجتماعي، اصلاحي او تنقیدي مضامین لیکله، مګر دا څو عمر کېږي چې د اقتصادي مشکلاتو او د روزګار د ناګوارو حوادثو له لامله څه نه لیکي، مضامین یې مبتکر او مفید دي.

اڅک یو خوش خلقه، متواضع، محتاط او نرم طبیعته سړی دی، دایماً د لیکلو په وخت کې اعتدال مدنظر نیسي، که څه هم له مضامینو څخه یې اخبارونه ډک دي مګر لاندي منظومه یې د نمونې په ډول سره ګرانو ویونکو ته وړاندي کوم-:

### ۱-۱۶-۱ د اڅک د نظم نمونه:

#### غزل

ټوله کرښي لټوم د هر مکتوب
پکښي غواړم نښانه د خپل محبوب
لکه زه چې د خپل ځان په ویر اخته یم
اخته نه و په یوسف پسي یعقوب
دغه دومره صبوري چې ما ځغملې
له دې زیاته صبوري نه و ایوب
په تهمت د غمازانو مي زړه تنګ سي
پر ناحقه سوم رسوا په سل عیوب
که څوک وڅکي د حیات اوبه ژوندی سي
زه ژوندی یم په حیات د زړه مرغوب
رنځوران د زماني په نفس رنځور دي
زه بې رنځه زماني کړمه مغلوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مي څوک په درد دردمن نه څوک دوا سـوه
د غنچې په شـان مـې زړه ډک لـه مطلـوب
کــه زاهــد د زاهــدۍ پــه لقــب مــوړ وي
ما په عشـق کـې دی مینـدلی ښـه مقلـوب
طوفـاني ابـر طوفـان غمـازه خـوار سـې
زه "اشـک" کـرم زمـانې پـه زړه مجـذوب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۱۷اتم

سید حسن اتم د سید حسین زوی، سره له دې چې ژبه یې فارسي ده مګـر د پښتو ژبې د لیکنې حق د خپل مات قلم په نیمکله ژبه سـره ادا کـوي، د ده محبت د پښتو ژبې سره د زیات تقدیر وړ دی. اتم سره له دې چې په ژوند کې هر راز مشکلات پر راغلي دي د نویسنده ګی قلم یې لـه ګوتـو څخـه نـه دی شېوه کړی، د خپل زخمي او ټوکر زړه تاثرات د قلم پـه څوکـه ګـاهي د فارسي او ګاهي د پښتو شعر په صورت سره لیکـې، اکثـره فارسـي اشـعار او مضامین یې په انیس کې چاپ سوي دي. د پښتو ژبې ځنـي ادبـي او اخلاقـي مضامین یې په(1327) کال کې په طلوع کې خپاره سوه. دې نوموړي پخـوا څـو کاله د قندهار د مطبوعاتو په مدیریت کې رسمي وظیفه په صداقت سره اجـرا کړه او وروسته تر هغه یو څه وخت په ډیپو او بیا د معـارفو پـه مـدیریت کـې مقرره سو، اوس د مرستون په ریاست کې وظیفه دار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۱۸احمدجان

احمدجان چې مشهوره په منشي احمدجان سره دی، د پښتو د ادب د آسمان ځلانده ستوری دی، ده د پښتو ژبې له پاره ډېر شانداره خدمتونه کــړي دي او ټول عمر يې په دې لياره کې تېر سوی دی، دی د اشنغر د تنګي دی، تنګی په اشنغر کې يو ډېر لوی کلی دی. دی په مولــوي احمــد او منشـــي احمــد دواړو يادېږي، مګر په وروستني نوم زيات مشهور دی. منشي احمد د پښتو پــه ادب کې د قوي لاس خښتن او د يو لوی نوم خاوند دی، په تېره د پښتو په نثر کـــې زيات حق او شهرت لري، ده ته موږ د پښتو د نثر د ميدان يو تکړه او غښـــتلی پهلوان وايو، منشي احمد جان شعر کم وايي، شعر يې په زياته انــدازه نــه دی ليدل سوی اما په نثر کې د ډېرو غورو آثارو او تاليفاتو خاوند دی، برســېره پــر دې دی د پښتو په نثر کې د يوه نوي ليک موّسس هم باله کېږي، دی د پښتو د موجوده نثر يو زبردست پالونکی او د پښتو په نثر کې د يو ادبي مکتب خاونــد دی، د ده د نثر مکتب (1300)هجري سن څخه را په دې خوا شــروع کېــږي، د دې سن څخه پخوا د پښتو نثر داسي يو قوي مکتب نه دی پيدا کــړی، تقريبــاً پنځوس کاله پخوا ده د پښتو د نثر په کتابونو شروع کړېده او تر اوســه پــورې يې لا جوړوي، د اورېدو له قراره منشي احمدجان لا ژوندی دی او دا يې د عمر آخري شپې ورځې دي.

منشي احمد د ټولو انګرېزانو چې پېښور ته په څه منصب راځي او پښـــتو زده کول غواړي استاذ دی، منشي احمد هغه سړی دی چې يو بل قوم ته د خپلـــې ژبې د زده کولو وظيفه يې پر غاړه اخيستې ده. ده ډېر د پښتو څخــه نــاخبره خلق د پښتو په خوږو پوه کړي دي او دوی ته يې خپله ژبه ورياده کړېده. ده د پښتو د نثر لمن ډېره ارته کړې ده او تاريخي کېسې، حکايــات او داســـي نــور خواږه خواږه آثار يې و پښتون قوم ته وړاندي کړي دي، د ده لمړی کتاب چـــې د پښتو په نثر کې ليکل سوی دی او د ښو ښو قيصو مجموعه ده "ګنج پښـــتو"

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومېږي، بل يې د افغانستان تاريخ چې يو انګرېز ليکلی ترجمه کړی دی، د دې تاريخ د لوستو څخه سړي ته معلومېږي چې منشي احمــد پــه پښــتو کــې د څومره اقتدار خاوند دی، په دې کتاب کې بلکل د ترجمې رنګ نه ليدل کېږي د ده نثر عموماً ډېر خوږ روان د پښتو پر محاوره برابر، په ټولو معنٌی يو عصري او صحيح نثر بللی سو، منشي احمد جان د "قصه خوانی ګپ" او د "هغه دغــه" په نوم دوه کتابونه هم لري دا دواړه کتابونه هم ډېر خواږه، دلچسپ او خوندور دي، او د پښتو د يو ډېر خوږ نثر نماينده ګي کوي، پرته له دې ممکن چې نــور کتابونه هم ولري، مګر موږ ته فعلاً هم دا معلوم وه، د ده د نظمونو څخــه دا يــو لاندي نظم زموږ ګوتو ته راغلی دی چې دا دی اوس يې تاوس ته د ده د کــلام په نمونه کې وړاندي کوو.

## ۱-۱۸-۱ دمنشی احمد جان دکلام نمونه:

**ژبه**

پــه هــر دم پــه هــر زمــان پــه کــار ده ژبــه
د همـــه واړه جهـــان پـــه کـــار ده ژبـــه
نـــا اشـــنا اشـــنا کـــوي ســـره خبـــري
پـــه خبـــرو نـــزدې کېـــږي خلـــق ليـــري
چـــې د چـــا خولـــه کـــې خـــوږه ژبـــه غږ يـــږي
د مچـــانو پـــه شـــان خلـــق پـــر بـــونېږي
د تـــورزن بـــه پـــه کـــار نـــه وي هـــومره تـــوره
لکـــه ژبـــه پـــه هـــر ځـــای کـــې وي منظـــوره
کاروبـــار د مصـــلحت پـــه ژبـــه کېـــږي
مصـــلحت د ســـلطنت پـــه ژبـــه کېـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که کاتب دی که کاغذ که دی قلم
ټول د ژبې خدمتګار دي دم په دم
په مرغانو کې طوطي دی عزتمند
دا په دا چې ښې خبري کړي د خوند
مګر دوه شرطه په ژبه کې ضرور دي
دغه دواړه ضروري په ښه دستور دي
اول دا چې ښې صحیح کول خبري
چې خبري شي په مثل ملغلري
بل په بدو دي خوله نه خوځوي خپله
تل دي سم په اندازه وي لکه تله
بده ژبه د سړي په ځان بلا شي
خوږه ژبه د سړي چاپېر قلا شي
هر سړی د سړیتوب دعوی چې کاندي
ځان دي پوه کاندي په ډېرو ژبو باندې
په یوه ژبه مطلب نه پوره کېږي
که هوښیار وي هم له سره نه پوهېږي
که حاکم وي غور هیڅ نه شي کولی
که عالم وي طالب نه شي پوهولی
په سفر کې لکه نقش د دېوال
ګنګ ولاړ وي بې طاقته بې مجال
خصوصاً چې پښتو ژبې ته حاجت
پېښ و ډېر زیاتي له حده دا ساعت
احمد وکړ په دا شان آسان کلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوټ:

منشي احمدجان د (1330 شمسي) كال د قوس پر پنځمه نېټه بانـدې وفات سوی دی، د ده د سوانح پورتنی مضمون مي د پښتانه شـعراء د دوهـم ټوک له كتابه څه كټ مټ رانقل كی.

## ۱-۱۹ رحمت الله بابا

یادونه:

د طلوع ګرانو ویونكو!

د ځینو معاذیرو له كبله مو ونه سو كړای چې د پښتو معاصر لیكوال د تخلص د هجا په قرار په ترتیب سره خپار كړو، نو تر دې وروسته بـه تاسـي د پښـتو د مقتدرو لیكوالو او پخوانو ادیبانو د ژوند شرح حال ولولئ.

"ایوبي"

حاجي ملا رحمت الله بابا د بلدي د عبدالله شاعر زوی د پښـتو ژبـې د شـعر و شاعری په نړۍ كې یو نابغه فرد تېر سوی دی، دا د رحمن بابا لو ماتوونكی او د حمید بابا د یاد تازه كوونكی شاعر هسي پخه او پر شعري قواعدو باندې برابره طبع درلوده چې نظیر یې غیر له پخوانیو نظمي استادانو څخه اوس كم میندل كېږي، پلار یې د قندهار له زبردستو شاعرانو څخه و، چې یو ضخیم دېوان یې په یادګار پرې ایښی او اوس په پښتو ټولنه كې بې طبعي پروت دی.

حاجي ملا رحمت الله بابا سره د مسكنته، ضـعیفتیا او یـا د زمـانې د نورو ناګوارو حوادثو په فشار راوړلو د پښتو او پښتنوالي له خدمته څخـه اوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کړه خالي، په ډېر کلک عزم او ټینګه اراده سره یې د مرګ تر آخرینو سوګلیو پورې د شعر په موثره خوله سره د پښتو ژبې د ژوندي کولو او د پښتانه کام د ویښولو بلغاکې وهلې، که څه هم د کویټ وچې رېګني مځکې به زمونږ د دې ګران سپین ږیري شاعر هڅو پوست خپل جز ګرزول او اثر به یې لا نه وي پرې ایښی، مګر مونږ دا د خپلې مورنۍ ژبې خواخوږی مین چې د شعر و شاعرۍ د آسمان ځلانده ستوری و، کله هېروو، هغه سپېڅلي رون احساسات چې د ده له پاکې سینې څخه راوتلي او د کاغذ پر بیاض باندې لیکل سوي دي د ده یاد هر کله تازه کوي او دا خیر باقي یې تل تر تله پورې ژوندی ساتي.

د شعري ابتکار یا د طبعي د پوخوالي له حیثه په دې زمانه کې لمړی سړی و، ده به تل د قدیمو لغاتو څخه قافیه جوړوله او په دې ډول سره یې غوښته چې مړه لغات ژوندي کې.

**۱-۱۹-۱ د رحمت الله بابا د شعر نمونه:**

چې سړی وي پخپل کور کې پخپل ځان اړ
څه به هیله ورنه وکړي د جهان اړ
نه پوهېږم مېنګاه ده د پمنو
که یوازي زما په ځان دي خپل نوکان اړ
د عدم په کنج کې ښې آسودګۍ وې
د وجود پر مېنه ډېر سوه په هجران اړ
چې لري ورکړه له هغو څخه کبرې
وبې نه سپموم څوک دی د ارمان اړ
چې پوره دی یو غني پروردګار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورتـــــه شـــــاه او ګـــــدا دواړه د جهـــــان اړ
کائنــــات يــــې پيــــدا کــــړي او ســــاتلي
چې قــدرت کــې يــې بــې ســتني دی آســمان اړ
پــــر ســــپېرو خــــاورو دانــــې د تخــــم پاشــــي
پــــه لــــو هيلــــه وي د فضــــل د بــــاران اړ
هيلــــه ښــــه ده اســــتغنا دي خپــــل تــــاوان دی
خــو تــه اړ يــې درتــه نــه دی پــاک ســبحان اړ
د زړه غوښــــې مــــې خــــوړې دي و غمــــو تــــه
کــــه هــــر چېــــري پــــه عســــلو وي مچــــان اړ
لــــو تنګســــه ده راپــــه خــــوا کريمــــه خدايــــه
چــې د مــرګ محصــل زمــا ســې پــه ګر يــوان اړ
"رحمت الله" د خپل حبيب په مرسته خـلاص کــې
د بــــې وزلــــو پــــه کــــارو وي مربيــــان اړ.

## ۱-۲۰ بېنوا

ښاغلی عبدالروّف بېنوا د حاجي عبدالله زوی د پښتو ژبې لــه لمــړی درجــې ليکوالو او پخو اديبانو څخه دی، هغه ستر خدمتونه چې ده د خپلې مورنی ژبې د تقويې په لار کې کړي دي او کوي يې د ډېري ستاينې وړ دي، دی که څه هم په فارسي ژبه ښه خوندور مضامين ليکلای سي مګر عشق او علاقــه يــې لــه پښتو سره زياته ده.

يو څو عمر د پښتو ټولنې مدير و، بيا د داخلي نشــر ياتو پــه عمــومي مديريت مقرره سو اوس په دهلي کې مطبوعاتي آتشه دی.

بېنوا يو عالم او د ملي احساساتو لرونکی سړی دی، په عربي، اردو او انګليسي ژبو ښه پوهېږي، د ليکني طرز يې عموماً ادبي او اجتماعي دی، کلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله پر بعضو مجهولو تاریخي قضایاو باندې هم رڼا اچوي، د شعر لیک یې روان دی کومه پېچېده ګي او مغلقتوب نه لري.**

**۱-۲۰-۱ د بېنوا چاپ شوي آثار:**

1 **میرویس نیکه**

2 **پښتنې مېرمنې**

3 **ادبي فنون**

4 **چند آهنګ ملی**

5 **د غنمو وږی**

6 **د دار مستتر پښتو څېړنې**

7 **د ګیتانجلي ترجمه**

8 **د پښتو کلي 4 ټوک**

9 **د پیرمحمد کاکړ او رحمان بابا دېوانونه د ده په تصحیح او تدوین سره چاپ سوي دي.**

10 **نظری به پښتونستان، یوه وړوکې رساله ده.**

11 **د اقبال د مسافر ترجمه**

12 **پښتونستان**

13 **خوشحال ختک څه وایي؟**

**۱-۲۰-۲ د کلام نمونه :**

**دا هم ژوند**
**څه خبر یم چې ژوندون دی**
**نه مو رنګ سته نه مو بوی سته**
**پخوا و اوس څله نه یو**
**او که ښورو خوشي هسي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځان لوړو خوشي هسي
دا نه ګورو خوشي هسي
نه صغری ستپه نه کبری ستپه
هیڅ قیاس کولای نه سم
هر څه ځمه تاریکې ده
هر څه سترګي سره کش کړم
دغه مړ دی هغه مړ دی
هیڅ رڼا نه راښکار یږي
یو بینا نه راښکار یږي
څه وینا نه راښکار یږي
کار د زړه او د مغزو هیڅ
زه په لاس کولای نه سم
څوک ځي پورته څوک ځي کښته
سترګي روښي څه نه وینو
د ځان شهد ګندیر بولو
دا د دې مهال ناورین دی
روڼ چینې راته خورین دی
د بل مرچ راته شیرین دی
کله پاځو کله پر یوزو
ټینګ اساس تړلای نه سم
په دیوال کې کوږ سوری دی
رنګ د ګل خوند یې د پیاز دی
ته یې بیم بولې ځان باز کړې
خو بونکی ځني خوځیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هر سړی باندې غولېږي**
**هر مرغه تر ېنه بېر ېږي**
**د وجدان وجدان نارې دي**
**خو يې زه ليدلای نه سم**
**که ته ولاړې پر غلطه**
**ته مې ولې په سنګړه**
**د کلو چوپړ چې زما و**
**او ما لار درته ښووله**
**بل ته هم وايې چې وله**
**هغه تول ولاړی پر بله**
**په زرو ښېګڼې وکړم**
**يو شاباس موندلای نه سم**
**وزر سته الوته نسته**
**خوله لرو ږغېده نسته**
**خپل پايخې مو زولنې سوې**
**چا مات کړی مو وزر دی**
**دا د کو جادو اثر دی**
**ځکه حال داسې ابتر دی**
**زړه مې سوځي خوله مې پټه**
**د زړه درد ښودلای نه سم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۲۱ رشاد

د ښاغلي رشاد پلار عبدالغفور نومېدی. رشاد یو ځیرک، خوش خلقه، حق ویونکی او حساس ځلمی دی، چاپلوسي او مداحي نه خوښوي.

رشاد په 1312 سنه کې د عمر پر اتم کال باندې له مکتبه ښخه په اعلی درجه سره فارغ التحصیل سو او پسله هغې یې خصوصي تحصیل هم وکړ، په اردو، انګلیسي، عربي، هندي ژبو ښه پوهېږي او د سانسکریت سره هم آشنایي لري او په عین حال کې ښه خطاط هم دی.

ښاغلی رشاد په 1312 کې د قندهار په مطبعه کې د مصحح په حیث مقرره سو، وروسته د قندهار د دریم مکتب په معلمي سره مقرره سو، تقریباً اته یا نه کاله یې د قندهار په ابتدایي مکاتبو کې معلمي او سرمعلمي وکړه، په پای کې یې په 1322 سنه کې له معارف ښخه د ښه خدمت جواز واخیست او د ارزاقو د شرکت د شکري په شعبه کې د نماینده په حیث مقرره سو، دوه کاله یې همدغه کار وکی او پسله هغې ښخه بیا د زرغون شرکت د محاسبې سرکاتب وټاکل سو.

په 1325 سنه کې چې د بلدیې په وکالت سره انتخاپ او د بلدیې د انجمن په ریاست سره مقرره سو، دغه دوره یې لا نه وه پوره کړې چې د بلدیې ټولو وکیلانو د پاک نفسۍ او صداقت سره د بلدیې په معاونۍ مقرر کړ، شپږ میاشتي یې د بلدیې معاوني وکړه په پای کې یې د ځینو معاذیرو له کبله د بلدیې ښخه د جواز خواهش وکړ، او د ښه خدمت د تصدیق جواز ورکړه سو. وروسته تر دې بیا اقتصادي شعباتو ته ولاړی او د چمن د ایجنسي د ریاست له خوا ښخه د دهلي په نمایندګي سره مقرر سو، تقریباً درې کاله یې د نوموړي نمایندګۍ دنده په ښه صورت سره اجرا کړه، وختي چې د ایجنسي ریاست لغوه سو دستي پښتون شرکت د خپل نماینده په حیث سره په بمبی کې مقرره کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه کاله یې هلته نمایندګي وکړه، په پای کې ډېري پردېسۍ او جلاوطنۍ زړه ور ټوکر ټوکر کړ بیرته وطن ته راغی او دلته یې د مرستون د ریاست په معاونۍ سره تقرر پیدا کی، اوس اورم چې د سترګو د خوږ له امله بېکاره دی.

**۱-۲۱-۱ د رشاد شعر او شاعري:**

رشاد زموږ د وطن له ښو شعراو څخه دی، چې په پښتو او فارسي شعر لیکلای سي، مګر سلاست د پښتو د شعر یې تر فارسي زیات دی، هر وخت چې یې زه منظومې وایم دا ګمان کوم چې د شیدا یا حمید یو تکړه شاګرد دی او یا بل میرزا حنان په قندهار کې پیدا سوی دی، اشعار یې ټوله اصلاحي، اجتماعي او اخلاقي دي، د عشقي اشعارو له ویلو څخه یې بد راځي، رشاد یوازي نظم لیکونکی نه دی، د نثر د مضامینو په لیکلو کې په فارسي او پښتو کې لوی لاس لري، اکثر منثور او منظوم مضامین یې د طلوع افغان او اتفاق اسلام په ورځپاڼه کې او د کابل په مجله کې نشر سوي دي، ځیني اردو مضامین یې د هند د همدرد سرحد او پایل په مجله کې هم زما تر نظر تېر سوي دي.

**۱-۲۱-۲ د رشاد تالیفات:**

رشاد یو منظوم کتاب (د بېلتون رږغ) په نامه سره لیکلی دی، او بل کتاب یې د قندهار تذکره الاولیاء نومېږي، اوس د ابوبکر صدیقد کتاب په لیکلو سره بوخت دی.

**۱-۲۱-۳ د کلام نمونه یې دا ده:**

مسلمانه ! یو وار وګوره یهود ته
چې پر خپله ککری خېژي مقصود ته
د بري په مینه مري په هغه اور کې
چې یې ته نزدې کېدای نه سې و دود ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی په سر لوبي کوي د ننګ په ډاګ کې
تا ژوندون دی وقف کړی چنګ و عود ته
دوی ملا وتړله پاڅېدل خدمت کا
ته مجبور کړلې غفلت آرام قعود ته
لر غیرت راله په کار دی د زړه څوکې
لر کاته راله باید دي خپل خمود ته
لاس تر زني مه کښېنه زړګیه پاڅه
مایوس مه سه کار کوه و خپل بهبود ته
د هغه له خوا ورکړه سي واک و لاس ته
چې غماشه لېږي قتل د نمرود ته
په وړو شګو کې واک د بم مونده کړي
ابابیلي ګماري جنګ د مردود ته
د هر بت په پښو کې مه لغړه هوښیار سه
د بري هیله ور وړه برحق معبود ته
شلم قرن يې څرک ویوست په اتهام کې
د ښرا تاثیر چې و و نوح و هود ته
د دردمن زړه په لاسو کې سره واوښت
چې فولاد لکه موم نرم سو داود ته
چې خلیل يې د نمرود اور کې وسات
او په )کن( سرې عالم راغی وجود ته
خدای لوړ کړی په هیڅا نه غوزار ېږي
که لرو مور عقیده امر موعود ته
خدای مو لوی دی دین مو لوړ دی مؤّمنانو!
دا مژده به رسوو و هر مولود ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چــې یــې ســوې دېرونــه د قــام پــه عشــق ده
دا د زړه وینـــې لېـــږئ هغـــه مســـعود تـــه
دوی تېـــر ژغـــوري ځـــان اچـــوي خطـــر تـــه
ته کــه وس مــومې تېــر ســوځې خپــل ســود تــه
ســـترګي وپرانځـــه قـــدرت ګـــوره "رشـــاده! "
چــې لا ځــه راځــي لــه غیبــو ځخــه شــهود تــه

نوټ:

د ښاغلي رشاد پورتنی سوانح د ښاغلي (ج) په قلم لیکل ســوې او د کابل مجلې د (1327) کال په (18) ګڼه کې خپره ســوې ده، مــا پــه لــږ تغیــر او تصرف سره رانقل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۲۲ خواخوږی

محمدابراهیم خواخوږی د درمحمد زوی، زموږ د ګران وطن له ښو لیکوالو او د خوږو طبعو لرونکو شاعرانو څخه دی، چې په منثورو او منظومو مضامینو کې ښه رانه ادبي تخیلات ځایولای سي، د لیکني طرز یې روان او اجتماعي دی، ګاهي وختي د عشقي شعر ټوټې چې ادبي خوند هم لري لیکې.

دی د (1299ش) کال د حوت پر (۹) نېټه باندې په ماله جات نومي ځای کې چې د قندهار د ښار و جنوب غربي پلو ته واقع دی زېږېدلی او په (1306 ش) سنه کې و ښوونځي ته داخل سوی دی، په (1318 ش) سنه کې د حبیبیې د لېسې ښوونکی او په (1325) سنه کې د قندهار د لیلیې د مکتب منتظم و، وختي چې په (1327 ش) سنه کې نوموړی مکتب لغوه سو نو د احمدشاه بابا و لېسې ته تبدیل او هلته یې د لوړو صنفو د پښتو، تاریخ او جغرافیې د مضامینو په معلمي سره تقرر پیدا کی، اوس د هندوانو د ابتدایي ښوونځي معلم دی، خواخوږی یو متواضع او د ښو احساساتو لرونکی ځوان دی، له هر چا سره په هره موقع کې خواخوږي توب او همدردي ښکاره کوي، که څه هم خورا ډېر مضامین یې په انیس، کابل مجله، طلوع افغان، عرفان او اتفاق اسلام کې خپاره سوي دي، مګر لاندنی منظومه دي ګران ویونکې د نمونې په ډول سره ولولي:

### ۱-۲۲-۱ د خواخوږي د شعر نمونه:

### په قرآن سره نازېږمه

زه یمه پښتون تر پښتونوالي تل جارېږمه
پاک دین مي اسلام دی، په قرآن سره نازېږمه
خپلو دیني ورونو ته په سره او مال ولاړي یم زه
مست یم په الست کله د چا څخه ببرېږمه
څوک که تجاوز وکړي زما پر پښتون قوم باندې
سر به یې کم پرې په قرآني امر جنګېږمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هغه زمــری یــم چــې دنیــا بــه رېږدېــده لــه مــا
اوس هـــم پـــه مېرانـــه او غیـــرت ســـره یادېږمـــه
وینـــه مـــي تـــوده ده پښـــتني ننـــګ او همـــت لـــرم
کلــــــه د انګلـــــیس د غلامـــــانو غلامېږمـــــــه
پاته که نـړۍ ســي پـر شـرف او پـه نـاموس بانـدې
زه یمـــه خوشـــحال کلـــه د مـــرګ څخـــه ډارېږمـــه
پـــه ســـل واره ورکـــړی امتحـــان د ســـربازۍ دی مـــا
کلـــه د ابلـــیس پـــه چـــل و ول بانـــدې غولیږمـــه
یو لاس کې قرآن او پـه بـل تـوره ځـم میـدان لـره
وژنـــم منـــافق د دیـــن دښـــمن پـــرې غـــازي کېږمـــه
خوښ اوسه هیواده هر ځلمی دي دی "خواخوږی" نـن
ځوز دي مـا تـه ګـل دی، د بـورا پـه شـان کرېږمـه

## ۱-۲۳ سید

مرحوم سید حسین سید د سید مبین شاه مرحوم زوی، د قندهار د حســیني ساداتو څخه و، د مرحوم سید تعلیم او تحصیل ټوله د خصوصي معلمینو څخه او زیاتره برخه یې د ځوانۍ په زمانه کې د خپل شوق و ذوق او زیار و کوښــښ تر سیوري لاندي حاصل کړې وه، مرحوم سید چې ډېر لاس درلـود هغـه پـه فارسي ادبیاتو کې و، او د فارسي ادب سره یې ډېره مینــه درلــوده. د فارســي ادب د نزاکت، سلاست او د متوسطینو د آثارو سره یې عموماً مینه درلــوده او ښه ذوق یې ځني حاصل کړی و. مرحوم سید د فارسي ادب د عشقي او غــرام او ډېري مطالعې په اثر چې د ځوانۍ د ابتدا څخه یــې علاقــه منــدي ورســره موندلې او پټي سترګي یې د همدغه ادب پر ښکلا روني سوي وې په آخره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شعري قريحې او د نظم قوه موندلې، ښه ښه ژوندي او خوندورو اشـعارو تـه يې لاس ورته کړ.
د فارسي ادب په ټولو اقسامو کې يې، لکه غزليات، رباعيات، مخمسات، قصايد او په نورو کې يې پوره اقتـدار درلـود، مرحـوم سـيد پـه مثنـوي او وصـفي موضوعاتو کې د فردوسي د شاهنامې سره په آهنګ کې ډېر مشابه و، بحر خو يې عيناً د شاهنامې بحر و، مګر د کلماتو او الفاظو په اختيار او ټاکلو کـې هـم ډېر اعلی او خورا شوخ او برجسته الفاظ چې د مقام او موقـع سـره پـه پـوره مناسب او د حالت يو ژوندی تصوير به يې ځني مجسم سو په خپل وصفي نظم کې ځايول. د مرحوم سيد د وصفي مثنوي نظم قصه ده، خپله ما نـه ده کتلـې مګر ده ويل ما د (19) کالو په عمر تقريباً درې زره (3000) بيته د مرحوم سـردار محمدعثمان د نائب الحکومګی په عصر کې د نهر سراج د ويالي د جوړولو پـه مناسبت وليکله او د هغه سردار په حضور مـې ولوسـتله چـې سـامعين يـې محظوظ بلکې متحير کړه، دا مي ځني اروېـدلي وه چـې دا اثـر محمـدعالم د قندهار پخواني فرقه مشر چې له ادب او ادبياتو سره خاصه مينه لـري، ځنـي وړی دی، مرحوم سيد د دغي خدای ورکړي فارسي شعر د قريحې پـه قـوه د پښتو ملي ژبې د نهضت دورې ته رالوېدلی، د يوې خوا څخه د وخت په ايجاب او له بلي خوا څخه د خپلې وظيفې په حکم يعني د هغه وختـه څخـه چـې د قندهار د طلوع افغان د اخبار سره يې پېژندلي دي خپلې ملي ژبې ته هم ډېـر خدمتونه وکړه، او د طلوع افغان د اخبار او د قندهار د پښتو انجمـن د مجلـې سره يې د تاسيس له ابتدا څخه بيا د مرګ تر ټال پـورې ښـې ښـې مرسـتي کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۲۳-۱ د سید د ماموریت دوره:

مرحوم سید اوله پلا ماموریت ته د کتابت له لاري ورغلی، څو د ګرشک د لوی حکومت په منشي ګري مقرر سو، تر دغه منشي ګرۍ وروسته د ده غوږ تـه د اخبار نوم وررسېږي او د طلوع افغان د تاسیس په دوهم کال د طلوع افغـان د چاپخـانې کـاپي نـویس مقرر بـږي او پـه آخـر کـې د لیتـوګراف (سـنګي ماشین)تنظیم او ترتیب په ده پورې ارتباط نیسي، دا تر هغـو پـورې وه چـې مطبعه محدوده او یوازي طلوع افغان ځني راووت، هغـه وخـت چـې د پښـتو مجله هم په قندهار کې تاسیس او طبعاً مطبعې وسعت وموند، مرحوم سـید د مطبعې د رسمي او مستقل منتظم په حیث مقرره سو. سـید پـه دغـه حیـث تقریباً څلور کاله دوام وکی څو د مطبوعاتو مستقل ریاست تاسیس سو او پـه (1319) کال کې مرحوم سید د قندهار د مطبوعاتو د مدیریت په معاوني رسـماً مقرر او په عین حال کې د قندهار د پښتو د کورسو د ماموریت وظیفه هـم ور وسپارله سوه، لنډه دا چې مرحوم حسین سید د (25) کالو څخه اول د طلـوع افغان په نامه او وروسته د مطبوعاتو په نامه د خپل ښار د اخباره سـره ډېـري مرستي له مختلفو جنبو څخه کړي دي، ځکه چې دی نه یوازي د قندهار بلکې زموږ د وطن د معروفو او مشهورو خطاطانو څخه و، نو د طلوع افغـان د لمـړي ژوند ورځې چې په هغه وخت کې د مطبعې وسایل محدود او مساعد نـه وه، د ده خدمات او مرستي ډېري د ستاینې وړ او نـه هېر بـدونکې دي، بالخاصـه د طلوع افغان د نظم او پښتو شعر او ادب په برخه کې د مرحوم سید ډېر ممنون او د پښتو قصایدو او منظومو دروازه تقریباً ده ورتـه وپرانیسـتله، چـې د دې خبري شاهد د طلوع افغان د (10)(15) کالو ګڼې او د ده اخلاقـي او اجتمـاعي، اصلاحي او غزلي ټوټې دي.

مرحوم سید یو صادق، وطن پرسته، پاک باطنه، او د پښتو ادب ماهر فـرد و او په عین حال کې د خط او خطاطۍ، میناتورۍ د ښکلي فن یو تکړه استاد و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مرحوم سید په (۱۳۶۹ قمري سنه) کې له دنیا څخه سترګي پټي کړې.**

**۱-۲۳-۲ د کلام نمونه :**

**یاره نه لرم ولور**

**زوم وايي-:**

**پخوا لا تر دې ښه وم ګرزېدم به د خپل سر**

**کوزده نه وه بلا وه تر پخوا سومه بدتر**

**یاره نه لرم ولور**

**پر ما ایښي له سره خسر دي پنځوس زره**

**ولور نه کاملېږي خرڅومه خپل ډګر**

**یاره نه لرم ولور**

**دا مهر دی که حمله دا کومه مسئله ده**

**ولور که خرڅېده دي د انسان نوع بشر**

**یاره نه لرم ولور**

**نکاح راته ماتم دی، کوزده نه ده یو غم دی**

**خسر بابا کړه غصب که مي غوا ده که سخندر**

**یاره نه لرم ولور**

**کلونه دي تېرېږي رسمونه دي ډېرېږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پور يې لېونی کړم د خسر بابا ټبر

ياره نه لرم ولور

دا څه دود و دستور دی دا کله بيا ضرور دی

چې خوار لا په خوار يږي يا به پروت وي پر ټټر

ياره نه لرم ولور

واده ولي څنډيږي دود وار په وار غمېږي

خوښي لا راته ګوري پاته نور زر و زېور

ياره نه لرم ولور

دوستي که دښمني ده، سيالي ده که ځواني ده

له سره نه پوهېږي دا مخلوق په خير و شر

ياره نه لرم ولور

شکوه کړم له بدحاله له داسي سخته جاله

په عذر نه خلاصېږم په زړګي مي ځي خنجر

ياره نه لرم ولور

خسر بابا که ښه وای پر ما بې وسيله وای

ما نه پر يږدي و کور ته راته وايي پيل و غر

ياره نه لرم ولور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څو دا ولور پوره سي زړګی به مي اره سي**

**په سړل به مي ماينه مري دی به ګرځي شملور**

**ياره نه لرم ولور**

**خسره بختوره پوره دي کړه څو زره؟**

**ګروي بې چا ته ورکړې زما سوې خاوري پر سر**

**ياره نه لرم ولور**

**خسر بابا چې موږ سو واده هم داسي جوړ سو**

**دوستي که دښمني ده سره ولو به په سخر**

**ياره نه لرم ولور**

**دا څه ډول واده دی دا سيل که مانده دی**

**په زر نه تاړه کېږي زوم يې يوور لکه پر**

**ياره نه لرم ولور**

**دېګونه دي مجمې دي، سالن دی کتلمې دي**

**واده په ډماډم سو فضول خرڅ که برابر**

**ياره نه لرم ولور**

**درې سوه نارينه دي نيازمني په بانه دي**

**فضول رسمونه ډېر سوه زوم په غم وهي غومبر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاره نه لرم ولور

خسر روپۍ راشه کړې و ځان ته یې خره کړې

جهیز به د لور ورکړي زوړ تلتک نوی تغر

یاره نه لرم ولور

دا ګټه کړې د وروره؟ هو یو دي وړه تر کوره

نو ها ! لاس مي پر ږیره که اخته نه سوې په شر

یاره نه لرم ولور

چې ورک مو اعتدال سو د هر چا په سر کې خیال سو

دغه دودونه ډېر سوه چې یې وکی بد اثر

یاره نه لرم ولور

"نه کور ورک نه به دود" و متل د پښتنو

پخوا به څوک خوښ نه وو یو د بله په ضرر

یاره نه لرم ولور

دا شعر بې درده نه دی د هر سړي په ښه دی

په کار دی هر موّمن او مسلمان لره هنر

یاره نه لرم ولور

"سید" چې نصیحت کړم خپل ځان به په عزت کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ويناوي مي پخپله پر ما ډېر كوي اثر**

**ياره نه لرم ولور**

**نوټ-:**

**د پورتنۍ سوانح مضمون ښاغلي واسعي ليكلــی او د ۱۳۹۶ ســنې د جمــادي الثاني په مياشت كې په طلوع افغان كې نشر سوی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۲۴ جانان

حاجي محمدشريف جانان د صوفي عبدالعزيز زوی، يو پــوه عــالم او دردمــن شاعر دي، چې د موسيقۍ په ټولو مقامو او ادبي صنايعو کې پــوره لاس لــري، تحصيل يې خصوصي او له خپل مشر ورور مرحوم ملا محمدشفيع آخند څخه چې يو جيد عالم و کړی دی، د هغه پوه بزرگوار د تعلــيم پــه برکــت او د ده د خپل فطري ځراکت په اثر سره اوس پــه اکثــرو متــداولو علومــو کــې د ښــو معلوماتو خښتن دی، دی په (1322 قمري) سنه کــې د قنــدهار پــه ښــار کــې زېږېدلی او په (1301 ش) سنه کې يې د کار په عالم کې پل ايښی دی، لمړی وار معلم و، په (1315 ش) سنه کې په وطن شرکت کې د ليکونکې پــه حيــث ســره مقرره سو، په (1319ش) کې د قندهار د مطبوعاتو مديريت ته راغــی لمــړی وار کاتب او بيا سرکاتب سو، اوس د درملتون د مدير کفيل دی، علاوه پر بيان سوو دندو باندې يې دا څو کاله کېږي چې د خپلې مورنۍ ژبــې پښــتو د ښــوونکې وظيفه هم پر اوږه باندې اخيستې ده. ده يو کتاب د بهار جانان پــه نامــه ســره چې د قندهار د مختلفو شعراو غزلي پکښې دي جــوړ کــړی او اوس د خپلــو اشعارو د ديوان په تدوين او ترتيب بوخت دی، جانان يو حق ويونکی او مجلس آرايه سړی دی. خبري يې پر چا باندې بدي او درنې نه پرېوزي، اشعار يې هــم نظمي او هم بزمي احساسات لري، نثر چنداني نه ليکې او د منظومو مضــامينو رنګ يې ګاهي اجتماعي او ګاهي عشقي وي.

**۱-۲۴-۱ د جانان د کلام نمونه:**

الهــــې ورک د پښـــــتانه کـــــړې دا دودونــــــه د غــــــم
چـــې پـــه ســـيالي ســـره پـــر خپلـــو ځـــانو کانـــدي ســـتم
راســـــه نظـــــر وکـــــه اې يـــــاره د واده پـــــر انجـــــام
هـــا دهـــوکې او د دســـــمال ســـيالي بـــه هـــم يـــادوم
ولور دي څو کښېښنو شرعي څو دي خپل ځـــان کـــی خبـــر
د ســـلو کـــالو دوســـتي ولـــي پـــه ولـــور ســـوه بـــرهم
څـــو دي قندونـــه څـــو دســـماله پـــه ترتيـــب کـــړه تيـــار
د دې دســـــمال رونـــــق د خـــــدای دپـــــاره زه درښـــــيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

فقط دوه قنده یو من نقل چې دي کړه برابر
یوه ټوټه قند څو دانې نقل تکلیف ډېر مه که سم
دغه اعلان د نکاح بس دی چې سنت سو پر ما
نور نو تکلیف نقصان پر ځان او پر بل مه که محکم
په کوم کتاب دي دېرش مجمې فالوده کړه یو پر بل
یاد برات او د اختر جوړې نه ورکې پرتم
د خوښۍ خوند یې فقط درې ورځې وي مقام د جنون
خسربابا پسونه وریجې غوړي غواړي یو دم
څو څراغان څو دي غابونه د سالن کړه کریهه
د سازنده یو زر روپۍ په کم کتاب سوې الزم
چوپان والا دوه سوه غواړي لا هنوز دی خفه
څو لنګوټې او څو چوخې د اقرباوو د زوم
پر چایو څه شي مرتب خشکېت لري هم ګرمي
څه وکم چای خورمه اودس په ډېر زحمت رسوم
د چلم دود ځګر پارچې پارچې مدام مې خړکی
د بل په جېب کې ورتوکم خیال د دوشۍ پر کوم
چې یې نسوار په خوله کې واچول نو سیل یې کوه
وایي نو وروړه په ډې ډېرش کاله نسوار زه کوم
اې وروره څه وکړم د زړه له درده کړمه پېښې
لړ لړ به سعیه کوو کړو به دا عبث شیان کم
نفس مقتضی دی چې دغسې سیالداري دي ول تل
اما "جانانه" دخل و خرڅ وسنجوه په قلم

ورک دي سي چایو چلم
ورک دي سي چایو چلم
چې مو خپل آن کی تمام
ورک دي سي چایو چلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کتاب خو زموږ دی رهبر**
**ورک دي سي چايو چلم**
**چې دي خپل ځان کی افگار**
**ورک دي سي چايو چلم**
**سړي که سل دي حاضر**
**ورک دي سي چايو چلم**
**زموږ د خيرالورا**
**ورک دي سي چايو چلم**
**هم مرواري جل و بل**
**ورک دي سي چايو چلم**
**تر خوله يې لوېږي لړمون**
**ورک دي سي چايو چلم**
**ولاړه د کور قباله**
**ورک دي سي چايو چلم**
**راسه چاره يې کوه**
**ورک دي سي چايو چلم**
**په سړي بولي کوي**
**ورک دي سي چايو چلم**
**پر روژه مات مي زگېروی**
**ورک دي سي چايو چلم**
**فقط توړی مورزاده**
**ورک دي سي چايو چلم**
**ومو ختلې ريښې**
**ورک دي سي چايو چلم**
**هنوز دي سي يو په سل**
**ورک دي سي چايو چلم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۲۵ واسعي

ښاغلی عبدالخالق واسعي د مرحوم عبدالواسع مشر زوی د قندهار په ښار کې زېږېدلی او لوی سوی دی، په عمر پنځوس کلن معلومېږي، له رنګه برابر سړی دی، د ده والد مولوي عبدالواسع یو مشهور علامه و، چې پخوا د پښتو مرکــې مشر و او نیکه یې حبیب الله اخوندزاده هم یو مشهور بزرګوار عالم تېر ســوی دی، دی د خپل نوم سره واسعي لیکې، او ځان خپل پلار ته منسوبوي، ښاغلي واسعي کتابونه له خپل پلار څخه لوستي دي، پــه مروجــه علومــو کــې پــوره دسترس لري، ذاتاً دی هم یو پوه او هوښیار دانسته سړی معلومېږي، د عربــي علومو پوره عالم دی او عصري معلومات هم په زیاته اندازه لــري. د ماموریــت دوره یې د 1300 څخه شروع کېږي، دی اول وار د پښتو په مرکه کې عضو مقرر سو او بیا په قندهار کې د ابتدایي او رشــدي مکــاتبو دورې تېــري کــړې، تــر انقلاب وروسته کوم وخت چې په قندهار کې پښتو انجمن جوړ سو نو دی هغه وخت د انجمن په عضویت وټاکل سو. ډېره زمانه په دغه انجمن کې د یو لایــق فاضل عضو په حیث شامل و، د پښتو د ژونــد پــه لار کــې یــې زیــات قلمــي زحمتونه ایستلي دي.

په هغه وخت کې یې د پښتو زیات مجهــول آثــار پیــدا کــړي دي او د ډېــرو شاعرانو نومونه یې ژوندي کړي دي، ده د دغه انجمن په عضویت کــې ځینــي کتابونه د عربي او فارسي څخه هم ترجمه کړي دي، په دې جمله کې د معارف د پروګرام څو کتابونه هم شامل دي او د حصون حمیدیه په نوم یو کتاب هم د ده په قلم د عربي څخه ترجمه سوی، د معلم پښتو په تالیف کــې هــم برخــه لري، واسعي د پښتو په لیکوالو کې د سبقت خاوند دی، افکار یــې اعتــدالي او متین دي، په پښتو کې د ژبې د اساسي اصولو طرفدار د اجنبي لغاتو د ایستلو مخالف دی، وایي چې دا پخپل لاس د ژبې یوه لویه پانګه له ګوتو ایســتل دي. په فارسي او پښتو دواړو کې ښه لیکــونکی دی، پــه عربــي او انګلیســي هــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېږي، اردو يې هم لږ لږ زده ده، واسعي د شعر سره ډېره علاقه نه لري نسبت و نثر ته شعر کم وايي. د انيس د پښتو محرري او د پښتو ټولنې د عضويت، د قندهار د مطبوعاتو د معاوني دورې يې تېرې کړې دي، اوس په ترانسپورت کې سرکاتب دی، د نثر مقالې او منظوم آثار يې په طلوع افغان، پښتو مجله، انيس کې په زياته اندازه پيدا کېږي.

**۱-۲۵-۱ د واسعي د کلام نمونه:**

**تياره او ښکلا**

تـــل يــې ګـــوره چـــې تيـــاره او ښـــکلا
دوه عنوانونـــــه د غـــــروب پـــــر کتـــــاب
ځير ورته ګـوره ! چـې ښـکلا هـر ماښـام
لـــه تـــا ببلېـــږي د تيـــارو پـــه حجـــاب
ټولـــه نـــړۍ بانـــدې آرام ســـي حـــاکم
چې لمر پښه کښېږدي د غـروب پـه رکـاب
ځو چـې سـهار سـي تيـاره مـخ ونيسـي
بيرتـــه عـــالم د ژونـــدون اور کـــړي کبـــاب

لمـــر د افـــق پـــر ژۍ جلـــي وليکـــل
چې عالم ړونـد دی هـم مغـرور هـم خطـا
آيـــا د ژونـــد فنـــا زوال نـــه وينـــي؟
لکـــه تيـــارو چـــې زمـــا رونـــا کـــړه تـــالا
کشکې لمر خپـل تـاريخ لـيکلای همـېش
چـــې څـــه پېـــړۍ دي رژېـــدلي پخـــوا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لمر نظام ته يو حيرت اخيستی
ختو لو پېدو يې سودايي کړه دنيا

نوټ :-

د ښاغلي واسعي د سوانح پورتنی مضمون د ښاغلي خادم په قلم ليکل سوی او د 1319کال په سالنامه کې خپور سوی دی، ما سره له لږ تصرف او زياتوالي رانقل کئ.

## ۱-۲۶ قاضي عبدالصمد

دی د قندهار له مشهورو علماوو څخه دی، چې عربي يې لوستلې او ډېر تدقيق پکښې لري، په صرف، نحو، فقه، حديث، حکمت کې پوره لاس لري او يو فصيح او بليغ سړی دی. قاضي صاحب په عمر 60 کلن معلومېږي او شخصي اخلاق يې ډېر شريفانه او ښه دي، د حلم او تواضع خاوند دی، مګر سره د دغه هم معتدل دی او په اخلاقو کې د اعتدال خوا لري.

قاضي صاحب شل کاله پخوا د قندهار په زمين داور کې قاضي و، مګر وروسته يې بيا قاضي توب نه دی کړی او نه يې کوي، ځکه چې دی يو محترم او معزز سړی دی او په خپل ښار کې يې خلک په ښه خلق پېژني او په فضيلت يې مني، نو هر کله دی خپل وکېل مقرر کوي، لکه چې دا څو دورې چې د قندهار په مرکزي مشوره کې وکېل و. قاضي صاحب يو عالم او د فضيلت خاوند دی، مګر دی د زاړه علم سره نوي معلومات هم لري او مخصوصاً په وطن کې د اصلاحاتو او ترقياتو طرفدار دی او هر کله په دې لار کې تبليغ کوي او صحيح افکار خلکو ته بيانوي. قاضي صاحب په فاړسي او پښتو کې قلم لري مګر نثر لږ ليکي، پښتو شعر يې اصلاحي رنګ لري او د خاص خونده ډک دی، دی کوښښ کوي چې ځيني اجتماعي معايب او مفاسد وغندي نو ځکه د ده اکثره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشعار هم په دغو موضوعاتو کې دي، قاضي صاحب په قندهار کې د يوې علمي کورنۍ څخه دی، چې خلک يې په تقوی او صلاح مشهوره وه.

**۱-۲۶-۱ د قاضي عبدالصمد د شعر نمونه:**

**د تللي دوران ياد**

پښتونه پروت يې لا تر څو تللی دوران دي څه سو؟
فرض واجب هم د اسلام عهد و پيمان دي څه سو؟
د توري برق دي و ښکاره ستا پر مشرق او مغرب
ګټلی نوم د شجاعت ښکلی جهان دي څه سو؟
د عافيت په کُنج کې ناست پر پلنګ خوب کړو د ناز
نه درياد بړي چې خپل تېر دور و نښان دي څه سو؟
د توري مېړي ورى که تور نه وي تور ټکی لري
د پلار اثر نسته پر تا هغه وجدان دي څه سو؟
چې په شپېتو سپرو يې فتح کړل ملکونه پردي
خان د برېڅو ښه نامداره فتح خان دي څه سو؟
چې و قايد د پښتنو او هم عابد و پښتون
هغه غازي نيکه حاجي ميرويس خان دي څه سو؟
چې بې په توره فتوحات کول و هري خوا ته
هغه ښاغلی احمدشاه پلار د افغان دي څه سو؟
د خلکو توان د زړو ارمان پر هر غريب مهربان
حاجي جمال د پښتنو د سپرو خان دي څه سو؟
چې په ليدو يې ربړد بدل مخالفين د اسلام
چې هم سردار و هم غازي محمداکبرخان دي څه سو؟
چې و منجي د پښتنو او هم غازي د وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـــه ښـــاغلی نادرخـــان شـــاه افغـــان دي څـــه ســـو؟
زېب و زينت که په ځان وکړې چې خوشــحاله نــه ســې
که در په ياد کې چې ها تېر غشی کمـــان دي څـــه ســـو؟

نوټ :-

د پورتنۍ سوانح مضمون کټ مټ د 1319 سنې د سالنامې څخه رانقل سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۲۷ مسلم

ښاغلی محمدرسول مسلم د محمدعلم زوی، یو پوه ادیب او نازکخیاله شــاعر دی، چې اشعار يې اجتماعي او اخلاقي جنبه زیاته لــري. د طلــوع افغــان پــه ورځپاڼه، کابل مجله او د پښتو په مجله کې يې مضامین زیات مینــدل کېــږي. دی د خپل نامه سره مسلم لیکې، دا يې پخوانی او زوړ تخلص دی، په اشــعارو کې هم له دې تخلص څخه کار اخلي، نسبت تر نثر يې د نظم و خــوا تــه میــل زیات دی، په پښتو او فارسي کې یو شانته لیکنه کــولای ســي، تحصــیل يــې خصوصي او په شخصي صورت سره دی، په عربي او اردو ژبه ډېر ښه پوهېږي، له انگلیسي څخه لږ لږ استفاده کولای سي، دې قابل قدره لیکــونکې د ډېــري مودې راپدېخوا ځان د شاعر او تکړه نویسنده په حیث سره ښکاره کــړی دی، په ماموریت کې يې د معلمی، مدیریت، او اطاق د منشي توب دورې تېري کړي دي، اوس د وطن په شرکت کې د اجرائیه مــامور دی، د بهشــتي زېــور مفیــد کتاب چې د دیني مسائلو خزانه او مخصوصاً د ښحو د معلوماتو لــه پــاره دی د ده په قلم له اردو څخه په پښتو ترجمه سوی دی، د مــلا نصــرالدین فکــاهي کلیات يې له عربي څخه په خوږه او دلچسپه ژبه پښتو کړي دي، بــل يــې لــه فارسي څخه مجموعه صحیه چې د روغتیا په باره کې دی پښتو کــړی دی. دا مجموعه نه ده چاپ سوې، د هزار و یک حکایت څخه يــې ځینــي حکایتونــه انتخاب او هغه پښتو ته را اړولي دي.

### ۱-۲۷-۱ د مسلم د کلام نمونه :

پښــتونه وروره ولــي نــه کــوې لــه ځانــه گلــه
بېځایــه وایــې غــر و پیــل کــړې لــه جهانــه گلــه
کور کړې خراب د مسلمان په شپه يې لوخ کــړې غریــب
چــې ســې بنــدي بیــا نــو کــوې لــه قوماندانــه گلــه
د خوني بــام دي نــه کــړ گــل نــاوه دي نــه کــړه جــوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چــې ژمــی راغــی ورانــه ســوه، کــړې لــه بارانــه ګلــه
بېکــــاره ګــــرځم ولــــي نــــه راځــــي ډوډۍ تيــــاره
لــه بــد طــالع څخــه شــاکې، کــړم لــه آســمانه ګلــه
مدام مي پښـې دي غزولـي مـلا مـي مـا تـه پـه کـار
چې مفت مي نـه سـاتي کـوم لـه فلانکـې خانـه ګلـه
د بل ډوډۍ تـه بـې عزتـه څـوړي سـترګي وي ناسـت
بــې حســه نــه کــوي د خپــل کښــته وجدانــه ګلــه
نسته پر چـا بانـدې منـت نـه ملامـت دی بـل څـوک
لـــه خپلـــه ځانـــه دي کـــوه "مســـلمه" ځوانـــه ګلـــه

نوټ :-

د پورتنۍ سوانح مضمون ښاغلي رشتين ليکلی دی، ما ســره لــه لــږ تصرف او تغيره رانقل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۲۸ نومیالی

محمدانور نومیالی د حاجي محمدنعیم زوی، ښــه پــوه لیکــونکی او د طبعــي لرونکی شاعر دی، قدیم علوم یې درساً ویلي او په نورو علومو کــې مطــالعوي عبور لري، د معلوماتو ساحه یې ډېره پراخه او د هوښ قوه یې هومره تېــزه ده چې د هر ناویلي کتاب مفهوم او لنډ مطلب په ډېره ساده او اسانه صورت ســره را ایستلای سي. د فلسفې او روحیاتو له علمه سره خاصه مینه لري او تــل پــه دې فکر کې دی چې د هغو د مجهولو قضایا وو حل دي په عملي صورت ســره وکې، چنانچه د دغه شوق او ذوق په اثر سره یې د فرویــد د روح مقناطیســي هیپنوتیزم تجربه کړي مسایل راغونډي کړي او یو کتاب یې ځني جــوړ کــړی دی او څو نوري متفرقي رسالې یې چې یوه یې د کرهنې او بلــه د طبعیینــو د طریقې ابطال او یوه هم د فراست په نامه دي، په طلوع کــې نشــر ســوي دي. اوس د یوه بل کتاب په لیکنه چې علم الروح نومېږي بوخت دی. پروسږ کال په ترانسپورت کې کاتب و اوس د ګرشک د انکشــاف د ریاســت د نشــریاتو پــه مدیریت کې کار کوي. د لیکني طرز یې اجتماعي دی، ګاهي وختــي فلســفي مضامین هم لیکې.

### ۱-۲۸-۱ د نومیالی د کلام نمونه :

د شاعر ژوند

هغــه رغ دی چــې بیــده زړونــه پــه پــاڅي
پــه آهنــګ یــې د آســمان ملکــې نــاڅي
د بهـــــار د عنـــــدلیب د زړه نغمـــــه ده
د کـــاروان د جـــرس ښـــکلې زمزمـــه ده
د شـــپانه د پردېســـي د نـــل آواز دی
د حکمـــت پـــه دفترونـــو کـــې یـــو راز دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښــه مظهــر دی د ســپېڅلو احساســاتو
فلســفه ده د خــوش رنګــو کائنــاتو
د روحــانو لــه دنیــا ســره آشــنا دی
د ښلتــون مــړو تــه دم د مســیحا دی
چــې د آهــه ســره وزي لــه ســینې څــه
تویــوي وینــي د ســترګو لــه چېنــې څــه
د دردونــــو نماینــــده د ځګــــر ږغ دی
څیروونکــــی همېشــــه د کانــــه غــــوږ دی
د ســــرتورو ېتــــوونکی حمایــــه ده
د یتــیم و بــې ســایې ســر تــه ســایه ده
دی زګېــروی د زکنــدن ســانده د بــورو
د ظــالم پــر کــوټي کــار کــوي د تــورو
د غریبــــو د غمجنــــو زړو قــــوت دی
و سرمســتو بــدایانو تــه آفــت دی
چــې د چــا د بخــت ډېــوه ســي پــه ده بلــه
ټولــوي د تــاریکۍ هــره کمبلــه
دغــه ږغ چــې پــه کــوم ځــای کــې موجودســي
هــره ورانــه یــې آبــاده پــه مســعود ســي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۲۹ حیدري

میر حیدر حیدري د ده په قول د 58 کــالو دی، یعنــي د هجــري شمســي پــه 1279چې د قمري هجري 1314 او د میلادي1895سره مساوي بلل کېږي پــه یــوه علمي او ادبي کورنۍ کې پیدا سوی دی. د ده کورنۍ له اوله تر آخــره پــورې د علم، فضل، پښتو او پښتونوالي په مینه شهرت لري، زه د خپلې همدې خبــري د مصداق له پاره دا لازمه ګڼم چې د ده د کورنۍ په شاوخوا کې تر هغــه حــده چې ما د نوموړي ادیب څخه معلومات حاصل کړی دي، و ګرانو لوســتونکو تــه تقدیم کړم.

### ۱-۲۹-۱ د پښتون ناظم میر حیدر کورنۍ:

پښتون ناظم د فیض الله صاحبزاده یاسین زي زوی او د افغانســتان د جنــوبي خوا کټواز نومي مشهور ځای و او په کټوار کې بیا د عرض بیګي نــومي کلــي و، فیض الله صاحبزاده خپل لومړني تحصیلات د کټواز په همدې کلي کې وکــړه، وروسته تر هغه د درس لوستلو او انجامولو له پاره د هندوستان و خوا تــه ولاړ، چې د هندوستان له علماوو څخه هم استفاده وکړي او په هند کې یــې مــروج کتابونه ولوستل، خو بیا هم د ده هغه د مینې تنده چې ده د علم سره درلــوده نه سوه ماته او د هند څخه و ایران او له ایران څخه د عربي ممالکو و خــوا تــه ولاړ، په دغه دباندني ملکو کې فیض الله صاحبزاده فقه، د فقه اصــول، میــراث (علم الفرائض)، احادیث، تفاسیر، صرف، نحوه، علم المعاني، منطــق، حکمــت، ریاضي چې هغه وخت د همدې علومو ویل رواج وو، وویل. که څه هم ده علوم په عربي ویلي وو، مګر په فارسي یې اشعار ویلای سول، او د غمګین د مثنــوي په نامه یې یو مکمل کتاب په فارسي ژبه لیکلی دی، خو سره له دومره قــدرت لرلو ده خپله پښتو هېره نه کړه او په پښتو یې خورا ډېر اشعار وویل، مګر زمــا لاس ته رانغلل صرف د نمونې په توګه د ده دا دوه د پښتو بیتونه وګورئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هيڅ ډول مي د يار ديدن پرې نه ښود
که هــــــر څــو و د رقيب راته تل غر ېږ
د رقــيب په لاپو شـــــاپو بندواز نه وم
هجران سو زمري رامات يې کړ اورمبږ

په همدې ډول د فيض الله صاحبزاده اکا محمدعمر صاحبزاده هم د پښتو سره ډېره علاقه درلوده، چې د خپلې علاقې په اثر يې (درمختار) تــول پــه پښــتو منظوم کړی او نن هم د ده د لمسي يعني عبدالله صاحبزاده څخه موجــود دی. د سيد فيض الله صاحبزاده ورور چې عبدالکريم صاحبزاده نومېدی، هم عــالم او د پښتو ژبې يو ښه شاعر و، د اشعارو مجموعه يې زما و لاس ته نه ده راغلې، مګر دا يو څو بيته يې لاس ته راغلل :

چـــې بـــدر د نـــاخن هـــلال پـــر ســـر کـــړ
لمرله شرمه ســـر پـــه ځـــای د مـــازيګرکړ
قد زېبا ستا چې سر لوړ کـــړ لهشمشـــاده
ســـروي ســـر د ســـلامی پـــه زانـــو ورکـــړ

## ۱-۲۹-۲ د مير حيدر حيدري د پښتون ناظم د تحصيل دوره :

څرنګه چې د پښتون ناظم پلار په کوچنيوالي کـــې مـــړ دی؟، نـــو دی وايي چې زما اکا د کټواز د عرض بيګي له کلي څخـــه د قنـــدهار د ارغنـــداب و جوی لاهور نومي کلي ته په کډه ولاړ او زه يې هم د ځان سره بـــوتلم او خپـــل ابتدايي تحصيل مي له خپل اکا څخه وکړ، وروسته تر هغـــه د قنـــدهار د لاري پښين او د پښين په شاوخوا کې په تحصيل بوخت ســـوم، فقـــه، ادبـــي علـــوم، صرف او نحو، احاديث، تفاسير مي په همدې سفرونو کې وويـــل او پـــه همـــدې سلسله کې تر کوهاټه پورې ما د علم له پـــاره ســـفر تـــه دوام ورکـــړ او بيرتـــه قندهار ته راغلم. په قندهار کې د څه عمر له پاره په خپل کور کې وم خـــو بيـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم زه خپل اکا تشویقولم چې خپل تحصیل ته دوام ورکړم او ما هم د علم ډېر شوق درلود، هغه و چې د قندهاره بیا و چمن ته ولاړم او دا وار مې سفر تر دهلي، اګرې او مدراسه پورې اوږد سو او بیا په مدراس کې ما د علامه مولوي صاحب ابوالوفا قندهاري د علم شهرت واروېد او بېله ځنډه مې د دکن حیدرآباد و خوا ته چې نوموړی مولوي صاحب دغلته و، عزم وکړ او د ده د شاګردانو په ډله کې حساب سوم. دا پښتون ناظم په قام یاسین زی دی چې د پښین د اوسېدونکو یو خیل دی، دی اوس د قلات په خاله کې استوګنه لري.

## ۱-۲۹-۳ د پښتون ناظم د پښتو سره د مینې پیدا کولو عوامل :

که څه هم د ده مینه د خپلې پښتو ژبې سره ډېره او د خپل اکا عبدالکریم صاحب زاده شاعر په لاس د ده روزنه سوې او دی هم د پښتو د مینې او محبت سره آشنا و، خو بیا هم د مولوي ابولوفای قندهاري صحبت پر ده اثر وکړ، مولوي ابوالوفا صاحب د هند په حیدرآباد کې اوس یو لوی پښتون عالم دی او د قندهار په طلوع افغان کې یي اشتراک درلود، کله چې به دغه اخبار راورسېد نو پښتون ناظم به هغه لوست او د خپل استاد په توصیه به یې ورځ په ورځ مینه لا هم ډېرېدله او د زماني غیب اللسان سوځوونکې اشعارو به دی و خپلې خوا ته لکه کهربا کشاوه، او د رحمان بابا دې بیت :-

که چا لار د عاشقۍ وي ورکه کړې
زه "رحمان" د عاشقانو رهنما یم

په مصداق به یې ده ته د خپلې ژبې سره د عشق رهنمایي کوله.

## ۱-۲۹-۴ د پښتون ناظم د شاعرۍ دوره :

پښتون ناظم چې خپل هغه علوم چې ده د مولوي ابوالوفا صاحب څخه ویل و پای ته ورسول نو سمدستي د قندهار و خوا ته را رهي سو او تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله کوره يې ځان راورساوه، د ده و کور تــه رارســېدل او د نظمونــو شــروع کېدل و، اول وار چې ده کوم کتاب منظوم کړی دی هغه د فقي يو کتاب و، چې د والاحضرت سردار محمدهاشم خان د افغانستان د فقيد صدراعظم پــه نامــه يې مسمّٰی کړ او نوم يې تحفــأ الهاشميه کښېښود، دا کتــاب د900بيتونــو پــه حدودو کې ليکل سوی دی، پس له دغه يې د ميراث علم الفــرائض يــو کتــاب منظوم کړ چې نوم يې د ميراث رساله وه او په 750بيتو کــې ليکــل ســوی دی. څرنګه چې دا کتاب خلاص سو ښېله دې څخه چې دی دا کتابونه د چاپ له پاره و چا ته ورکړي او څوک يې تشويق او ترغيب کړي، ده د بل کتــاب پــه ليکلــو پيل وکړ چې دا کتاب د بيالوژی کتاب دی، او ده يې نوم پوره انسان ايښی دی او د انسان د اعضاو تشريحي موضوع ده او 1500بيتونه پکښې ليکل ســوي دي او يو کتاب د ادبي حکاياتو په نامه چې1000بيتــه دی او هــم د پوهــانو افکــار چې1500 بيتو ته رسېږي او بل د افغانستان مجمل تاريخ دی چــې 3000 بيتــه دی.

## ۱-۲۹-۵ د پښتون ناظم د مطبوعاتو سره پېژندګلوي :

دی وايي چې ما په 37 کلنۍ کې د يوه اسلامي تاريخ د نظم په ليکلــو پيل وکړ او دا تاريخ مي په 300 بيتو کې وليکه او د مطبوعاتو و رياست ته مــي راوړ، څرنګه چې د هغه وخت د مطبوعاتو مستقل رئيس ښاغلی صلاح الــدين سلجوقي و نو ده زما کتاب وليد او وې ويل چې زه خو په پښتو نه پوهېږم کــه څه هم ستا نظمونه و ما ته سليس معلومېږي خو بيا هــم دا کتــاب زه و ادبــي ټولنې ته محول کوم چې دوی څه نظريه ليکې، څرنګه چې هغې ټــولنې هغــه تاريخ مجمل وباله او و ماته يې د مفصل تاريخ د نظم کولو هدايت راکړ، نــو مــا هم د هغې ورځې څخه د تاريخ په منظوم کولو شروع وکړه او آشــنايي مــي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطبوعاتو سره قایمه سوه، پس له دغه وختــه څخــه ده د افغانســتان د لــوی تاریخ په نظم کولو شروع وکړه او د خپل ټینګ عزم او نوي شاعرۍ په برکــت په دغه کار موّفق سو چې تر اوســه يــې د فردوســي د شــاهنامې پــه ډول دا وروسته منظوم تاریخونه ليکلي او چاپ ته آماده کړي دي :

1. تر اسلام دمخه د افغانستان تاریخ په 15000 بيتو کې.
2. د اسلام په ظهور کې د افغانستان تاریخ په 4500بيتو کې.
3. د ميرويس نيکه تاریخ په 2500بيتو کې.
4. د احمدشاه بابا تاریخ په 3000 بيتو کې.
5. په نونسم قرن کې د افغانستان تاریخ په 9000بيتو کې.
6. د کوشانيانو تاریخ په 4000بيتو کې.

د دغو ټولو اوسنيو تاریخونو مجموعه چې ده منظوم کړي دي 35740 بيتو ته رسيږي.

څرنګه چې ما ته د ده د خبرو څخه ښکاريږي دی دا کــار و ســر تــه رسېدلی نه بولي او نه په دې کار کې په پښتني خدمت د پښتو په لار کې ځان ستړی بولي، د ده د احمدشاه بابا د تاریخ له 3000بيتو څخه لانــدني بيتونــه د نمونې په ډول رانقلوم :

## ۱-۲۹-۶ د حيدري د شعرنمونه:

د احمدشاه بابا خويونه

چـــې ږغيـــږي مـــوّرخين لـــه دې ټولواکـــه
ګانــه کبـــږي معتـــدل شـــاه لـــه اخلاقـــه
ډيـــر پابنـــد د اوامـــرو مـــذهبي و
ولاړ ټينـــګ پـــر عـــرف عـــاداتو پښـــتني و

(c) ketabton.com: The Digital Library

چـــې اعمـــال افعـــال د ده تـــه کاتـــه کېـــږي
لـــــه شـــــاهانو عـــــادلانو حســـــابېږي
ټولـــواک کـــړ وصـــيت زامنـــو تـــه تـــل داســـي
مجرمـــان چـــې هـــيڅ وخـــت نـــه کـــړي مثـــل تاســـي
بـــل ويلـــي دوی تـــه داســـي وه نومـــوړي
لـــه کورشـــه د ځـــان منـــع کـــی وگـــړي
بحـــث مجلـــس د علمـــاوو بـــه همـــېش کـــړئ
او حرمـــت بـــه د ســـيد او د دروېـــش کـــړئ
د ټولـــواک دينـــداره زښـــته ډېـــر عـــزت و
لـــه غيرتـــه يـــې همـــدا رنگـــه حالـــت و
گنهکـــار يـــې لـــه گنـــاه کولـــه تېـــره
لـــه ضـــعيف ســـره يـــې کـــړه کمينـــي ډېـــره
ظالمـــــانو او غلـــــيم تـــــه داســـــي وړ و
ډار يـــې نـــه کـــاوه همـــېش بـــه پـــه کـــاروړ و
لـــه دينـــي عزتـــه هـــيڅ وخـــت خـــالي نـــه و
او دغـــه شـــاني يـــې تعصـــب ملـــي نـــه و
د خپل ملک په نېک مشفق په شـان د پـلار و
پـــر مجرمـــانو د خـــارج بانـــدې قهـــار و
دا ټولـــواک و جـــوانمرد حـــق پېژنـــدونکی
د احســـان پـــه هـــيڅ وخـــت نـــه و هېروونکـــی
لـــه نـــادره چـــې احســـان و شـــاه ليـــدلی
کـــور د ده يـــې لـــه تاراجـــه و ســـاتلی
د ښـــاغلي چـــا ليـــدلی امســـاک نـــه و
ډار او حـــس او تکبـــر د ټولـــواک نـــه و
ښـــه اعمـــال صـــالحه يـــې پـــه دې شـــان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــه همـــت او بزرګـــي يـــې شـــاهدان دي
نـــو پـــه دې حيـــث مـــوّرخين پښـــتانه واړه
مدحـــه کـــړي د دې ټولـــواک پـــه لـــوړه غـــاړه
او اکثـــــره پښـــــتانه د دغـــــه غـــــولي
احمدشـــــاه لـــــه اوليـــــاو څخـــــه بـــــولي
دغـــه لـــوی افتخـــارات د ده بالـــه ســـي
ورتـــه ګـــوره درانـــه څـــړه پـــه تالـــه ســـي

**نوټ :-**

د ښاغلي حيدري د پورتنۍ سوانح مضمون د ښاغلي ژواک پـه قلـم ليکل سوی، او د کابل مجلې د 1332 سنې په 340 مه شماره کـې خپـور سـوی دی، ما کټ مټ رانقل کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۳۰ پښتون

محمدرسول پښتون د حاجي خدايار زوی يو مقتدر او فيلسوف ليکونکی دی، مضامين يې علاوه پر ادبي نزاکت او پختګی باندې فلسفي باريکی هــم لــري، چې ويونکې ته د ده فاضلتوب او علميت له ورا څرګندوي. په رسمي ماموريت کې يې د سرحدداری، علاقه داری، قوماندانی او په اقتصادي شعباتو کې يې د نماينده ګی او شرکتو د رياست چوکی اشغال کړي. دغه پښتون په فارســي او پښتو ژبو کې ښه خوندر د نظم او نثر مضامين لــيکلای ســي، مګــر ميــل يــې نسبت تر نظم د نثر و خوا ته زيات ليدل کېږي. په خواصو کې ذاتاً حق ګويــه، صادق، وطن پرسته او د ښو احساساتو لرونکی سړی دی، د ليکنــي طــرز يــې اجتماعي او فلسفي دی، د عشقي اشعارو له ليکلو څخه يې طبعاً او ملکــاً بــد راځي.

**۱-۳۰-۱ د پښتون د کلام نمونه :**

**هم بحر هم طوفان يم**

نــه پــوهېږم چــې انســان يــم کــه ملکــه کــه پېريــان يــم
پــه جلــي قلــم ليکلــی پــر خلقــت بانــدې عنــوان يــم
يــا چمــن يمــه شــين ســوی يــا خــزان يمــه پرېــوتی
يــا ورمــه يمــه د ګلــو يــا پخپلــه ګلســتان يــم
يــا د يــار د مــخ آئينــه يــم يــا پخپلــه جانانــه يــم
د هــر ګوښــي ننــداره يــم پــه ډولــو ډولــو عيــان يــم
نــه هغــه يــم نــه دغــه هســي خوشــي بهانــه يــم
ګــورئ څــه يــم لا بــه څــه ســم چــې د ټولــو داســتان يــم
نــه ســور ګــل يــم غوړېــدلی نــه نســيم يــم الــوتلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چـــې پـــه بـــوی بانـــدې يـــې پـــايم د هغـــه بـــاغ باغبـــان يـــم
نـــه ډېـــوه يمـــه لګېـــږم نـــه پـــتنګ يـــم چـــې کړېـــږم
د آشـــنا د مـــخ شـــغله يـــم پرېـــوتلی پـــر جهـــان يـــم
نـــه هنـــداره د ښايســـت يـــم نـــه پخپلـــه نمايښـــت يـــم
يـــو تعميـــر يمـــه جـــوړ ســـوی چـــل د بلـــه څخـــه بيـــان يـــم
چـــې پـــه غشـــو يـــې د ســـترګو زخمـــي کـــړی يـــم د درګـــو
د هغـــو وينـــو ســـېلاب يـــم چـــې هـــم بحـــر هـــم طوفـــان يـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۳۱ مستغني

عبدالعلي مستغني د ملا رمضان زوی په قوم هوتک په 1293 قمري کال د کابل په بالاحصار کې زېږېدلی دی، د مرحوم مستغني ابايي مېنه د قندهار د کلات د حکومت د سيوري په کلي کې ده. مګر ځينو نيکه ګانو يې په کوم نسبت چې لا تر اوسه معلوم نه دی له هغه ځايه راغلي او د کابل د ميدان د بيني بادام په کلي کې يې هستوګنه غوره کړېده. آخوند ملا رمضان د مرحوم مستغني پلار په افغانستان کې د هغه علماوو ځني و چې د استادۍ مقام يې درلود، ملا رمضان د علم د زده کړي له پاره د سوات، بونير، پېښور او نورو ځايو ته مسافر سوی او پردېسۍ يې ګاللي دي، وروسته د متداوله علومو له زده کړي څخه د سوات بابا جي ته ورغی او طريقه يې وکړه او بيرته خپل وطن ته راغی او په ډېره لږه موده کې يې د پوهي او علمي مقام زوړ د امير شېرعليخان غوږ ته ور ورسېد، نو دی يې راوغوښت او د هغي مدرسې تدريسي او اداري چاري يې ور وسپارلې چې هغه امير شېرعليخان په بالاحصار کې تاسيس کړې وه، هر کله چې امير شېرعليخان مړ او امير عبدالرحمن خان پاچا سو د هغه مخالفت په نسبت چې د هغو تر منځ و، ملا رمضان له کابل څخه لوګر ته ولاړ او د محمدآغې په کلي کې په تدريس لګيا سو، څه موده وروسته د کابل په شرعي محکمه کې مفتي سو.

په دې وخت کې چې امير حبيب الله شهزاده و، د ده له ديندارۍ، علم او پوهي خبر سو، دی يې د خپل ښوونکي په حيث وټاکه او تر وروستنۍ سلګۍ پورې يې د خپل معظم استاد احترام او قدر کاوه، نو په دې نسبت چې د ده پوهه او علميت هر چا ته څرګند و او د ده شهرت دی پرې نښود چې په کليو او ګوښه ځايو کې هستوګنه اختيار کړي، نو د افغانستان په مرکز (کابل) کې يې هستوګنه غوره او په دې ښار کې مرحوم مستغني دنيا ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرحوم مستغني عموماً له خپل بزرګوار پلار څخه خپله زده کړه کړې او د وطن له نورو علماوو څخه يې ډېر لږ تعليم کړی دی، له متداوله علومـو څخـه يـې مبادي منطق، يوناني فلسفه، د کلام علم، فقـه شـريفه پـه لازمـه او مروجـه اندازه په عربي مدرسو کې زده کړي وه، خو د پښتو او پاړسو په ادبياتو کې يې لوی لاس درلود، پښتو يې مورنۍ ژبه وه منګر د عربي او پاړسو ژبې يې کسبي وې، د مرحوم مستغني طبع زښته ډېره روانه وه، چې په يـوه هفتـه کـې بـه يې ډېر فرمايشتي اشعار جوړول، دی دومره د خپلې طبعي پـه روانـۍ ډاډه و چې د سراج الاخبار د ادبي برخي عهده داري يې منلې وه، مستغني په هيـواد کې لومړنی شاعر و چې د ده اجتماعي او اخلاقي آثار د وطـن پـه اخبـارونو او جريدو کې خپاره او عام او خاص ځني مستفيد سوي دي، يو څه موده د سراج الاخبار مصحح او بيا د حبيبيې په مکتب کې د ادبياتو معلـم و، مسـتغني پـه نجوم او رمل او حساب او هندسه کې هم ځانله مطالعه کوله، د ده عزت النفس دومره قوي و چې د خپل وخت فضلاووته يـې تـن نـه ايښـوده، مسـتغني د شجاعت او لوړ همت خاوند و.

دی د سقاو د انقلاب په زمانه کې قندهار ته تللی و، نو هـر کلـه چـې انقـلاب خلاص سو او اعليحضرت شهيد محمدنادر شاه پاچا سو، کابل ته راغـی او پـه کابل کې چې ادبي انجمن تاسيس سو نو دی يې هم په غړو کـې وټاکـل سـو، مرحوم مستغني د 60 کالو په عمر په 1352 قمري کال کې د 1312 شمسـي کـال سره سم د حوت په 21 د يکشنبې په ورځ په ملکي شفاخانه کې له دې جهانـه څخه سترګي پټې کړې او مړ سو، مرحوم مستغني په رشتيا سره ډېـر لـوی او مقتدر شاعر و، ده په قصيده، غزل، مثنوي، قطعه، رباعي، مخمـس، مسـدس، ترکيب بند او ترجيع بند کې لوی لاس درلود او ځکه چې طبع يې ډېره روانـه وه نو ځينو به دی د شعر ماشين باله، مستغني د وخت د تقاضا سـره سـم پـه فارسي کې ډېر اشعار ويل او ډېري مشهوري قصيدې لري، په پښتو کـې هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه اشعار لري، د ده اشعار د وطن په اخبارونو او جريدو کې ډېر نشر سوي دي، مګر لانديني قصيده يې موږ ګرانو ويونکو ته د نمونې په ډول سره وړاندي کوو.

**۱-۳۱-۱ د مستغني د کلام نمونه:**

**خپله ژبه**

هر ملت چې سي ګويان د خپلې ژبې
مطالب يې سي آسان د خپلې ژبې
ښه دی زده کړه هر مطلب په خپله ژبه
پښتانه سي ترجمان د خپلې ژبې
ګفتګوی په پردی ژبه کړي تر کومه
مګر نه لري امکان د خپلې ژبې
ته افغان په پردی ژبه دي تحرير دی
ولې نه کوې افغان د خپلې ژبې
په پردی ژبه تحرير و تقرير مه کړه
زده کړه زده نوشت و خوان د خپلې ژبې
هر ملت د خپلې ژبې صحت غواړي
ولې نه کوې درمان د خپلې ژبې
ورکاوه به شي پېغور په هره ژبه
څوک چې نه وي زبان دان د خپلې ژبې
نه پوهېږې چې پښتو پښتون يادېږي
ولې نه يې نکته دان د خپلې ژبې
چې پوښتنه ورنه وسي نه پوهېږي
بيا به وکوي ارمان د خپلې ژبې
که څوک زده کاندي سل ژبې دا کمال دی
دا کمال نه دی نقصان د خپلې ژبې
ښه ده ښه ده چې په سل ژبې دانا يې
ولې مه کېږې نادان د خپلې ژبې
په هيڅ ژبه دا بيان کولای نه سم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــــه هـــر څـــو کـــوم بیـــان د خپلـــې ژبـــې
خـــدای دي هېـــره خپلـــه ژبـــه لـــه چـــا نـــه کـــه
رشـــتیا وایـــم جـــار قربـــان د خپلـــې ژبـــې
پـــه بـــازار د پـــردۍ ژبـــې ســـودا مـــه کـــړه
ســـودا ښـــه ده پـــه دوکـــان د خپلـــې ژبـــې
پـــه ګلـــزار د پـــردۍ ژبـــې ګلچـــېن مـــه ســـه
چـــې رنګـــین دی ګلســـتان د خپلـــې ژبـــې
خپلـــه ژبـــه ســـود و زیـــان د هـــر ســـړي ده
هـــر څـــوک مـــومي ســـود و زیـــان د خپلـــې ژبـــې

نوټ :

د مرحوم مستغني د سوانح مضمون ما کټ مټ د کابل مجلـې څخـه رانقل کړی دی[1].

## ۱-۳۲ بېنوم

دا معاصر ادیب چې وروسته به یې له شعر او شاعرۍ څخه ښه خبر سئ د یوې لویې کورنۍ یو مشهور فاضل او په قوم او ملت دردمن او غمجن پښتون دی، د وطن او ملت او خصوصاً د اسلام له پاره د ده د والد مجاهدې او کوششـونه،لکه لمر څرګند او ښکاره دي، ده پخپل کلام او شعر کې بېنوم تخلص غـوره کـړی دی او مور یې هم صرف په دې نامه یادوو.
بېنوم د پاخه فکر، قوي ارادې، ښه تدبیر خاوند دی، عزم، همت، صبر، حوصله، پاکې او دینداري، راستي او صداقت د ده غوره او ښکاره صفات دي، سربېره پر دغه یو زړه ور او توریالی عسکر هم دی، چې د وطن په ډېرو داخلي او خارجي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړو کې يې د ياد وړ خدمتونه او لويي کارنامې کـړي دي. د قـوم اصـلاح او آرامي او قراري د ده د ژوند اوله آرزو ده، تقريباً 54 کاله يې د ژوندانـه ډېـري تودې سړې ليدلي دي او ډېري سختي پېښې يې د خپل فکر په مرسته فيصله کړي دي، په ټولو چارو کې د پخې تجربې او رسا فکر خاوند دی، د ده علمي او سياسي معلومات هم ډېر ښه دي، څه شي چې له اوله د ده سره ملګري سـوي او د ده زړه يې بې آرامه کړی دی هغه د قوم درد دی او همـدا شـی د خپلـې شاعرۍ د آغاز سبب بولي، لکه چې وايي :-

چې په غـــــــم کې د قام شومه
په زړګي بې آرام شـــــــــومه
اوسه پورې مي خوله چپ وه
اوس شروع په کلام شـــــــومه

## ۱-۳۲-۱ د شعر دېوان :

د 1319 ش په آخر کې ما د ده يو وړوکی دېوان ليدلی و، له هغه وخت څخه د ده د اشعارو اثر پر ما پروت دی، بيا په 1322 ش کې يې يو بل لوی دېوان موږ وليـد چې تر 600 صفحو زيـات او تقريبـاً 12000 بيتــه دی، دا دېـوان د مضـامينو او موضوعاتو په لحاظ د خوشحال دېوان تــه ورتــه دی، هـر ډول قـومي، ملـي، سياسي، تاريخي، عشقي، تصوفي، اجتماعي او اخلاقي مضامين پکښـي بيـان سوي دي، دا رنګ د شعر اکثري نوعي هم پکښي سته، لکـه غزلـي، ربـاعي، قطعه، قصيده، مثنوي، ترجيع بند او نور، مګر په دې برخه کې شاعر له پخوانو پابنديو څخه وتلی دی او په نوي طرز يې هم ځيني اشعار ويلي دي، دغه نـوي طرزونه يې حقيقتاً ډېر خواږه او خوندور دي ښايي چې وروسته بـه يـې څـه نمونې وښودل سي، دا کليات د ښېنوم دېوان نومېږي، اصلي نسخه يې چې پـه خپله د ښاغلي ښېنوم په خط ده، د پښتو ټولنې ځينو ملګرو ليدلې ده، او دوی يې اشعار خوښ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۳۲-۲ د ده اشعار او کلام :

د بېنوم په اشعارو کې که څه هم هر ډول مضامین سته، مګر عموماً دا درې برخې لري:

1. عشقي او تصوفي
2. اجتماعي او اخلاقي
3. سیاسي او قومي

لاندینۍ دوې منظومې يې د کلام د نمونې په ډول سره ګرانو ویونکو ته لیکم:

### ۱-۳۲-۳ د بینوم د کلام نمونه:

چې وړوکې سره مور که — یا له وروره سره ورور که
داسې کړه له غریبانو — هر غریب په اوږه سور که
هر غریب لکه ماشوم دی — هر ماشوم د سترګو تور که
په خدمت و هر غریب ته — ځان له مړ د آخر اور که
هوښیاري شرافت نه دی — د وړوکو چې لوی زور که
له انصاف له عدله لیري — چې د کوندو سر سرتور که
د هغه زړګی به خوږ شي — د یتیم زړګی چې خور که

غوښې خورمه د خپل ورور — غلا کوم له حکومته
د عزت خاوند چې راشي — زه یې کړمه بې عزته
چې مظلوم عریضه راکړي — وي وهمه څو لغته
سلام کله د چا اخلم — چې به کم شم له شوکته
اشاره په سر کومه — دا مې دی له سیاسته
خپل عزیز په سپکه ګورم — ورته ډېر له حقارته
په "بېنوم" به لعنت وایي — که شي پوه له حقیقته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوټ :-

د ښېنوم دغه پورتنۍ سوانح ښاغلي رښتين ليکلې او د کابل مجلــې د 1325کال په 8 ګڼه کې خپره سوې ده، ځکه چې دی يې د خواهش پــه اثــر لــه نامه څخه ليري سوی او په تخلص سرې اکتفا کړېده، نو زه مجبوره يم او د پلار د نامه له ليکلو څخه يې د نه معلومات لرلو په نسبت معافي غواړم.

د دې تکړه اديب نوم د ادبياتو د تاريخ پــه حوالــه او د نــوابي د يــوه مکتوب په اثر سره فضل اکبر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲ تعليقات

## ۲-۱ آشنا

په تذکره کې د پښتو ليکوال او شاعر عبدالباري آشنا پيژندنــه راغلــې چــې بشپړه نده، خو له دې تذکرې ځو کاله وروسته مرحوم استاد عبدالرووف بينوا په اوسني ليکوال کې د عبدالباري آشنا په باب ځينې اضافي معلومات ليکلي چې زه د هغه د خبرو لنډيز راوړم.

په اوسني ليکوال کې راغلي چې آشناپه ۱۳۰۵ هـ ش کال کې په کندهار کې د بالاکرز په سيمه کې زيږيدلی دی، ،لومړنی زده کړې يــې د ميــرويس بابــا پــه لېسه کې کړي او په ۱۳۲۷ هــ ش کال کې د احمد شاه بابا له لېسې څخه فارغ شوی دی، په ۱۳۳۲هــ ش کال کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي لــه پښتو څانگې څخه فارغ شوی او د احمدشاه بابا په ليسه کې د ښــوونکي پــه توگه په دنده گومارل شوی دی، پــه ۱۳۳۵ هـــ ش کــال د همــدې ښــوونځي مرستيال دنده ورکړل شوې او وروسته په ۱۳۳۶ هــ ش کال کې يــې د يــادې شوې ليسې د مدير په توگه کارکړی دی. په ۱۳۳۷ هــ ش کال کې د ليســې د مديريت سربيره د پوهنې دمدير په توگه هم کار کړی دی،په ۱۳۳۹ هــ ش کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي په تدريسي هييت کې د پوهيــالي پــه رتبه وظيفه ورکړل شوه، چې د شخصي ستونزو له امله يې دا کار پريښود اوپه همدې وخت کې يې د وړيو د اودلو په فابريکه د مراقبت د مدير په توگه په کار پيل وکړ.

په اوسني ليکوال کې راغلي چې آشنا په ۱۳۳۶ هــ ش کال کې د ( ادبيات ) په نامه يو کتاب ليکلی او په طلوع افغان کې خپورشوی چې وروسته بيا دوه ځله

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستقل چاپ شوی دی او د مطبوعاتو ریاست له خوا یې د رحمن بابا لــومړی جایزه ترلاسه کړې ده.

په اوسني لیکوال کې بینوا د آشنا د نثر یوه نمونه هم راوړې او ویلــي یــې دي چې ده ( آشنا) هیڅ شعر نه دی ویلی، له نجیب او بینــوا وروســته ســرمحقق زلمي هیواد مل په فرهنګ زبان و ادبیات پښتو کې، چې په ۱۳۵۶ هــ ش کــال چاپ شوی، د آشنا په اړه لیکلي چې آشنا له لیکوالی سربیره شاعر هم و، د ده د یوه شعر یو بیت یې هم راوړی او د آشنا د مرګ کال یې هــم ښــوودلی دی. آشنا په ۱۳۴۷ هــ ش کال له نړۍ سترګې پټې کړې دي: (۲۳: ۳۶)

**۲-۱-۱ د آشنا یو بیت له فرهنګه :**

برایي مې دا زخمي زړه ناقرار کړم په جهان جهان غمویې ګرفتارکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲ محمد نجيم آريا

محمد نجيم آريا د مرحوم خان محمد خان زوی په ۱۲۹۸ هـ ش کال کې په ګرديز کې زيږيدلی دی.

ښاغلی آريا په ۱۳۰۷ هـ ش کال کې کابل ته راغی او په حبيبې ليسه کې شامل شو. نوموړی د مرحوم قلعه بيګي عبدالغني خان ګرديزي وراره اود نائب سالار غازي ببرک خان ځدران خوريه وه، چې د افغانستان د استقلال تر لاسه کولو په جنګونو کې سهم درلود.

د محمد نجيم آريا د ماموريت دوره:

له حبيبيې ليسې څخه تر فراغت وروسته د انيس ورځپاڼې د سرمحرر په حيث مقرر شو.

له هغه وروسته يې په ډيلي کې د افغانستان په سفارت کې يوڅه وخت کار وکړ او په ۱۳۲۹هـ ش کال بيرته له مطبوعاتو سره يوځای شو او د انيس ورځپاڼې د مسوول مدير په حيث وټاکل شو. ښاغلی آريا يوڅه وخت په کندهار کې د طلوع افغان جريدې مسوول و،له هغه وروسته د ګرځندوی اداري د مسوول په توګه مقرر شو، له دې وروسته د افغانستان پيژندنې د عمومي مديريت مسووليت ور په غاړه شو، په همدې وخت کې يې په اندونيزيا کې د باندونګ په لسم کنفرانس کې د افغانستان د استازي په توګه ګډون وکړ، چې د ښه لياقت له امله د دې کنفرانس د ټولو ګډون کوونکو هيوادونو د مطبوعاتي پلاوي د وياند په حيث وټاکل شو.

نوموړی په ۱۳۴۴ هـ ش کال د اطلاعات او کلتور وزارت د مرستيال په حيث مقرر شو.

محمد نجيم آريا د شهيد ميوندوال له نږدې دوستانو او همکارانو څخه و او د دموکرات مترقي ګوند په تاسيس کې يې له ميوندوال سره همکاري وکړه ،د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ميوندوال تر شهادت پورې د دې ګوند مرستيال وه او وروسته بيا تر وفات پورې يې د دموکرات مترقي ګوند مشري په غاړه درلوده.
آريا وروسته زنداني شوی او په زندان کې د جسمي او روحي شکنجو لاندې هم راغلی دی، د زندان څخه له خلاصيدو وروسته پيښور ته مهاجر شو او هلته يې سياسي فعاليت پيل کړ، د جمعيت اخبار يې د مقاومت ترعنوان لاندې خپراوه. له هغه وروسته بيا امريکا ته مهاجرشو او په تکزاس ايالت کې يې د افغانستان له آزادۍ څخه د دفاع لومړنۍ انجمن رامنځته کړ.
محمد نجيم آريا په ۱۳۷۲ هـ ش کال کې وفات شوی دی.
د مرحوم آريا ګڼ شمير مقالې په بيلابيلو اخبارونو کې چاپ شوې دي او نور آثار يې په لاندې ډول دي.

## ۲-۲-۱ د محمد نجيم آريا آثار:

۱ ـــ مبارزه در راه آزادی
۲ ـــ پشتونها کیستند از کجاهستند باکې مربوطند.
۳ ـــ تاريخ مختصر گرديز.
۴ ـــ افغانستان و تجاوز شوروي.
۵ ـــ ميوند وال( شرح زنده گي).
۶ ـــ خدا در قرآن(رساله تحقيقي)
۷ـ زنده گی من شرح حال خودش است( ناتمام).
نوموړي اشعار هم ويلي دي

## ۲-۲-۲ د محمد نجيم آريا د دري شعر نمونه:

پيری رسيد و مستی طبع جوان گذشت
فصل بهار رفت وگل ارغوان گنشت
يک قطره آب خورديم و دريا گريستيم
خيراز جهان نديده و عمر از جهان گذشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرحوم آریا وروستی شعر چې د ناروغۍ پر مهال یې ویلی دی:

از لحدناله بر آرم من آوارهء ملک
خاک برسر تهء خاک دگران خفته ام
وطنم رفت زدست همتی ای نسل جوان
چشم امید به نیروی شما دوخته ام (1: 4)

## ۲-۳ محمد شاه ارشاد

ښاغلي نجیب په خپله تذکره کې دمحمد شاه ارشاد لنډه پیژندنه راوړې چې له نورو ضروري خبرو سربیره د ده د کلام نمونې هم نه لري. له ده وروسته عبدالروف بینوا د ارشاد په باب په اوسني لیکوال کې پوره معلومات لیکلي چې لنډیز یې زه دلته راوړم،محمد شاه ارشاد په ۱۲۹۶ ش کال کې د پروان ولایت د بګرام په یوزباشی کې زیږیدلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې په کور کې له خصوصي ښوونکو پای ته رسولي دي او ۱۳۱۵ ش کال کې د کابل په دار العلوم کې شامل او په ۱۳۲۲ ش کال کې له دغه دارالعلوم څخه فارغ شو.نوموړی په ۱۳۲۷ ش کال د عدلیې وزارت د مفتش په حیث ګومارل شوی.په ۱۳۳۰ ش کال کې د قندهار د مطبوعاتو لوی مدیر او د طلوع افغان ورځپاڼې مسوول چلوونکی وټاکل شو.

په ۱۳۳۴ هـ ش کال کې د پروان د ورځپاڼې مسوول مدیر او په ۱۳۳۶ هـ ش کال کې د هیواد د نشراتي موسسې د آمر او د هیواد ورځپاڼې د مسوول مدیر په حیث وټاکل شو.(۵: ۵۴)

په زندان خوړلي نومې تذکره کې ښاغلي رفیع هم د ارشاد بشپړې سوانح راوړې دي. محمد شاه ارشاد له پښتو سربیره په فارسي هم لیکنې کړي او له عربي یې ډیر آثار ترجمه کړي دي، د" اسلام په غرب کې " یو اثر ژباړلی چې د طلوع افغان اداري له خوا نشر شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی ارشاد د ثور له کودتا (۱۳۵۷ هـ ش) وروسته بندي شـو او لـه زندانـه ژوندی را ونه ووت.(۱۹: ۲۱)

د حبیب الله رفیع په بل اثر پښتو کتاب ښود کې د محمد شـاه ارشـاد لانـدې آثار یاد شوي دي.

**۲-۳-۱ د محمد شاه ارشاد آثار:**

۱ـــ د طلوع پلوشه ، کندهار،ګڼ کسان، د طلوع افغان اداره، ۱۳۳۰ ش کـال، د طلوع افغان اداره.

۲ـــ د عشق جلوه ( د شعر مجموعه )،کابل د مطبوعاتو وزارت ۱۳۴۴ ش کـال، دولتي مطبعه.(۲۰: ۳۱)

**۲-۳-۲ د ارشاد د شعر نمونه:**

**کوشش**

شیوه د سـعیې پـه ژونـد کـې لـه دریـاب نـه زده کـړه
بـــې ثبـــاتي د دې جهـــان هـــم لـــه حبابـــه زده کـــړه
په سرکې شور په زړه کې اور سـترګې لـه اوښـکو ډکـې
رنـــګ د طوفـــان لـــرل لـــه موجـــه د ســـحابه زده کـــړه
پـــه ســـوز ګـــداز کـــې تبســـم لـــه حـــال د شـــمعې څنـــې
د خـــار او خـــس پـــه جفـــا صـــبر لـــه ګلابـــه زده کـــړه
اســـره د ګـــل کانـــدې هغـــه چـــه ســـوز دعشـــق نـــه لـــري
مزه د مینې د پتنګ پـه جفـا صـبر لـه ګلابـه زده کـړه
پېښـــو تـــه تـــن ورکـــول زړه، لکـــه ســـندان نیـــولی
ســرګرداني پــه دې جیحــون کــې لــه ګردابــه زده کــړه
ژړا فریـــــاد د دزړه لـــــه اوره لا لمبـــــه زیـــــاتوي
پـــه ښـــه دقیـــق نظـــر دغـــه راز لـــه کبابـــه زده کـــړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه کوښـــښ نشـــي میســر خـــاورې د یـــار د پښــو
نارســـایي دلتـــه د زلفـــو لـــه طنابـــه زده کـــړه
هلتــه بــه وصــل شــي مــراد تــه پــه اســانه ســره
کــه تواضــع دې پــه رفعــت کــې لــه رکابــه زده کــړه
چــه همــت لــوړوي وړوکتــوب مــانع دســعيې نشــي
د اعـــتلا راز د ذرې لـــه دپرشـــتابه زده کـــړه
تنهـــايي نـــه ګـــرزي مـــانع د ارتقـــا دپـــاره
په يک تنهـا صـورت شـاهي پـاس لـه آفتابـه زده کـړه
صـــحرا د غـــم شـــوه راحـــت ګـــاه د ليونـــو د پـــاره
راحــت د ځــان همــيش دعقــل لــه ذهابــه زده کــړه
ويښ توب په ژوند کې شي بلا راحــت لــه خلكــو يوســي
په دې جهــان كــې آســايش راشــه لــه خوابــه زده كــړه
نيـــاز د زړه د لفـــظ لـــه نـــازه مســـتغني ښـــكاريږي
پـــه پټـــه خولـــه راز د معنـــاوو لـــه كتابـــه زده كـــړه
هـــره خبـــره چـــې لـــه زړه نـــه وي اعجـــاز ګانـــه شـــي
اثـــر د شـــعر د وينـــا لـــه آب و تابـــه زده كـــړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴-۲ محمودشاه ابوالوفا

د دې تذکرې بل ليکوال محمود شاه ابوالوفا دی د ده په باب هم ښاغلي نجيب لنډ معلومات راوړي، له ده وروسته سرمحقق زلمي هيوادمل په فرهنګ زبــان و ادبياتو پښتو کې د ابوالوفا د ژوند او آثارو په باب معلومات ورکړي دي.

ابوالوفا افغاني يا محمود شــاه مشــهور پــه ابوالوفــا الافغــاني د افغانســتان د معاصرې دورې له اديبانو څخه و، په ۱۲۶۹ هــ ش دنيا ته راغلی او په ۱۳۵۴ هــ ش د هندوستان په د کن کې مړ شوی دی.

ابوالوفا يو ديني عالم او له اسلامي علومو د پوره مطالعې خاوندو، نومــوړي پــه ۱۳۴۸ ق کال کې د حيدر آباد په د کن کې د احياء المعارف نعمانيه په نامه يوه علمي موسسه جوړه کړه او د دغې موسسې له لارې يې شــاوخوا شــل جلــده کتابونه تصحيح، تنظيم او خپاره کړي دي.مولوي ابوالوفا د تجويد علم په برخه کې د ( دليل القرآن بزبان پشتو) په نامه کتاب ليکلی او همدارنګه شعرونه يې هم ويلي چې په طلوع افغان کې خپاره شوي.

استاد ابوالوفا الافغاني په پښتو، اردو، پارسي، او عربي ژبو ښه پوهيــده او پــه دغو ژبويې د ليکلو پوره توان درلود.(۲۳: ۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۵ گل پاچا الفت

د پښتو ادبیاتو د معاصرې دورې لیکوال گل پاچا الفت په باب هم په دې تذکره ډېر کم معلومات راغلي دي. له نجیب وروسته په اوسني لیکوال کې د گل پاچا الفت د ژوند او کارنامو په باب او همدارنګه حبیب الله رفیع هم په پښتو کتابښود کې د ښاغلي الفت ټول آثار معرفي کړي دي، گل پاچا الفت د میر سید پاچازوی د سید فقیر پاچالمسی په ۱۲۸۷ ش کال کې د لغمان د عزیزخان په کڅ کې زیږیدلی دی.

علمي تحصیلات یې په غیر رسمي مدرسوکې کړي او د خپل وخت مروج علوم، لکه صرف، نحو، منطق، تفسیر، حدیث، معاني او بیان یې د ننګرهار او کابل له مشهورو استادانو څخه لوستي دي.

په ۱۳۱۴ ش کال کې د انیس ورځپاڼې په اداره کې د کاتب په حیث مقررشو. په ۱۳۱۵ ش کال کې د هغه وخت د انجمن ادبي ( چې بیا پښتو ټولنه شوه) د تألیف او ترجمې څانګې غړی شو، چې د زیري اخبارېې هم چلاوه، په ۱۳۱۸ ش کال کې د پښتو ټولنې د صحافت د مدیریت مرستیال شو، په ۱۳۱۹ ش کال کې د پښتو ټولنې د لغاتو او قواعدو د څانګې مدیر شو. په ۱۳۲۰ ش کال کې د اصلاح ورځپاڼې د پښتو برخې مشاور شو او په همدغه کال د پښتو ټولنې لوی مبصر او د کابل مجلې چلوونکی و ټاکل شو. په ۱۳۲۵ ش کال کې د ننګرها د اتحاد مشرقي د جریدې مدیر شو، په ۱۳۲۷ ش کال کې د ننګرهار د قبایلو مدیر شو او په ۱۳۲۸ ش کې د خلکو له خوا د ملي شورا په ۷ مه دوره کې وکیل وټاکل شو او بیا د ملي شورا دوهم معین وټاکل شو. په ۱۳۳۱ ش کال کې د لغمان د قرغیو د خلکو له خوا د ملي شورا د اتمې دورې په وکالت و ټاکل شو، په ۱۳۳۴ ش کال کې د جلال آباد د خلکو له خوا د لویې جرګې وکیل شو او په ۱۳۳۵ ش کال کې په لومړۍ رتبه د پښتو ټولنې مشر وټاکل شو او ترڅنګ یې د کابل پوهنتون ادبیاتو په فاکولته کې د پښتو ژبې استاد هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي الفت په پښتو او پاړسي ژبه هم نثرليکلی او همدارنګه په عربي ژبه يې هم مقالې ليکلي دي.

د ده شعر ډير سليس، روان، خوږ او په عين حـال کـې لـه ابتکـاره ډک دی، ډيرنازک اونوي خيالات يې په زړو ساده الفاظو کې ځای کړي او ډير زړو او لـه نظره لويدلو مضامينوته يې نوی خوند او رنګ ورکړی دی.

په نظم او نثر کې د پوه استدلال خاوند دی، په تېره بيا د ده منثور اشـعار او د نثر خوږې ټوټې له هره حيثه زړه وړونکـې دي او پـه دې ټوټـوکې اجتمـاعي دردونه په ښو اغيزناکو الفاظو کې بيانوي.(۵: ۹۱)

د حبيب الله رفيع په (پښتو کتابښود ) نومي اثر کې د ګل پاچاالفت دغه آثـار معرفي شوي:

**۲-۵-۱ د الفت آثار:**

۱ــــ ادبي بحثونه، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۳۲ ش کال، د کابل عمومي مطبعه.

۲ــــ بله ډيوه، کابل،پښتو ټولنه، ۱۳۲۰ ش کال، عمومي مطبعه.

۳ــــ پښتو سندرې، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۲۵ ش کال، عمومي مطبعه.

۴ــــ په افغانستان کې د اسلام خپريدل،(ژباړه) ليکونکی ميرغلام محمد غبار، کابل، تاريخ ټولنه، ۱۳۳۸ ش کال، دولتي مطبعه.

۵ــــ څه ليکل يا ليـک پوهه،ننګرهار،داتحادمشـرقي اداره،۱۳۲۸ ش کـال، د اتحاد مشرقي مطبعه.

۶ــــ د آزادۍ پيغام، کابل، ن ،د کابل عمومي مطبعه.

۷ــ د پسرلي نغمه،کابل،پښتو ټولنه،۱۳۲۰ ش کال، عمومي مطبعه.

۸ــــ د زړه وينا،کابل، پښتوټولنه،۱۳۴۱ ش کال، د پـوهنې مطبعـه، آفيسـټي چاپ.

۹ــــ عالي افکار، ننګرهـار، د اتحـاد مشـرقي اداره، ۱۳۲۷ ش کـال، د اتحـاد مشرقي مطبعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰ــــ غوره اشعار، کابل، پښتو ټولنه ، ۱۳۳۴ ش کال ، عمومي مطبعه.
۱۱ــــ غوره نثرونه، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ ش کال، دولتي مطبعه.
۱۲ــــ لغوي څیړنه ، کابل ، پښتوټولنه، ۱۳۲۱ ش کال، عمومي مطبعه.
۱۳ــــ لوړ خیالونه او ژور فکرونه ،( انتخاب، ترجمه، تألیف)، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۳۵ ش کال، دولتي مطبعه.
۱۴ــــ لیکوالي املاء او انشاء ، کابل ، پښتو ټولنه ، ۱۹۶۱ ع ، دولتي مطبعه.
۱۵ــــ ملي قهرمان ، کابل ، د قبایلو مستقل ریاست ، ۱۳۴۴ ش کال، د پوهني مطبعه.
۱۶ ــــ منطق ، کابل ، پښتو ټولنه، ۱۳۳۵ ش کال ، دولتي مطبعه.
۱۷ ــــ نوی سبک او نوی ادب ، کابل ، د مطبوعاتو ریاست ، ن ، دولتي مطبعه.(۲۰: ۳۸)

د مرحوم الفت شعري کلیات ښاغلي شهرت ننګیال او نثري کلیات ښاغلي محمد اسمعیل یون تهیه کړي دي. له کلیاتو پاتې متفرق نثرونه یې سرمحقق عبدالله بختانی ټول کړي او چاپ کړي دي.

ګل پاچا الفت د ۱۳۵۶ هـ ش کال د قوس په ۲۸ مه نیټه وفات شو او د لغمان د عزیز خان کڅ کې خاروته و سپارل شو.

**۲-۵-۲ د ګل پاچا الفت د نثر نمونه:**

**بېګناه بندي**

پر پړدی ـ دابې ګناه بندي پر پړدی!

مه ویریږئ- د ده په ازادولو کې هیڅ خوف او خطر نشته- فساد او شرارت له ده نه پیدا کیږي.

دده بندي کول لویه ګناه ده .

دا هغه یوسف دی چه د بې ګناهی په سبب په زندان کې لویدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که دی له زندانه راووزي ستاسې آينده ســنجولی شــي او ستاســې دبلــې ورځې غم خوري.**
**پر برړدی- دابې ګناه بندي پر برړدی!**
**که دی خلاص شو ستاسو انتظام به په ډير ښه شان وکړي**
**تاسی دغه ښکلی موجود په تورو ځاګانو کې مه غورځوئ**
**په زندانونو کې يې مه اچوئ.**
**په ليوانو او پړانګانو يې مه خورئ-**
**پر برړدی- دابې ګناه بندي پر برړدی!**
**دی به ستاسې دګډوډو او پريشانو خوبونو صحيح تعبيرونه وکړي.**
**ډيرې سختې مبهمې او مجملې غوټې بــه پرانيــزي . دی دراتلــونکي حــال پيشبيني کولی شي.**
**دطبيعت په رمزونو اواسرارو پوهيږي.**
**دجوي اوفلکي اوضاعو اقتضاآت ور معلوم دي.**
**پر برړدی- دابې ګناه بندي پر برړدی!**
**دده آزادی باندی علم او پوهه زياتېږي وطن رڼا کيږی، ړانده بينا کيږی.**
**دی له خپلو جفا کارو ورونو سره هم ښــه ســلوک کــوي - دی ډيــر پيچــومي اوارولې شی، ډيری ، کږې لاری سمولی شي او ډير مشکلات حل کولی شي.**
**ما خوب ليدلی چه دا بندي خلاصېږي او د سلطنت په کرسۍ کښيني.**
**ښه فکروکړئ**
**دابندی څوک دی؟**
**پس له ډير فکره وايم :**
**«فکر دی فکر !!»** (۵: ۹۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۶ محمد انور ایوبي

دمحمد انور ایوبي د سوانحو په باب مو هم د ښاغلي نجیب په تذکره کې معلومات ولوستل تر کومه ځایه چې ما نورې پښتو تذکرې او له فرهنګیانوسره مصاحبې کړي د نوموړي په هکله مې نور معلومات و نه موندل.

## ۲-۷ غلام محی الدین ایوبی

غلام محی الدین ایوبي د دې تذکرې بل لیکوال دی چې د ده پیژندنه د تذکرې په اصلي متن کې راغلې د نوموړي په باب د پښتو معاصر لیکوال پرته په نورو پښتو تذکرو کې معلومات نه دي راغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۸ محمد نادر ایوبي

په دغه تذکره د محمد نادر ایوبي په باب ډېر لنډ معلومات راغلي، له دې تذکرې وروسته استاد عبدالروف بینوا په اوسني لیکوال کې د نوموړي سوانح راوړي دي، محمد نادر ایوبي د محمد سرور ایوبي زوی په ۱۳۰۸ ش کال کې په کندهار کې زیږېدلی، نوموړي خپلې لومړنۍ زدکړې دکندهار په میرویس لیسې، حبیبیه او غازي لیسوکې کړي او د کا بل د تجارت لیسې څخه یې په اعلی درجه شهادت نامه اخیستې او لوړې زدکړې یې د کابل پوهنتون په حقوقو پوهنځي کې سرته رسولې دي.

ښاغلی ایوبي ( د ۱۳۴۳ کال څخه تر ۱۳۴۶ کال ) پورې په امریکا کې د افغانستان د شاهي دولت لوی سفارت اتشه وه په همدې وخت کې نوموړي له رسمي ماموریت سربیره د واشنګټن ( هارورد پوهنتون) د سیاسي علومو او بین المللي مناسباتو په څانګه کې د مافوق لیسانس درجه حاصله کړه.

د د ه مورنۍ ژبه پښتوده په فارسي، انګریزي او اردو ژبو هم ښه پوهیده، د پښتو ژبې تکړه نثر لیکونکی و او نظم یې هم کله کله لیکه.

د محمد نادر ایوبي آثار د کندهار په طلوع افغان او د هلمند په جریده کې زیات خپاره شوي دي، نوموړی دوه چاپ شوي اثار ، چې یو یې په دوه ټوکه کې سیاسي نظریات او بل یې په درې ټوکه کې اقتصادي نظریات دي، همدارنګه ده ځینې لنډې قیصې او ناولونه، لکه سپین او ملغلره او پاینات هم لیکلي دي.(۷: ۱۳۹۴)

حبیب الله رفیع په پښتو کتاب ښود د نوموړي دا لاندې آثار معرفي کړي دي.

### ۲-۸-۱ د محمد نادر ایوبي آثار:

۱ ــــ اقتصادي نظریات(لومړی ټوک) ، کندهار، ۱۳۳۷ ش، د کندهار دولتي مطبعه.

۲ ــــ اقتصادي نظریات (دوهم ټوک)، لاهور،۱۴۲۴ هـ ق ،دوهم چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳ ـــ اقتصادي نظریات (دریم ټوک) کندهار، ن ، د کندهار دولتي مطبعه.**

**۴ ـــ سیاسي نظریات (لومړی ټوک)، کندهار، د طلــوع افغــان اداره،۱۳۳۷ ش کال، د کندهار دولتي مطبعه.**

**۵ ـــ سیاسي نظریات (دوهم ټوک)، هلمند، ن ، د ګرشک دولتي مطبعه.**(۲۰: ۴۶)

**محمد نادر ایوبي دعرفان، فلسفې او روحیاتو په نامه نور کتابونه هم لیکلــي او په وروستیو کلونو کې چاپ شوي دي.**

1. **سپین اومرغلره : (پښتوادبی داستان ) دکندهار ولایت دطلوع افغان په ورځپاڼه کې په پرله پسې توګه نشرشوی دی.**
2. **اسلام :چې پر پنځو برخو (حقوق ،سیاست ،اقتصاد،تصوف اوفلسفي ) باندې مشتمل دی په کویټه کې چاپ شوی دی.**
3. **دوی څوک وو؟ : د یوسلو پنځو تاریخي او ریښتني داســتانو او قصــو مجموعه ده په کویټه کې چاپ شوی دی .**
4. **عرفان : دا اثر هم په لاهورکي چاپ شویدی.**
5. **روحیات یا علم النفس په کال ۲۰۰۷میلادی کې په لاهور کــې چــاپ شوی دی.**
6. **فلسفه : په کال ۲۰۰۶میلادی کې کویټه کې چاپ شویدی**
7. **حقوق : په کال ۲۰۰۶میلادی کې په لاهور چاپ شویدی**
8. **دافریقا جغرافیایي ،تاریخي او اجتماعي مسایل (ناچاپ)**
9. **دانسان ستونزي (ناچاپ)**
10. **علم اوایمان (ناچاپ)**
11. **د حق او باطل تاریخی سیر (ناچاپ)**
12. **دتاریخ ځینې هیرې شوي پاڼې (ناچاپ)**

**محمد نادر ایوبي په ۱۳ هــ ش کال کې د امریکا په متحده ایالاتو کې وفات شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲-۸-۲ د محمد نادر ایوبي د نثر یوه بیلګه:**

**دسوسیالزم عمومی ګټی :**

**داقتصادیونو په عقیده دسوسیالزم یوه لویه ګټه داده چـه دټـولنې ګټـې تـه لومړی مقام ورکوي یعنې دټولنې ګټې په فرد دمخه بولي که داسي پیښه سـي چې د جامعې او فرد ګټه سره متضاده سي هلته سوسیالزم دجامعې ګټـې تـه ترجیح ورکوي ځکه نو په سوسیالیزمي رژیم کې تل عمومي ګټوته پـه درانـه نظر کتل کیږي او دهغه پراساس نقشې جوړیږي پرهمدې اساس دسوســیالزم په برخه کی شخصي انحصارات له مینځـه ایسـته کیـږي او ټولنـه د فـردي انحصاراتو دضرر څخه په امان پاته کیږي او له بلې خوا څخـه پـه ټولنـه کـې بیکاري نه پاته کیږي ځکه چې عرضه دتقاضاء پراساس تولید او لـه دي کبلـه داضافي تولید مخ نیول کیږي چه دغه موضوعګانې په سـرمایه داري اقتصـاد کې دلوبو بحرانو سبب کیـږي خـو پـه سوسـیالزم کـې دغـه ډول بحرانونـه پیښیـږي دخلکو په اجتماعي ژوند او د فکر په سویه کې ښـکاره تـوپیر نـه راځي هغه اخلاقي معایب چه په ټولنه کی دسرمایې او شخصي ملکیت څخـه پیدا کیږي له منځه وزي ځکه چې علت ورکیږی دخلکو ترمینځ درواغ ویل او یو بل ته په سـپکه کتـل د دښـمنۍ کمبلـه تـولیږي پـه سوسـیالیزم کـې محرومیتونه نسته ځکه چې ټول خلـک دخپـل کـار حاصـل او ثمـره اخلـي هیڅوک مفت خوره نه پاتی کیږی جنایتونه چې دبیکارۍ او ملکیت څخه پیدا کیږي له منځه وزي همداسې له بل پلوه ملي عایدات دیوه صحیح پروګـرام او پلان له مخې دخلکو دنماینده ګان له خوا څخه کنتـرول او مملکـت دخلکـو ترمینځ په عادلانه ډول توزیع کیږي چه دغه موضوع هم افراط او تفریط چـې په سرمایه داري نظام کې موجود دی له منځه باسي او پردغه اسـاس پـه یـوه ټولنه کې دطبقاتو توپیر او تضاد دمنځه څخه اخستل کیږي ځکه چې هلته بیا سرمایه داره ډله او اجوره خوړونکې ډله نسته بلکـه هلتـه بـه یـوازې آزاد او**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحاله کارکونکي موجود وي دخلکو صحي حالت سمیږي ځکه چه پرخلکو دومره فشار نسته چه دخپل ځان صحت غوښتني او خوشحالۍ ته موقــع ونــه لري ټول به د ټولووي هر څوک به ټولو ته کارکوي هرڅوک به خپــل ســعادت دټولو په سعادت کی لټوي دسپین سرو او کوچنیــانو او نــورو معیوبینــو ســره دټولنې له خوا ښه مرسته کیږي دسوسیالستي پوهانو په عقیده د دوی ټــول کوششونه ددې له پاره دی چه دنړۍ دخلکو مادی او معنوی ژوندون ته سمون ورکړي خلک د بدبختۍ او ذلت څخه ساتي.

دخلکو افکار او قواوې د دې په عوض چې رقابتونو او یود بل ددښمنۍ له پــاره په کار واچول سي علمي او تربیتي چارو ته متوجه کیږي هغه مضــر اجتمــاعي حوادث چې دملکیت او سرمایه دارۍ دعلت له کبله دزروکلودبشري تاریخ په شاهدۍ پرانسانانوناوړه اثرات اچولي وه پــه سوســیالیزم کــې اســته کیــږي دانسانانو په ټولو شئونو کې د وحدت مساوات له پاره نوې دروازې پرانیــزي او دانسان ښکلی مقام د خطر څخه ساتي.(۷: ۱۳۹۵)

## ۲-۹ غلام فاروق ایوبي

غلام فاروق ایوبې د دې تذکرې بل لیکوال دی د دې ښاغلي د سوانحو په باب هم یواځې استاد عبدالقدوس نجیب په (پښتو معاصر لیکوال) اثــر کــې چــې تاسو ولوستل معلومات راوړي په ګڼ شمیر کتابخانو کې چې ما کــومې پښــتو تذکرې کتلي او یا مې د پښتنو لیکوالو او فرهنګیانو سره مرکې کــړې د غــلام فاروق ایوبي په باب مې معلومات نه دي پیداکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۱۰ عبدالخالق اخلاص

په دې تذکره مو د عبدالخالق اخلاص په باب يوڅه ولوستل، په اوسني ليکوال کې عبدالروف بينوا د ده(اخلاص)بشپړسوانح داسې را اخيستي، عبدالخالق اخلاص د ملاجان آخند زاده زوی په ختيځ ساپی په ۱۳۱۹ هـ ق کال کې د رجب المرجب په مياشت د جمعې په ورځ د کونړ په دهوز کلي کې زيږيدلی دی، د ده پلار يو ښه عالم او د فکر خاوند و، د خپل زوی له پاره يې داسې نوم و ټاکه چې د رجب المرجب د حروفو په يوځای کولو سره د جمل په حساب د ده د تولد تاريخ جوړيږي.

ده په خصوصي ډول زدکړې کړي،عربي او فارسي کتابونه يې له پلار څخه لوستي دي، خو احاديث او تفاسير يې يوځای بل ځای ويلي دي،اخلاص له کوچنيوالي څخه د پښتو ليکل او لوستل پيل کړي.

ښاغلي اخلاص په ۱۳۰۳ ش کال کې د نظامي کنډک کاتب او بيا پسې د کنډک مشرۍ رتبې ته ورسيد، په ۱۳۱۰ ش کال کې د قو م له خوا دملي شورا وکيل وټاکل شو، بيا په ۱۳۱۶ ش کال کې د پښتو ټولنې غړی شو چې له هغه ځايه د مشرقي اتحاد د اخبار معاون مقررشو او څه موده وروسته بيرته د پښتو ټولنې د لغاتو د څانګې د مدير په توګه وټاکل شو.

عبدالخالق اخلاص پرپښتو سربيره په فارسي ژبه هم نظم او نثرليکلای شو. د ده زياتره آثار د کابل په مجلو او د اتحاد مشرقي او د هيواد په نورو اخبارو کې خپاره شوي دي.(۵: ۴۸)

حبيب الله رفيع په په پښتو کتابښود کې د اخلاص يو اثر معرفی کړی:

### ۲-۱۰-۱ د عبدالخالق اخلاص آثار:

۱ ـــ تصحيح التلاوت فی علم القراءت ، پيښور، سـردارګهرک سنګهـــ، ۱۹۲۷ ع، رفيق عام پريس ـــ لاهور.(۲۰: ۲۹)

دا رساله يې د تجويد علم په باب په نظم کې ليکلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ـــ سیف الامان دا د اخلاص صاحب یو بل منظوم اثر دی، په دغه اثــر کــې د ګوډ ملا او د منګلو د ۱۳۰۳ لمریزکال بغاوت یې له پیله نه تر پایه پورې لیکلی. د دې کتاب په باب معلومات د قلمي نسخې څخه اخیستل شوي او د چاپ کال یې نه دی ښودل شوی.

۳ ـــ نهضت پښــتو: دا د عبــدالخالق اخــلاص یــوه دري منظومــه ده،چــې د افغانستان د اوومې هجرې پیړۍ د نامتو شاعر ابونصر فراهي د نصاب ا لصبیان په طرزیې ویلې او پښتو ضروري نو مونه یې په فارسي پکې معرفي کــړي دي. دیادولو ده چې د ابونصر فراهي نصاب الصبیان دعربي ژبې د زدکړې لپاره دي او ورځني عربي لغتونه په دري بیتونو کې ترجمه کوي او د اخلاص دا اثر بیــا د پښتو لغتونو دا ډول معرفي ده، دا د ابونصر فراهي تر کتاب وروسته د دې طرز دویم اثر دی او دریم اثر یې هم د « پښتوـــ دري نصــاب الصــبیان» دی چــې عظیمي جوزجاني لیکلی او د اخلاص له اثر سره همزولی دی.

۴ ـــ نورستان یا جدید الاسلام، دا د ښاغلي اخلاص بل اثر دی په دې اثر کــې یې د نورستان د خلکو کلتوري ژوند خیړلی چې ډیر جالــب او پــه زړه پــورې مواد لري،په دې منثور اثر کې د دوی قومیت او له اسلام نــه وړانــدې احــوال، میړنتوب او وسله،رنګ او قیافه، کســب اوګټــه وټــه،خوراک او جامې،میلمــه، تعلیم او تربیه، ژبه او الفــاظ، رســوم او عــادات، واده د ولادت رســوم او نــوم ایښودل، د ښځې یا د ځښتن مرګ، هیڅ ښځه د مړې ښځې لرګي نه ســېزي، طلاق یا ښځه خرڅول، د مړي خرڅول، دمړي تجهیز، جرګې مرکې اودجګــړو فیصلې، قتل او زنا، د قرض اصول او معــاملات، آشــنایي پالل،حمــایتي پــلار، رسمي دعوتونه، د ډوډۍ خوړلوتنظیم، اقتصادي او حکایت تر عناوینو لانــدې په زړه پورې مواد راغلي دي.

دا اثر د ۱۳۱۸ هــ ش کال په سالنامه کابل کې خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ ـــ د استقلا څلورمه جبه، د ښاغلي اخلاص دا اثر د افغان ـــ انګلـيس پـه دریمه جګړه لیکل شوی، ښاغلي حبیب الله رفیع د دې کتاب د سمون، لمنې، او نښلونې چارې ترسره کړې او په ۱۳۶۵ هـ کال چاپ شوی دی.
عبدالخالق اخلاص په ۱۳۶۷ ش کال کې د ورپېښې ناروغۍ له امله د پښتونخوا په صوابۍ کې وفات شو او مړی یې هم هلته خاورو ته وسپارل شو.(۲۱: ۱۱۴)

## ۲-۱۱ محمد اعظم ایازي

محمد اعظم ایازي هم د پښتو ژبې یو له هغو لیکوالانوڅخه دی چـې ښـاغلي نجیب په دې تذکره کې د نوموړي د ژوند په هکله یو څه لیکلي، له ده وروسته د پښتو په نورو تذکرو او اثاروکې د ښاغلي محمد اعظم ایازي دژونـد او آثـارو په باب پوره معلومات راغلي چې لنډیز یې زه دلته راوړم.
ښاغلی محمد اعظم ایازي په قوم ځدراڼ په ۱۲۵۷ ش کال کې په کندهار کـې زیږیدلی او په ۱۳۳۵ ش کال کې وفات شوی دی.
د ایازي کورنۍ د غازي سردار محمد ایوب خان سره له وطنه جلاشوې وه ځکه نو ده مختلف هیوادونه، لکه ایران، ترکیه او هندوستان لیدلي وو.
او آخر ته په کوټه کې یې ځای نیولی او هلته یې تر اعداد یې پورې تعلیم کړی او د لسم جماعت فارغ التحصیل و، په اردو، انګریزي ښه پوهیده، په ۱۳۰۳ ش کال کې بیر ته افغانستان ته راغی.
د پښتو په صرف او نحوه کې یې ښـه زیـار ایسـتلی او ښـه لاس یـې پکـې درلود،ښاغلي ایازي شعر نه وایه خو په نثر کې ښه پـوخ لیکـونکی و. محمـد اعظم ایازي ډیر صاف، ساده، حلیم بردبار او هرچاته تسلیم سړی وه، که هرڅو ډیر تاوان به چا ور ورساوه خودی یې مقابلې ته تیار نه و او دچا سره یې شخړه خوښه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چې په امانيه عصر کې هغه وخت چې امان الله خان قندهار ته تللی وه او د قندهار د خرقې په زيارت کې يې وينا کوله نو ايازي ورته ژړل، خو شــاوخوا چې يې وکتل بل چانه ژړل نو ده په ډيره جدي لهجه نارې کړې:

" اې د غوايي قامه ولې نه ژاړئ ؟"

د ده مقالې او ترجمې په پښتو مجلــه او د کابــل پــه مجلــه او د انــيس پــه ورځپاڼه کې ډيرې خپرې شوي دي.(۵: ۱۱۲)

سرمحقق زلمي هيواد مل هم د محمداعظمايازي په هکله په فرهنــګ زبــان و ادبيات پشتوکې ليکلي چې نوموړي په کوټه کې خپل تحصيلات پايته رسولي ، د کندهار او کابل په ادبي ټولنو کې يې کار کړی د نوموړي پارســي، او ترکــي ژبې هم زده وې. او په پښتوګرامر ښه پوهيده، د پښتو لغاتو په راټولو کې يــې زحمتونو ګاللي او دغه آثار يې تاليف کړي دي:

**۲-۱۱-۱ د محمد اعظم ايازي آثار:**

(۱) قواعد پښتو (۲) اصول مقاله نويسي (۳) الفاروق (۴) لس زره لغتونه (۵) د پښتو ګرامر (۶) رياضي و جغرافيه برای صنوف ابتدايي مکاتب.(۲۳: ۶۲)

حبيب الله رفيع بيا په پښتو کتابښود کــې د محمــد اعظــم ايــازي درې اثــار معرفي کړي دي.

۱ــــپښتو نحو، کابل، د انيس اداره، ن ، عمومي مطبعه.

۲ــــ قواعد پښتو، کابل، پښتوټولنه، ۱۳۱۸ ش کال، عمومي مطبعه.

۳ــــ لس زره لغتونه، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۲۰ ش کال، عمومي مطبعه.(۲۰: ۴۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۱۲ محمدیوسف ایازي

د دې تذکرې بل لیکوال محمد یوسف ایازي دی، له نجیب وروسته په نورو پښتو تذکرو کې د نوموړي په باب معلومات نه دي راغلي، کوم معلومات چې ما د محمدیوسف ایازي په هکله ترلاسه کړي، هغه د نورالله اوریا د ماسترۍ تیزس څخه چې په ۱۳۹۰ کال کې یې بشپړکړی او همدارنګه د مرحوم ایازي د کورنۍ څخه دي.

محمد یوسف ایازی د محمد علم خان ایازي زوی او دمحمداعظم ایازي لمسی په ۱۲۸۳هـ ش کال د کندهارښار په یوه درنه علمي کورنۍ کې زیږیدلی دی.ځینې تحصیلات یې په خپله کورنۍ کې بشپړ کړي او د نورو تحصیلاتو په اړه یې بشپړ معلومات په لاس کې نشته ځکه چې د مرحوم د کورنۍ یواځینی کشری زوی چې د ده د مړینې پر وخت د پنځو میاشتو و،له هغه سره هم کوم معلومات نشته،دمحمد یوسف ایازي د دندو او کار په هکله کوم معلومات چې په لاس کې لرو هغه دادي چې مرحوم په۱۳۰۵ هـ ش کال دکندهارد ښارپه یوه ښوونځي کې دمعلم په توګه دنده درلوده،په ۱۳۱۹ هـ ش کال د ثور په۱۴ نیټه په کندهارکې د طلوع افغان د ورځپاڼې د مدیر مسؤل په توګه وټاکل شو او تر ۱۳۲۹ هـ ش کال یې دا دنده پرمخ یوړه.وروسته له ۱۳۲۹هـ ش کال څخه د کندهاردښاروال د مرستیال په حیث وټاکل شو اوبیا د هلمندپه ولایت کې داطلاعاتو اوفرهنګ د رییس په توګه مقرر شو، اروښاد ایازي په ۱۳۶۲ هـ ش کال په کندهار کې ومړ .

### ۲-۱۲-۱ دمحمدیوسف ایازي آثار:

د اروښاد ایازي د زوی په وینا "کله چې په ۱۳۷۱ل کال په کندهار کې اوضاع کړکیچنه شوه نو مونږ خپل کور چې د کندهار په نوي ښارکې ؤ له هرڅه نه ډک پرېښود او یوازې ځانونه مو یو امن ځای ته ورسول، دوه - درې اونۍ وروسته چې خپل کورته راستانه شوو نو زما د پلارتول آثار چې تقریباً

(c) ketabton.com: The Digital Library

دري - څلور بکس کتابونه او قلمي آثار وو څه يې سوځول شوي وو، څه يې خيرې خيرې د کورپه انګړ کې تيت او پاشان پراته وو او يو څه نورې هم خلکوله ځانوسره وړي وواودکارشی يې مونږ ته نه وورا پريښي."(۱:مرکه)

يواځې دې ده دوه اثره چې په کندهار کې چاپ شوي او زما لاسته راغلي معرفي کوم:

۱ـ دکتاب نوم:( د بيت المقدس ساتنه) دخارجي منابعو څخه د اروښاد محمديوسف ايازي ترجمه دترجمې کال ۱۳۲۸ هـ ش .

خپرندوی: سنځرخپرندويه ټولنه /کندهارچاپ کال: ۱۳۸۶ش

۲ـ دکتاب نوم : د انګريزانو پنجابی جاسوس

ژباړن : اروښاد محمد يوسف ايازی

خپرندوی: سنځرخپرندويه ټولنه /کندهار،چاپ کال ۱۳۸۷ هـ ش.

۳- باغوان د رابندرناتهـ ټاګور اثر دی چې په ۱۳۲۱هـ ش کال محمديوسف ايازي ژباړلی او په همدغه کال په طلوع افغان کې چاپ شوی او بيا په ۱۳۳۶ل کال په ۲۵ بيلابيلو ګڼو کې د دوهم ځل لپاره په طلوع افغان کې خپور شوی دی.(۲: ۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۱۳ محمد انور ايازي

محمد انور ايازي د دې تذکرې يو بل معاصر ليکوال دی، چې د سوانحو په باب يې يواځې استاد نجيب معلومات راوړي، د نوموړي په هکله په هيڅ بلې پښتو تذکره کې معلومات نه دي راغلي.

## ۲-۱۴ لعل محمد احمدي

د ښاغلي نجيب په تذکره کې مو د پښتو ژبې د يادشوي ليکوال په بــاب څــه يادونې ولوستې، خو له ده وروسته د لعل محمد احمدي پــه بــاب څــه نــه دي ليکلي شوي اونه زما له نظره تېر شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۱۵ نظر محمد اڅک

په دې تذکره کې د نظرمحمد اڅک د ژوند په هکله یوڅه معلومات راغلي، لـه ښاغلي نجیب ځخه څوکاله وروسته عبدالرووف بینوا په اوسني لیکــوال کــې لیکلي: نظرمحمد اڅک د لعل محمد زوی په ۱۳۰۹ هـ کال د کندهار د شــاهي طبیلې په کوڅه کې زیږیدلی دی.

نوموړی د پښتو او فارسي ژبو ښه نثر لیکونکی تېرشوی او په پښتو ژبه یې هم شعرونه ویلي دي.

د نوموړي آثار په اتفاق اسلام او طلوع افغان کې زیات خپاره شــوي دي خــو د مستقلو اثارو نومونه یې نه دي ذکر شوي.

د ماموریت دوره یې زیاته په قبایلو او مطبوعــاتو کــې تېــره شــوې ده او پــه وروستیو کې یې د داخله وزارت دقلم مخصوص مدیر هم پاتې شوی.

### ۲-۱۵-۱ د نظر محمد اڅک د نظم نمونه:

ساقي جام راوړه بهار سو باغ وراغ ټول لاله زار سو
غوټۍ بیا په مسکیدو سوه بلبلان په نڅیدو سوه
آبشار بیا وهي موجونه بوراګان کړي اتڼونه
هله زما د زړه همرازه تر تاجارشمه د مسازه
راته خلاصه میخانه کړه وروسته ډکه پیمانه کړه
نه خو غل شته نه غدار شته نه غماز شته نه رویبار شته
وچی شونډې زړه بې شوره دا خمارحال ته می ګوره
نن دی وار دی که څه داد کړې په خپل داد مې خاطر ښاد کړې
نورډیل نه ښایې تلوار که له سروره مې خمار که
ستاتر سرو سترګو درجار شم ترتا وګرځم نثار شم
اې زما د زړه همدمه ! زړه مې وچاودی له غمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوش مشربه خریدار یم ترتا وګرځم نثار شم
ډکی ډکی پیمانې کړه نن له موره یارانې کړه
ستا تر ډک جام سپیلنی شم ستا کرم ته دې واری شم
ترتا وګرځمه راشه د زخمي زړګي دوا شه
ما ته راکه د تاک وینه چه مې یخه شي پرې وینه
له عالمه بیګانه شم یوه نوې افسانه شم
له زاړه فکره پرواز کړم ځانته نوی جهان ساز کړم
یو جنون اویو هستي وي په شرابو کښې مستی وي
دسرونا بو پیا له اخلم تشه ږدم ډکه را اخلم
زه به خاندم ته به ناڅې زه به کښینم ته به پاڅې
ساقي ژرکوه بهار دی زرغون واړه لاله زار دی
جام اوچت که مسلمان شه جنتي په دې جهان شه(۷: ۱۳۰۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۱۶ سید حسن اتم

سید حسن اتم د دې تذکرې ۱۶ شمیره لیکوال دی د ده د سوانحو او فرهنګي فعالیتونو په باب هم په نورو تذکرو کې معلومات نه دي راغلي یـوازې ښـاغلي عبدالقدوس نجیب د ده سوانح راوړي دي.

## ۲-۱۷ منشي احمد جان

د دې تذکرې بل لیکوال منشي احمدجان دی،د ده په باب هم پـه دې تـذکره کې معلومات راغلي خو بشپړ نه دي.له نجیب وروسته د پښـتنو لیکوالـو پـه بیلابیلو تذکرو کې د منشي احمد جان په باب ډېر معلومات راغلي دي.

مشني احمد جان د قاضي عبدالرحمان په کور کې په ۱۸۸۲ ع کال په ډیسمبر میاشت کې د بنو په مشهور کلي«فاطمه خیل» کې زیږیدلی دی.

نوموړی د پښتو هنري نثر له موسسینو څخه دی.منشي احمد جان په پیښـور کې ژوند کاوه، او انګریزانو ته یې پښتو ژبه ور زدکوله،چې د خان بهادري لقب یې هم ورکړی و.

له دې سربیره یې د پیښور په یوې محکمه کې د یوه افسر په توګـه هـم کـار کړی او په همدې وخت کې یې په پښـتو ژبـه قیصـې، حکایـات، او مختلفـو موضوعاتو مضامین لیکلي دي.

د منشي احمدجان ، د لیکلو طرز ساده، عـام فهـم او روان دی. خـان بهـادر منشي احمد جان په ۱۳۳۰ هــ ش کال له نړۍ سترګې پټـې کـړې، د ده آثـار تاریخ افغانستان، چې له (انګریزي څخه ژبـاړلی دی)، هغـه دغـه، او د قصـه خوانی ګپ ښودل شوي.

منشي احمد جان د اوو او لادونو، چې پنځه یې زامن او دوه لوڼې وې پلار وو.

او په پای کې د ستوني سرطان له امله په ۱۹۵۱ ع کـال د اکتـوبر پـه ۱۹ نیټـه وفات شو او د پیښور صدر په هدیره کې خاوروته وسپارل شو.(۲۳: ۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲-۱۷-۱ د منشي احمدجان آثار:**

**۱ ــــ تاریخ افغانستان،پیښور،ن، ۱۹۳۰ع، ن.**

**۲ ــــ د قصه خوانی ګپ، پېښور،بهاري لال،۱۹۳۰ ع ، کانپور ارټ.**

**۳ـــ هغه دغه، پېښور، بهاري لال، ۱۹۲۹ ع ، ن .(۲۰: ۲۵)**

**همیش خلیل هم د پښتانه لیکوال په لومړي ټوک کې د منشي احمد جان بشپړ سوانح او همدارنګه د ده د اووه آثارو نومونه یاد کړي چې د بشپړ سوانح او آثارو ذکر یې دلته راوړم.**

**د منشي احمدجان پلار قاضي عبدالرحمان په اصل کې د غزني اوسیدونکی وه، د قاضي عبدالرحمان د پلار نوم غلام قادر خان و، د غلام قادر خان په ځلورو زامنوکې قاضي عبدالرحمان د ټولونه مشر و.**

**قاضي عبدالرحمان د خپل کشر و رور خدای نظر سره د تعلیم حاصلولو په خاطر هندوستان ته ولاړ، د عربي او فارسي د علومو له حاصلولووروسته بنو ته راغلل، دغه وخت قاضي عبدالرحمان د بنو په یوه ښوونځي کې د عربی او فارسي ژبو ښوونکی مقرر شو، خدای نظر بیرته غزني ته ولاړ، مګر قاضي عبدالرحمان په بنوکې پاتې شو.**

**همیش خلیل د منشي احمد جان لاندې آثار معرفي کړي دي:**

**۱ ــــ د قصه خوانی ګپ**

**۲ ــــ هغه دغه**

**۳ ــــ د افغانستان تاریخ ( پښتو ژباړه )(۱۶: ۴۴)**

**۲-۱۷-۲ د منشي احمد احمد جان د نثر نمونه:**

**قیصې او ټقالې**

**لومړی حکایت: یو باد شاه او شهزاده دواړه پلار او زوی ښکارته وتي وو، چې ګرمې یې وشوه، نو خپلې چوغې یې د یو ټوقي په اوږه واچولې، بادشاه ورته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکی شوه او ویې ویل چې ای ټوقماره ! په تاخو د یوه خره بار جوړ شه، هغــه ورته وویل چې نه قربان دې شم د دوو.

دویم حکایت: یو طبیب چې به چیرې هدیرې ته ته نو په مخ به یې څادراچاوه خلکو ترینه تپوس وکړ چې دا ولې ؟ هغه ورته وویل چې د دې قبرونو د مړونه زه ډیر شرمیږم ځکه چې دوی زما په دارو مړه شوي دي.

څوارلسم حکایت : یوغریب شاعر یو دولتمند ته ملاقات د پاره لاړ او هغه سره داسې نږدې کیناست چې د هغه او د ده مینځ کې یو لوېشت فــرق وو، دولــت مند په دې خبره خفه شو، ویې ویل چې یار تاکې او خره کې څومره فرق دی؟ هغه وویل چې یو لویشت، دولت مند په دې خبره خفه شه او معافي یــې تــرې وغوښتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۸-۲ رحمت الله بابا

د رحمت الله بابا د ژوند په باب هم په دې تذکره کې عمومي معلومات راغلـي دي. خو په دې تذکره کې د رحمت الله د زوکـړې، وفـات او همدارنګـه د ده د آثارو په باب څه نه دي راغلي، له نجیب څخه وروسته په پښتانه شـعرأ دریـم ټوک چې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی او همدارنګه سرمحقق زلمي هیواد مل په فرهنګ زبان و ادبیات پشتو کې د ملارحمت الله بابا په بـاب معلومـات راوړي دي:

ملارحمت الله د عبدالله پوپلزي زوی د عطا محمد لمسی په خټه پوپلزی۱۲۵۳ ش کال د کندهار په «بلده» کې زیږیـدلی دی. دی د پښــتو ژبـې د معاصـرې دورې یو تکړه شاعر تیر شوی، رحمـت الله بابـا مـروج علـوم، لکـه تصـوف، فقه،منطق او د ادب او بلاغت فنون له خپل پلار او د سیمې لـه نـورو علمـاوو څخه زده کړي. نوموړی د کندهار د بزم او ادب پـه حلقـو کـې اوس هـم پـه ملارحمت الله بابا مشهور دی. د ده د اشعارو دیوان هم راټـول شـوی او چـاپ شوی دی.

د ده اشعار ډیر ساده او نازک دي، د نازک خیالی په لحاظ، یو مخصوص سـبک لري، ده په ډیرو لطیفو تمثیلاتو او مناسبو تشبیهاتو خپل شعر خوندور کړی.

د نوموړی ډیری اشعار په طلوع افغان اخبار کـې خپـاره شـوي دي او د دغـه اخبار مدیر هم پاتې شوی دی.

رحمت لله په ۱۳۳۰ هـ ش کال د حج د فریضې د ادا کولو د پاره حجاز تـه ولاړ او له حج نه د راستنیدو په لار د کویټ پـه ریګسـتانکې وفـات شـو او هلتـه خاورته وسپارل شو.(۲۳: ۱۸۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۱۹ عبدالرؤف بېنوا

د پښتو ژبې د معاصرې دورې ليکوال عبدالرؤف بينوا د دې تذکرې بل ليکوال دی چې ښاغلي نجيب يې په باب معلومات راوړي دي، د دې تذکرې له ليکلـو وروسته ، عبدالرؤف بينوا خورا زيات کتابونه ليکلي چې زه د خپله عبــدالرؤف بينوا له خولې اوهمدارنگه د ځينو نورو پښتنو ليکوالو له آثارو چې د نوموړي د ژوند او اثارو په باب يې معلومات راوړي دلته راوړم:

عبدالروف بېنوا د مفتي عبدالله، زوي او د مولوي عبدالحق اخنــدزاده، لمســی دی. دوی له اصله د کندهار د معروف له عليزو څخه دي، چې بيــا د دوی لــوی نيکه ملا گلاب آخند د هلمند ولايت موسی کلا ولسوالی تــه تللــی او هلتــه د موسی کلا په سربينه کې، چې اوس دېر خلک ورته په اصطلاحي ډول سربېښه وايي، مړ او ښخ دی. خو د ملا گلاب آخند لمسی مولوي عبــدالحق آخنــدزاده شل کلن و، چې له موسی کلا څخه بېرته کندهار ته راغی او د کندهار ښار لــه خرقې شريفې سره نږدې يې د سيد حسن خان په کوڅه کې يې واړول، هماغه و، چې استاد بېنوا هم په ۱۲۹۲ لمريز کال کې د وړې پر لومړۍ نېټه وزېږېده او همدلته لوی شو.

استاد بېنوا د قرآن کريم تر زده کړې وروسته د خپل ورور مولوي عبــدالکريم حقاني تر استادۍ لاندې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ او عربي صرف او نحو يــې ترې زده کړل، بيا يې فقه ولوستله چې مولوي ترې جوړ شو، تــر دغــو زدکــړو وروسته يې ادبي ډگر ته مخه کړه او په شعر ليکلو يې پيل وکړ، چــې لــومړني شعرونه يې د کندهار په طلوع افغان کې خپاره شوي دي، بيا کابل ته تللی او د خپل ورور مولوي حقاني کره اوسېده، په همدغه وخت کې يې خپلو نورو زده کړو ته دوام ورکړ او عربي ادبيات يې په شخصي توگه زده کړل، بديع، بيــان او گرامر يې هم زده کړل، چې بيا يې څو کاله وروسته د کابل پوهنتــون د ژبــو او ادبياتو په پوهنځي کې د ژبپوهنې په څانگه کې وظيفه واخيستله. استاد بينوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

عربي، اردو ، دري او انګرېزي ژبې زده وې او په هغو کې د پوره مطالعې څښتن و.

## ۲-۱۹-۱ داستاد بېنوا رسمي دندې:

عبدالرؤف بېنوا د ادبي فعالیتونو سربیره په دولتي ارګانونو کې هم ډېرې مهمې رسمي وظیفې اجرا کړې دي، چې خپله ارواښاد په خپل قلم داسې بیان کړي:

۱ـ د کابل د ادبي انجمن غړی ۱۳۱۸ لمریز کال

۲ـ د کابل د ادبي انجمن د نشراتو مرستیال ۱۳۱۹ لمریز کال

۳ـ د پښتو ټولنې د صحافت مدیر ۱۳۱۹ لمریز کال

۴ـ دکابل مجلې مدیر ۱۳۲۰ لمریز کال

۵ـ د مطبوعاتو د ریاست د نشراتو مرستیال ۱۳۲۰ لمریزکال

۶ـ د پښتو ټولنې مرستیال ۱۳۲۳ لمریز کال

۷ـ د پښتو ټولنې عمومي مدیر ۱۳۲۵ لمریز کال

۸ـ د تاریخ د انجمن غړي ۱۳۳۰ لمریزکال

۹ـ د مطبوعاتو ریاست د داخلي نشراتو عمومي مدیر ۱۳۳۱ لمریز کال

۱۰ـ په ډېلي کې د افغانستان د سفارت مطبوعاتي مستشار ۱۳۳۱ لمریز کال

۱۱ـ دکابل راډیو رئیس ۱۳۳۵ لمریز کال

۱۲ـ د افغانستان او هند د دوستۍ د انجمن غړی ۱۳۳۶ لمریز کال

۱۳ـ د افغانستان او شوروي د دوستۍ د انجمن غړی ۱۳۳۹ لمریز کال

۱۴ـ په قاهره کې د افغانستان د سفارت مطبوعاتي مستشار ۱۳۴۲ لمریز کال

۱۵ـ د افغانستان راډیو رئیس ۱۳۴۴ لمریز کال

۱۶ـ د قبایلو د مستقل ریاست مرستیال ۱۳۴۵ لمریز کال

۱۷ـ د اطلاعاتو او کلتور وزیر ۱۳۴۶ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸ــ د ولسي جرگې وکیل ۱۳۴۸ لمریز کال
۱۹ــ د پښتو د بین المللي تحقیقاتو د مرکز اجیر غړی ۱۳۷۵ لمریز کال
۲۰ــ د افغانستان اکاډمۍ اجیر غړی ۱۳۵۷ لمریز کال
۲۱ــ د صدارت مشاور د فوق رتبه په حیث ۱۳۵۸ لمریز کال
۲۲ــ په لیبیا کې د افغانستان سفیر ۱۳۵۸ لمریز کال

عبدالرؤف بېنوا په ۱۳۶۲ لمریزکال کې د امریکا په متحده ایالاتو کې سیاسي پناه واخیسته، او یو کال وروسته یعني په ۱۳۶۳ لمریز کال د جدې پر ۲۱ مه نېټه، د هغې ناروغۍ له امله چې ورپېښه وه، وفات شو.

**۲-۱۹-۲ د بینوا آثار:**

۱ ــــ ادبي فنون، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۲۶ ش ، دکابل عمومي مطبعه.

۲ ــــ اوسنی لیکوال(لومړی ټوک)، کابل د مطبوعاتو، مستقل ریاست، د کورنیو خپرونو لوی مدیریت، دجوایزو او د کتاب چاپولو څانگه،۱۳۴۰ ش، دولتي مطبعه.

۳ ــــ اوسنی لیکوال(دوهم ټوک)،کابل د مطبوعاتو، مستقل ریاست، د کورنیو خپرونو لوی مدیریت، دجوایزو او د کتاب چاپولو څانگه،۱۳۴۱ ش، دولتي مطبعه.

۴ ــــ اوسنی لیکوال( دریم ټوک )،کابل د مطبوعاتو، مستقل ریاست، د کورنیو خپرنوو لوی مدیریت، دجوایزو او د کتاب چاپولو څانگه،۱۳۴۶ ش، دولتي مطبعه.

۵ ــــ «پښتنې میرمنې»،کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۲۳ش ، د کابل مطبعه.

6 ــــ «پښتونستان»،کابل، د مطبوعاتو، مستقل ریاست، د داخلي نشراتو عمومي مدیریت دوهمه څانگه ۱۳۳۰ ش، دکابل عمومي مطبعه.

7 ــــ «چند آهنگ پښتو»،کابل، راډیو افغانستان،ن، د کابل عمومي مطبعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٨ ـــ خوشحال او پسرلی، کابل ، د راډیو افغانستان د پښــتون غــږ مــدیریت، ١٣٣٧ ش، دولتي مطبعه.
٩ ـــ خوشحال ختټک څه وايي؟، د بلخ د اتحاد يې شركت،١٣٢٧ ش ، مطبعــه محمدي بمبيی.
بل چاپ :کابل،پښتو ټولنه، ١٣٢٩ ش، عمومي مطبعه.
10 ـــ د افغانستان نوميالي(لومړی ټوک)، کابل، د اطلاعاتو او کلتور وزارت ـــ د پښتو د انكشاف او تقويې آمريت، ١٣٥٣ ش، دولتي مطبعه.
١١ــد افغانستان نوميالي(دوهم ټوک)، کابل، د اطلاعاتو او کلتور وزارت ـــــ د پښتو د انكشاف او تقويې آمريت، ١٣٥٣ ش، دولتي مطبعه.
١٢ ـــ د افغانســتان نوميــالي(دريم ټوک)،کابــل،د اطلاعــاتو او کلتــور وزارت دنشراتو رياست،١٣٦٠ ش، دولتي مطبعه.
١٣ ــــد پير محمد كاكړ ديوان،کابل، پښتو ټولنه، ١٣٣٥ش، دولتي مطبعه.
١٤ ـــ د رحمان بابا ديوان، کابل، پښتو ټولنه، ١٣٢٨ش، عمومي مطبعه.
١٥ ـــ د زړه خواله، کابل، د کتاب چاپولو مؤسسه، ١٣٤٥ش ، دولتي مطبعه.
١٦ ـــ د غنمو و ږی،کابل، پښتو ټولنه، ١٣٢٥ ش ، عمومي مطبعه.
١٧ ـــ د كاظم خان شيدا ديوان، کابل پښتو ټولنه، ١٣٣٠ ش ، د کابل عمــومي مطبعه.
١٨ ـــ ګيتاانجلي(رابندر اناتهـ ټـاګور)، کابــل، پښــتو ږغ، ١٣٣٦ ش، دولتــي مطبعه.
١٩ ـــ ګيتا آنجلي( رابندر راناتهـ ټاګور )، سريزه د پوهاند عبدالشكور رشــاد، کابل، پوهنتون د ادبياتو پوهنځی،١٣٥٤ ش ، دولتي مطبعه.
٢٠ ـــ لنډی،کابل،راډيو افغانستان،١٣٣٧ ش، عسكري مطبعه.
21 ـــ ميرويس نيكه، کابل، پښتو ټولنه، ١٣٢٥ ش، عمومي مطبعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲ ـــ نیټه لیک یادښتونه یا د افغانستان تاریخي پېښــې ( لــومړی ټــوک ) ، کابل، د ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۵۴ ش، دولتي مطبعه.
۲۳ ـــ ویښ زلمیان، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۲۶ ش، عمومي مطبعه.
۲۴ ـــ هوتکیان، پښتوکوونکی محمد یونس مراد، کابل، د تاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۵ ش ، دولتي مطبعه.
۲۵ ـــ د ښځې حقوق او مقام، کا بل، د بیهقي کتاب چــاپولو مؤسســه، ۱۳۵۴ ش، دولتي مطبعه.
۲۶ ـــ د بینوا ـــ پریشانه افکار،کابل، د پښتو ټولنې د ادبیــاتو خانګــه، ۱۳۳۵ ش، دولتي مطبعه.
۲۷ ـــ پښتو روزنه،کابل،د پښتو څېړنو بین المللــي مرکــز،۱۳۵۷ ش، دولتــي مطبعه.
۲۸ ـ د افغانستان نومیالي،څلورم ټوک،د اطلاعاتو او کلتور وزارت،۱۳۵۸ هــــ ش .
۲۹ ـ نیټه لیک یادښتونه یا د افغانســتان تــاریخي پیښــې،دویم ټوک،کابــل پوهنتون ۱۳۵۷ هــ ش .(۲۰: ۵۶)

د بینوا صاحب پورته یاد شوي او یو شمیرنور اثار هم د اوسني لیکوال د دریم جلد په پای کې معرفي شوي چې زه دلته د هغو اثارو یادونه کوم چې ښــاغلې رفیع په پښتو کتابښود کې نه دي راوړي:

۱ ـــ پښتو کلي: ـــ څلورم جلد چې په ۱۳۲۰ ش کال د پښــتو ټــولنې لخــوا د درسي او تعلیمي کتاب په حیث چاپ شوی دی.

۲ ـــ پردیس : ـــ دا د علامه اقبال د «مسافر» نومي منظوم کتاب په پښتو نظم ترجمه ده چې د ۱۳۲۱ ش کال د انیس په ورځپاڼه کې نشر شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ ـــ پښتو د شاهانو په در بار کې:ـــ دا يوه رساله ده، چې په کې د شاهانو له خوا پښتو پالنه ياده شويده، دا رساله د ۱۳۲۲ ش کال کې په «کابل کالنۍ» کې نشرشوې ده.
۴ ـــ د هوتکو په دوره کې پښتو :ـــ داهم يوه وړه رساله ده چې د هوتکو مشرانو او شاعرانو توجه پکې ستايلې او څيړلې شوې ده.
۵ ـــ آريايي، پارسي، پښتو مرثيې او ويرنې :ـــ دا رساله د ۲۶ ـــ ۱۳۲۵ ش کلو په «کابل کالنۍ» کې نشر شوې ده.
۶ ـــ د دار مستتر پښتو څيړنې :ـــ دا کتاب فرانسوي مشهور مستشرق (جيمس دار مستتر) په فرانسوي ليکلي چې ښاغلي سيدقاسم رښتيا په پارسي ترجمه کړی او ښاغلي حبيبي او بينوا پښتو اړولی او په ۱۳۲۶ ش کال پښتو ټولنې چاپ کړی دی.
۷ ـــ نظرې به پښتونستان :ـــ دا په فارسي ژبه يوه رساله ده ،چې په ۱۳۲۹ ش کال په کابل کالنۍ کې هم او ځانته په مستقل شکل هم چاپ شوې ده.
۸ ـــ ليډران امروزي پښتونستان :ـــ دا د پښتونستان د اوسنيو ځينو مشرانو او ليډرانو لنډه پيژند ګلوي ده، چې د ۱۳۳۱ ش کال په کابل کالنۍ کې او ځانته د رسالې په شکل چاپ شوېده.
۹ ـــ پاچا خان :ـــ دا کتاب له اردو څخه په فارسي ژباړل شوی او ۱۳۳۸ ش کال د انيس په ورځپانه کې پرله پسې چاپ شوې ده.
۱۰ ـــ پښتو قرائت :ـــ د پوهنې د وزارت په غوښتنه د ښوونځيو د لسم ټولګي د پاره په ۱۳۳۹ ش کال ليکل شوی.
۱۱ ـــ زوړ ګنهګار :ـــ دا يوه پښتو ډرامه ده چې د قندهار په پوهنه ننداري کې تمثيل شوې او هم د کابل راډيو په« پښتون ږغ » کې خپره شوېده.
۱۲ ـــ کابر اصل :ـــ دا يوه تنقيدي ډرامه چې په فارسي ليکل شوې او د کابل په پوهنې ننداري کې تمثيل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳ ـــ اشتباه :ـــ دا هم یوه اجتماعي ډارمه ده چې د کابل د جشن په صـحنه کې تمثیل شوې ده.
۱۴ ـــ آشیانه عقاب :ـــ یوه تاریخي او حماسي ډرامه ده چې په فارسي لیکـل شوې او د کابل په پوهنې ننداره کې تمثیل شوې ده.
۱۵ ـــ زرنګ:ـــ یوه راډیویي ډرامه په پاړسي لیکل شوې او هماغه وخـت پـه کابل راډیوکې تمثیل شوې ده.
۱۶ ـــ حکومت بیدار است :ـــ دا هم یوه راډیـویي ډرامـه ده چـې پـه کابـل راډیوکې تمثیل او «پښتون ږغ» په مجله کې چاپ شوېده.(۷: ۱۵۱۰)

**۲-۱۹-۳ د عبدالرؤف بینوا د نثر نمونه:**

**ګرانه ملګریه:**

زه چې تاته څه لیکم داله بېکاریه نه دي ، خو د بېکارۍ و خت کـې دي ، مګـر بیکاره ورته ویل به لږ ظلم غوندې وي .زه پوهېږم چې ستا د کار سره دومـره مینه ده، چې نه غواړې د کار وخت دې په بېکاره خبرو تېرسي ، خو پخپله به د کار په باب کې د زړه خوالـه کـول کـار نـه وي.کـار د ژونـد نښـه ده او د ژوندونښت پرکار ولاړ دی ، لیکن څنګه کار ؟ او څنګه باید شروع سي ؟ دا ډېر دقت او سنجش غواړي . د کار تر شروع د مخـه دکـار امکانـات سـنجول ، د کارپه سرکې د کار پای ته کیدل ، د کار موانع او مشکلات په نظر کې نیـول او خپل توان لیدل هغه ضروري خبرې دي، چې د کار خاوند د هوس او تظاهر له لارې را ګرځوي، کوم کار چې د هوس او تظاهر له مخي شروع کېږي ، هغه بـه ضرور نیمګړی پاته وي او هغه کار چې نیمګړی پاته او سرته نه رسـېږي ښـه داده چې شروع سي اود شاعر په و ینا : ترنیمګړې مستۍ به هوښیاري ده پـه پښتو کي یو متل دی ، وایي: ډېره چې له ځایه پورته کولای نه سې له ځایه یې مه خو ځوه.ډېر کسان سته چې تش د تظاهر او هوس لـه لارې پـه کـار لاس پورې کوي، خوڅنګه چې سنجش ور سره نه وي نو په نیمه لاره کې پـاتېږي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالي او جسمي توان یې صرف سي خو بېځايه بې نتيجې او بې ګټي.د کـار بـل شرط کارد کار اهل ته سپارل دي ، ځکه چې هر چاته کار سپارل د کار اهليت ته اهميت نه ور کول دي او چی دې اهميت ته په سپکه سترګه وکتل سي نـو ګواکې له بيزو څخه د نجاری کارغو ښتل دي او دا خو کار پرمخ نه بيايي،بلکی کار شنډوي، البته دا خبره دا معنی نه لري چې يوه سړي ته چې نه ديوه کـار اهليت لري ټول کارونه و سپارل سي، نتيجه دا سوه چې نه خو بايد هـر چاتـه هر کار و سپارل سي او نه هم بايد ټول کارونه يوه سړي ته پر ېښـودل سـي، ياپه بل عبارت د کار له پاره بايد اهل سړی پيدا کړه سـي ، نـه د بـې اهليتـه سړي له پاره کار.او که بياهم کارپرمخ نه ځي نو علت او سبب يې بايد د کار په ماشين کي ولټول سي. رښتيا هم د کار انتظام او حرکت د يوه ماشين د پـرزو سره زيات شباهت لري، په ماشين کې که ټولي پرزي روغې وي او کار و کـړي خو چې يوه حساسه پرزه يې له کاره و لو ېړي ماشين سم کارنـه کـوي د دې چاره د هغي بېکارې پرزې سمول يا اليشول دي، مګر که د ماشين زياتي پرزې وراني وي او يوې يا څو پرزو کار کاوه، داکار بې له دې چی دا بېکاره پرزې هغه کار ګري پرزې هم له کاره وا چوي اويايې کار ورسست کړي بله نتيجه ورځنې اخيستل مشکل ښکاري. همد اشان اجتماعي او اداري چارې په خپل منځ کې سره ټينک ارتباط لري ځينې وختونه دا ارتباط ځرګند او مسـتقيم وي اوکلـه هم پټ او غير مستقيم . مثلا ډيري اداري وي چې په يوه اداره کې پـه ډېـرې تېزی سره رواني وي خو څنګه چـې د دې چـارو پرمختـګ د نـورو ادارو پـه فعاليت هم اړه لري نو که هغه اداري پخپل فعاليت کـې جـدي وي د لـومړی اداري کاميابي حتمي ده او که هغه ادارو پخپلو چارو کي فعاليت نه درلود نـو دلومړی اداري جديت او فعاليت هم مطلوبه نتيجه نه ورکوي دا چې پـه ځينـو ځايو کي فعاليت ولې لږېږي ، د دې علت اکثره د هغو ځـايو د اداري سيسـتم وراني وي او يا د کار کوونکو عدم دلچسپي ، دعدم دلچسپی ، علت خو يـا نـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهي او نالايقي يا د کارکوونکو د اقتصادي وضعيت پر ېشاني ، چې علت يې د کار غير عادلانه شرايط ، او د کار او دکار د اجرأ ترمنځ عدم مساوات دی له دې نه چې تېرسو دکار کوونکي او کارفرما ترمنځ په عادلانه صورت د روابطو تنظيم ، د کار فرما دلچسپي ، د کار فرما له خوا د کار کوونکو تشويق ، تقدير اوترغيب هم د کار په پرمختګ کي ښه اغېزه لري نو ګرانه ملګريه ؛ که زه او ته غواړو چې کارونه مو پرمخ ولاړ سي نوبايد دا ذکرسوي نکات په نظرکي ونيسواوچې د کار سر او پای ، خپل توان او اهليت مو وسنجاوه نو کاميابي موحتمي ده ،که دانه وي تش د کارپه فکر بېکاره کښېناستل او بېکاره ورځې شپې تيرول نه ستا له پاره ګټه لري اونه د ملګري له پاره.

اوس دنيا يوازې ويلو ته ضرورت نه لري بلکي کول هم غواړي.(۸: ۱۵)

## ۲-۲۰ عبدالشکور رشاد

عبدالشکور رشاد د ښاغلي نجيب د تذکرې بل پښتون ليکوال دی. د ده په باب هم لکه د نورو په ځيرمعلومات راغلي دي البته د نورو په پرتله د ده په هکله يوڅه زيات ويل شوي خو بياهم د ده د ژوند، آثارو او د وفات نيټې په باب معلومات نشته چې دا دې د پښتو ليکوالو د ځينو نورو تذکرو په اساس يې زه دلته راوړم: عبدالشکور رشاد د عبدالغفور خان زوی، دحاجي محمد ايازخان لمسی په ختېه بابړ د پښتو ژبې پوخ ليکوال او شاعر تير شوی دی په ۱۳۰۰ هـ کال کا کې د قندهار ښار د بابړو د کوڅې په يوه بډايه کورنۍ کې زېږيدلی دی او په ۱۳۱۲ هـ کال کې له ابتدايي ښوونځي څخه فارغ شوی نورې زدکړې يې په خصوصي توګه کړي دي.

ښاغلي رشاد د پښتوژبې په ادب کې ژورې کتنې او عالمانه څېړنې کړي دي. ده د پښتو او پښتنو د تاريخ په روښولو کې ډېر زيار ايستلی دی، برسيره پرډېرو مضامينو چې په دې لاره کې يې د هيواد په اخبارو او ادبي مجلو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکلي دي ځینې ګټور تدریسي، ادبي او تاریخي مستقل آثار یې په پښتو تألیف او یا ترجمه کړي دي، چې دا ټول د ده د علمي خېړنې ذوق په تېره بیا د پښتوژبې د ادب او پښتو د تاریخ سره د ده مینه ثابتوي .

که څه هم ده زیار ایستلی چې په نثر او نظم کې د پښتو ژبې سوچه او لرغوني لغتونه او اصطلاحات راوړي چې له دې امله کله کله په خپله هم مجبوریږي چې د داسې لغاتو او اصطلاحاتو شرح د خپلو لیکنو په پای (فټ نوټ) کې ولیکي خو بیا یې هم له اشعارو د یو اغیز ناک پټ درد پته او څرک لګي په تیره بیا د انساني مینې تأثیرات پکښې زیات لیده شي.(۵: ۴۵۸)

د پښتو معاصرو لیکوالو په تذکرو کې د ده د وفات نیټې په باب څه نه دي ویل شوي خو د وفات نیټه او همدارنګه د ده د آثارو په باب معلومات مې د ده دمشر زوی ډاکټر طارق رشاد له یوې مقالې څخه را اخیستي:

عبدالشکور رشاد د ۱۳۸۳ ل کال د لېندۍ د میاشتي پر یوولسمه نېټه، د چهارشنبې په ورځ د کابل په څلورسوه بستریز روغتون کې د زړه د ناروغۍ له امله په حق ورسېد.

ارواښاد استاد په پاړسي، عربي، اردو، هندي، روسي او انګریزي ژبو پوهېده او له ترکې او جاپاني ژبو څخه یې هم استفاده کوله . پر خپلې مورنۍ ژبې سربېره یې په پاړسي او اردو ژبو کې هم ښه عروضي شاعري کوله ، خو ده خپل ټول ژوند د پښتو ادب د پرمختګ او ودې په لاره کې تېر کړی دی ، علمي ، ادبي او تاریخي اثار یې لیکلي ، د نړیوالو ادبیاتو ژباړې یې کړي او زیات شعرونه یې زموږ شعري نړۍ ته ډالۍ کړي دي . د ده (۴۹) آثار له سلګونو مقالو سره چاپ شوي دي او یو شمیر نور ناچاپه دې چې په لاندې ترتیب سره ذکر کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲۰-۱ د عبدالشکور رشاد چاپي آثار:

1. ملحد شاهي یا کمونیست شاهي، شعري ټولګه ده چې د ۱۹۷۸ م کال د کودتا څخه تر ۱۹۹۲ م کال پورې د وخت د حکومت د کړنو غندنــه پکې شوې ده.
2. تنظیم شاهي ، شعري ټولګه ده چې د ۱۹۹۲م کال څخــه تــر ۱۹۹۶ م کال پورې د هغه وخت د حالاتو ذکر پکې شوی دی.
3. طالب شاهي ، شعري ټولګه ده، چــې د طالبــانو لــه حکومــت څخــه وروسته چاپ شوې ده.
4. لودي پښتانه په ۴۲۰ مخونو کې، د ۱۹۵۸ م کال چاپ.
5. ډهلي د پښتنو په وخت کې، سریزه، د ۱۹۶۰ م کال چاپ.
6. د لیو تولستوی درې نکلونه، (پښتو ژباړه) د ۱۹۶۱ م کال چاپ.
7. د یولسم ټولګي پښتوقرائت ، د ۱۹۶۱ م کال چاپ.
8. د امیر خسرو دهلوي هندي شاعري، د ۱۹۷۴ م کال چاپ.
9. د خیرالبیان لغتونه، سریزه، په ۱۲۲ مخونوکې، د ۱۹۷۴ م کال چاپ.
10. د خیرالبیان په سریزه کې درې مقالې، د ۱۹۷۴ م کال چاپ.
11. د دولت لواڼي د دېوان سریزه ، د ۱۹۷۴ م کال چاپ.
12. د واصل روښاني دېوان، سریزه او سمون، د ۱۹۷۴ م کال چاپ.
13. د پاڼي نې، ارزښت ادهیای او په هغه کې پښتو کلمې، د ۱۹۷۵ م کــال چاپ.
14. ګیتا آنجلي (د رابندراناټ ټاګور اثر) د پښتو ژباړې ســریزه، پــه ۱۰۴ مخونو کې ، د ۱۹۷۵ م کال چاپ.
15. تاج (د رابندراناټ ټاګور اثر) د پښتو ژباړې ســریزه، د ۱۹۷۵ م کــال چاپ.
16. د ګولډن شتات د فرهنګ سریزه، د ۱۹۷۷ م کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

17. د ګلشن روه سريزه په ۱۹۲ مخونو کې، د ۱۹۷۷ م کال چاپ.
18. د احمدشاه بابا د پښتو اشعارو شرح او سريزه، د ۱۹۷۷ م کال چاپ.
19. د احمدشاه بابا د دېوان غورچاڼ، د ۱۹۷۸ م کال چاپ.
20. بديع درسي کتاب ، د دارالمعلمين له پاره، د ۱۹۸۰ م کال چاپ.
21. د ابن سينا مخارج الحروف پښتو ژباړه.
22. د پښتو تجويدونو تاريخچه په ۷۴ مخونو کې، د ۱۹۸۰ م کال چاپ.
23. د پښتو اسماء الحسنی سريزه، لغتنامــه او تعليقــات، د ۱۹۸۰ م کــال چاپ.
24. دځمکنو ميا عمر، د ۱۹۸۱ م کال چاپ.
25. د حاجي جمعه بارکزي د دېوان ســريزه او لغتنامــه، د ۱۹۸۲ م کــال چاپ.
26. پر افغانستان او بريتانوي هند باندې څو خبرې، د ۱۹۸۲ م کال چاپ.
27. د پټې خزانې فرهنګ، لومړی چاپ ۱۳۶۲ هــ ش کال.
28. در بارهٔ ظفرنامهٔ اکبري و ناظم آن، د ۱۹۸۶ م کال چاپ.
29. د قصه خوانی خونړۍ پېښه، د ۱۹۸۸ م کال چاپ.
30. لس مقالې، د ۱۹۸۸ م کال چاپ.
31. سوبهاش چندربوس، د ۱۹۸۹ م کال چاپ.
32. د زړه وينې (شعري ټولګه)، د ۱۹۹۱ م کال چاپ.
33. د افغانستان بدې ورځې (شعري ټولګه)، د ۱۹۹۴ م کال چاپ.
34. لولپه پېغله (شعري ټولګه) ، د ۱۹۹۵ م کال چاپ.
35. کوروش خون آشام، ( پاړسي نظم) ، د ۲۰۰۰ م کال چاپ.
36. د پښتنو غميزه (شعري ټولګه)، د ۲۰۰۱ م کال چاپ.
37. خښمبدلې امريکا (شعري ټولګه)، د ۲۰۰۲ م کال چاپ.
38. د واده کلی کربلا سو (شعري ټولګه) ، د ۲۰۰۳ م کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


39. د تودو وينو حمام افغانستان سو (شعري ټولګه)، د ۲۰۰۳ م کال چاپ.
40. د افغانستان د تاريخي جغرافيې په اړه د علامه رشـاد سـره د مرکـو ټولګه، (لومړۍ برخه)، د ۲۰۰۴ م کال چاپ.
41. تېروتنې (تاريخي او ادبي) لومړۍ برخه، د ۲۰۰۴ م کال چاپ.
42. بې لاسو ښځه (د ليو تولستوی د اثر ژباړه)، د ۲۰۰۴ م کال چاپ.
43. لوی احمدشاه بابا د خلکو له نظره ، ( د افغانستان د اکاډيمۍ له خوا)، د ۱۹۹۱ م کال چاپ.
44. رونې اوښکې (شعري ټولګه) په ۱۲۰ مخونو کې، د ۲۰۰۵ م کال چاپ.
45. د ګلانو ګېډۍ (شعري ټولګه)، په ۴۶ مخونو کې، د ۲۰۰۵ م کال چاپ.
46. د بېنوا ياد، په ۴۵ مخونو کې ، د ۲۰۰۵ م کال چاپ.
47. ادبي نثرونه، په ۶۱ مخونو کې ، د ۲۰۰۵ م کال چاپ.
48. د کارنامو مېرمنې، په ۶۸ مخونو کې ، د ۲۰۰۵ م کال چاپ.
49. نصاب الصبيان، سريزه، ۱۹۸۲ م کال چاپ.
50. فوايد فقيرالله، لغتنامه او تعليقات، ۱۹۸۰ م کال چاپ.
51. د پښتو – جاپاني قاموس په باب.
52. د حيات افغاني پر پښتو ژباړې تعليق، دريم ټوک.
53. د حالنامې سريزه، تعليقات او لغتنامه.
54. د پټې خزانې عروضي اړخ.
55. د تاريخ سياح مسيحي کتنه او نظر.
56. د زمانشاه او سلطان ټيپو سريزه.
57. پښتانه شعراء (دريم ټوک) د ۲۷ شاعرانو د احوالو او اثـارو پېژندنـه، تصحيح او تنقيح.
58. د ملاعبدالباقي د تبيين الواجبات سريزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲۰-۲ دعبدالشکور رشاد ناچاپ آثار:

1. .پښتانه شعراء په اردو ژبه کې ، په دغه اثر کې هغه پښتانه معرفي شوي دي چې په اردو ژبه یې شعرونه ویلي دي، په دغه اثر کې ۳۸۳ تنه شاعران راغلي دي ، ۸۵۰ مخونه لري.
2. .پښتانه شعراء په پاړسي ژبه کې ، په دغه اثر کې هغه پښتانه معرفي شوي دي چې په پاړسي ژبه یې شاعري کړې ده ، په دغه اثر کې ۲۰۰ تنه شاعران معرفي شوي دي ، ۷۰ مخونه لري.
3. .غالب جنګ غازي نواب احمدخان بنګښ او د هغه کورنۍ، ۱۹۰ مخونه لري.
4. .آیا؟ په دغه اثر کې هغه تېروتني او تېر ایستني په ګوته شوي چې هغه په پښتو او پاړسي ادبیاتو او تاریخ کې د پاملرنې وړ دي ، ۵۰۰ مخونه لري.
5. .د قومو او قبیلو په باب یاداښتونه، ۶۷۰ مخونه لري.
6. .مستشرقین، په دغه اثر کې ۲۰۰ تنه ختیځ پوهان چې د افغانستان، پښتو او پاړسي ژبو په باب یې څېړنې کړي ، معرفي شوي دي ، ۵۴۰ مخونه لري.
7. .امین الملک ګل محمدخان غوریاخېل بابړ او د هغه کورنۍ چې د استاد له نیکونو څخه دی ، ۲۴۰ مخونه لري.
8. .ملي قهرمان غازي محمداکبرخان ، ۲۳۰ مخونه لري.
9. .سوري پښتانه، ۴۰۰ مخونه لري.
10. .د کندهار د مدرسو تدریسي نصاب، ۴۰۰ مخونه لري.
11. .حضرت ابوبکر صدیق، ۲۳۰ مخونه لري.
12. .په زړه پاړسي ، پهلوي او اویستا کې پښتو کلمې، ۳۸۰ مخونه لري.
13. .د کندهار زیارتونه، په ۷۰۰ مخونوکې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

14. .ادبي قاموس، دغه اثر شپږ ټوکه دی ، لومړی ټوک ۱۲۰۰ مخونه، دوهم ټوک ۶۳۰مخونه، دریم ټوک ۱۲۵۰ مخونه، څلورم ټوک ۶۰۰مخونه، پنځم ټوک ۶۵۰مخونه او شپږم ټوک ۱۲۰ مخونه لري.
15. .پښتانه مصنفین، دغه اثر دري ټوکه دی، لومړی ټوک ۱۰۰۰ مخونه، دوهم ټوک ۷۶۰ مخونه او دریم ټوک ۵۸۰مخونه لري.
16. .جغرافیایي یاداشتونه، دغه اثر دوه ټوکه دی ، لومړی ټوک ۸۰۰ مخونه او دوهم ټوک ۳۶۰ مخونه لري.
17. .د کندهار تاریخي یاداښتونه، دغه اثر دوه ټوکه دی ، په لومړي ټوک کې مخکې تر مغلو حالات بیان سوي دي او ۹۷۰مخونه لري او په دوهم ټوک کې وروسته تر مغلو حالات بیان سوي دي چې ۱۰۴۰ مخونه لري.
18. .د احمدشاهي عصر نومیالي، دغه اثر هم دوه ټوکه دی، لومړی ټوک په ۵۰۰مخونو او دا برخه د احمدشاهي شاهنامې د تعلیقاتو په نامه راغلې ده  او دوهم ټوک په ۴۲۰ مخونوکې چې له احمدشاهي شاهنامې پرته د نورو نومیالیو ذکر هم په کې راغلی دی چاپ شوی دی.
19. .پښتانه مشاهیر، درې ټوکه دی ، لومړی ټوک ۱۵۰ مخونه ، دوهم ټوک ۲۰۰ مخونه او دریم ټوک یې تر لاس لاندي و لږ لیکل شوی دی.
20. .د طریقت شجرې ، د هغو طریقو په باب چې په افغانستان او پښتنو کې مشهورې دي ، ۲۰۰ مخونه لري.
21. .نسبي شجرې، دغه شجرې پنځه ټوکه دي، لومړی ټوک په هندوستان کې د پښتنو نوابیو او نامتو کورنیو په اړه دی، ۲۷۰ مخونه لري، دوهم ټوک د سدوزو پاچاهانو، شهزاده گانو او سردارانو په اړه دی ، ۹۰ مخونه لري، دریم ټوک د محمدزیو پاچاهانو ، شهزاده گانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سردارانو په اړه دی، ۱۸۵ مخونه لـري ، ځلـورم او پـنځم ټوکونـه د پښتنو قومونو او قبیلو په اړه عمومي شجرې دي، چې ځلـورم ټـوک ۳۲۰ مخونه او پنځم ټوک ۱۲۰ مخونه لري.

22. سل متله په اوو ژبو، دغه اثر په ځلورو ټوکونو کې دپښـتو، پاړسـي عربي، انګریزي، روسي، اردو او ترکې ژبو ورته متلونه راوړي دي.
23. دوه زره روسي متله په پښتو ژبه ، دغه اثر ځلـور ټوکـه دی، لـومړی ټوک ۳۶۵ مخونه ، دوهم ټوک ۴۵۰ مخونه، دریم ټوک ۴۲۰مخونـه او ځلورم ټوک ۴۲۵ مخونه لري.
24. د خوشال فرهنګ، دغه اثر اووه ټوکه دی، لـومړی ټـوک طـب نامـه ۴۰۰مخونه، دوهم ټوک بازنامه ۲۶۰ مخونه، دریـم ټـوک رباعیـات او قطعات ۲۸۰مخونه، ځلورم ټوک دستارنامه ۴۸۰ مخونه، پنځم ټـوک غزلیات او قصاید ۵۲۰مخونه، شـپږم ټـوک غزلیـات او قصـاید ۳۲۰ مخونه، اووم ټوک غزلیات او قصاید ۳۶۰مخونه لري.
25. د پټې خزانې فرهنګ، دوهم ټوک، ۴۰۰ مخونه لري.
26. د ګلشن روه لغتنامه ، ۸۰۰ مخونه لري.
27. نواب حافظ رحمت خان بریځی او د هغه کورنۍ د افغانستان د علومو اکاډیمۍ چاپ .
28. د فرهنګونو په باب، په دغه اثر کې هغه ټول فرهنګونه چې په ختیځ کې لیکل سوي ، معرفي سوي دي ، ترتیب یې په لاندي ډول دی :
    - پښتو فرهنګونه (د الفبا په ترتیب).
    - پاړسي فرهنګونه (د الفبا په ترتیب)
    - عربي فرهنګونه (د الفبا په ترتیب)
    - ترکې فرهنګونه (د الفبا په ترتیب)
    - هندي فرهنګونه (د الفبا په ترتیب)

(c) ketabton.com: The Digital Library

29. بديع، ۷۵۰ مخونه لري.
30. بيان، ۵۰۰ مخونه لري.
31. قافيه، ۶۵۰ مخونه لري.
32. عروض، دغه اثر څلور ټوکه دی، لومړی ټوک ۱۱۳۰ مخونه، دوهم ټوک ۳۶۸مخونه ، دريم ټوک ۴۴۰ مخونه او څلورم ټوک ۹۵ مخونه لري.
33. معاني، ۶۵۰ مخونه لري.
34. نقد، د پښتو، پاړسي ، او عربي ادبياتو په تاريخي او علمي برخو کــې، ۵۰۰ مخونه لري.
35. مکتبي قاموس، په دغه اثر کې د ښــوونځيو د کتــابونو۶۰۰۰ لغاتونــه تشريح شوي دي، د چاپ کال ۱۳۹۴ هــ ش .
36. په گلشن روه کې د بابو جان منتخبات نثرونه دي، (د پوهانــدی اثــر) ۲۴۰ مخونه لري.
37. لاله (شعري ټولگه)، ۱۵۰ مخونه لري.
38. چاپ شوي څلوېښت حديثه.
39. د محبت نغمې، (شعري ټولگه)، ۱۵۰ مخونه لري.
40. نيم ديد، (شعري ټولگه).
41. د شعرونو پنځه ټولگې، لــومړی ټولگــه ۶۲ مخونــه، دوهمــه ټولگــه ۵۰مخونه، دريمه ټولگه ۱۲۶ مخونــه، څلورمــه ټولگــه ۶۲ مخونــه او پنځمه ټولگه ۱۸۰مخونه لري.
42. شمس الکفات خواجۀ بزرگ احمد بن حسن ميمنــدي ، ۱۰۵ مخونــه لري ، (نيمگړی اثر)
43. شهيد سردار محمدداود، ۱۸۰ مخونه لري ، (نيمگړی اثر).
44. امان الله شاه غازي.
45. ۱۰۰ (زاړه لغاتونه).

(c) ketabton.com: The Digital Library

46. د سنسکریت ژبې گرامر، ۷۴۰ مخونه لري.
47. د جاپاني ژبې گرامر او معلومات، دغه اثر دوه ټوکه دی، لومړی ټـوک ۱۳۰مخونه او دوهم ټوک ۱۶۵ مخونه لري.
48. د روسي ژبې گرامر، دغه اثر هـم دوه ټوکـه دی، لـومړی ټـوک ۱۶۰ مخونه او دوهم ټوک ۱۷۰ مخونه لري.
49. په پښتو کې مناظرې، ۷۵ مخونه لري.
50. الفنامې، ۸۵ مخونه لري.
51. د پښتو نظم عروضي سیستم، ۴۵۰ مخونه لري.
52. په پښتو کې د نظم ډولونه، ۲۹۰ مخونه لري.
53. سبک پېژندنه، ۲۰۰ مخونه لري.
54. د ډورن په پښتو ډکشنري کې تېروتنې.
55. تېروتنې او تېر ایستنې، په پښتو، دري او عربي کتابونو کې.
56. پښتو نکلونه او پښتو کیسې.
57. ځیني ادبي خبرې، ۲۰۰ مخونه لري.
58. د جاپان سفرنامه (یون لیک)، ۹۰ مخونه لري.
59. د امریکا سفرنامه (یون لیک)، ۱۰۰ مخونه لري.
60. د یمن سفرنامه (یون لیک)، ۱۳۵ مخونه لري.
61. برېښي پښتانه، ۱۲۰ مخونه لري.
62. غازي ایوب خان، (نیمگړی اثر)
63. برمکیان، ۲۲ مخونه لري (نیمگړی اثر).
64. زړه پاړسي (فـُـرس قدیم)، ۵۰ مخونه لري.
65. د سوسیالوجۍ په اړه یاداښتونه، ۱۲۰ مخونه لري.
66. پښتانه شعراء په عربي ژبه کې، (نیمگړی اثر)
67. د پښتو کتابو کاتبان، ۱۲۰ مخونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

68. تعليقات ، ۶۰ مخونه لري.
69. سرياني قصيده، ۴۰ مخونه لري.
70. د خوشال خان ياد، ۱۰۰ مخونه لري.
71. عربي ګرامر، ۱۲۰ مخونه لري.
72. شيخ قاسم سليماني، ۱۲۰ مخونه لري.
73. د تحفهٔ القاسمي په اړه نيمګړې ليکنه.
74. دخوستي، تني، ګوربزي لهجو ځيني کلمات.
75. رقوم نويسي.
76. پنځه کتابونه، ۶۰۰ مخونه لري.
77. د محاربهٔ کابل په اړه نيمګړي تعليقات.
78. پردي دودونه، ۲۰ مخونه لري.
79. د فوايد دوا لغتونه، ۱۵۰مخونه لري.
80. وحده الوجود، ۴۰مخونه لري.

**۲-۲۰-۳ د علامه رشاد د نثر نمونه:**

**اودګير(Awdgir) :**

**پردکن باندې د ګورګاني مغولو بريدونه د اکبر په پاچهي کې پيـل شـول او د مغولو د پاچهۍ سرحد له نربدا روده څخه د کرشنا رود تر برنيو برخـو پـورې ورسيد او د برار عماد شاهي پاچهي د اکبر په زمانه کې له منځه ولاړه، مګـر د احمدنګر د نظام شاهيانو پاچهي د ملک عنبر د مختار الملکـۍ پـه دوره کـې ټينګه شوه او آب وتاب يې و موند. د بيجاپور عـادل شـاهيانو او د ګولګنـډې قطب شاهيانو د نظام شاهۍ ځينې هغه سـيمې، چـې دوی تـه ور خرمـه وې، خپلې کړلې او يا د خپلولو په خيال کې وو. شاه جهان چې خبـر شـو پخپلـه دولت آباد ته و لاړ او له دغه ځايه څخه يې درې پوځه د بيجاپور او ګولکنډې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچاهيو د ځپلو له پاره وګومارل چې له شمال شرقي، غربي او جنـوب غربـي خواوو څخه بريد پروکړي څلورم پوځ يې د ښايسته خان په مشـرى، د نظـام شاهي کلاوو د نيولو له پاره وګوماره. د ګولکنډې قطب شاهيانو اطـاعتو مانـه، بيجاپور شاهيانو جنګ وکړ،خو ماته پرماته پرشا تلل، پای ته په سـوله راضـي شول.

د سيواجي پلار ساهوجي هم په دغو وختو کې پورته شو. د خان جهان لودي او خان زمان شخړې هم په دغه وخت کې وې، مګر ټولې د شاه جهان پـه ګټـه، پای ته ورسيدلې، په دغه ګيرو دار کې د ۱۶۳۱ ع کال د سپتمبر پـه ۲۸ مـه د اودګير کلا د مغولو لښکرو ونيوله، د اودګير کوټوال سدي مفتاح د شاه جهـان نوکري ومنله او د حبش خان خطاب يـې ومونـد. درې زرى منصـبدار شـو، د اودګير کلا د زين خان کوکه زوى، مغل خان ته و سپارله شوه.(۱۸: ۲۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲۱ محمد ابراهیم خواخوږی

د دې تذکرې بل لیکوال محمد ابراهیم خواخوږی دی. په دې تذکره کې د ښاغلي خواخوږي د زوکړې نیټې، سیمې او زدکړو په باب خبرې راغلي دي خو له نجیب وروسته بینوا صاحب د ابرهیم خواخوږي بشپړه معرفي کړیده.
زه دلته هغه ټکي راوړم چې ښاغلي نجیب په دې تذکره کې نه دي یاد کړي:
محمد ابراهیم خواخوږی په ۱۳۱۷هـ کال له ښوونځي څخه فارغ شوی په قندهار او کابل کې د ښوونکي په توګه له وظیفو وروسته په ۱۳۳۵ هـ کال کې د پښتو ټولنې غړی شو. وروسته په ۱۳۳۶ هـ کال کې د کابل راډیو د نشراتو ریاست د مراقبت د څانګې مدیر او ور پسې د کابل راډیو د ریاست اداري مرستیال مقرر او په ۱۳۳۹ هـ کال د پوهنې ننداري د مرستیال په توګه په کار وګومارل شو.
د خواخوږي لومړنی شعر په ۱۳۱۳ هـ کال د طلوع افغان په اخبار کې خپور شوی دی او ترهغه وروسته یې ډېر اشعار او مقالي د هیواد په نورو اخبارو او مجلو کې نشر شوي دي.(۵: ۳۳۷)
د ښاغلي محمد ابراهیم خواخوږي د «مینې ورمې» په نوم شعري ټولګې اثر په پای کې د ده د ژوند او اثارو په باب ځینې معلومات راغلي چې په نورو تذکرو زما نه دي ترسترګو شوي:
استاد محمد ابراهیم خواخوږی په ۱۹۴۲ ع کال کې د تعلیم او تربیې کورس او په ۱۹۶۲ ع کال د ژورنالیزم کورس سرته ورساوه، په ۱۹۶۱ ع کال کې د افغان چین د دوستی د ټولنې او په ۱۹۶۹ ع کال کې په افغانستان کې د یونسکو د ملي کمیسیون دغړي په حیث وټاکل شو. مرحوم خواخوږي د افغانستان د فرهنګ ستایلی کارمند ( پوهنپال) عالي درجه ترلاسه کړه. مرحوم په ۱۹۴۶ ع کال کې د پښتو اوله درجه ادبي جایزه او په ۱۹۵۹ ع کال کې یې په شعر کې د رحمان بابا جایزه واخیسته، ښاغلي خواخوږي ته د په ۱۹۶۵ ع کال کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د حضور له خوا د مینه پال دوهمه درجه نشان او په ۱۹۶۹ ع کال د مینه پال د سروزرو نښان ورکړل شو.
مرحوم خواخوږی په ۱۹۷۳ ع کال کې د سعودي عرب د بادشاه اعلیحضرت ملک فیصل په دعوت حج ته ولاړ.
او په پای کې د ۱۳۷۱ هـ ل کال د لړم د میاشتي په ۳ نیټه چې د ۱۹۹۲ ع کال د اکتوبر د میاشتي د ۲۴ نیټي سره سمون خوري د زړه د ناروغۍ له امله په کابل کې ښار کې د ۷۱کلونو په عمر وفات شو.(۱۵: ۱۴۹)

## ۲-۲۱-۱ د خواخوږي آثار:

۱ ـــ د مینې ورږمه( د اشعارو ټولګه)

۲ ـــ حکایت نه دی حقیقت او درد دی.

۳ ـــ یوه ژړوونکې منظره.

۴ ـــ مرغلره او تور خان.

۵ ـــ شین خالۍ او ګلالۍ.

۶ ـــ د ګوستالوبون لنډې خبرې.

۷ ـــ دوه ځواني مرګ مینان.

۸ ـــ د اشعارو دوهمه ټولګه.

۹ ـــ د اشعارو دریمه ټولګه.

## ۲-۲۱-۲ د محمد ابراهیم خواخوږي د کلام نمونه:

زمان ګناه یې ده په غاړه
چې ځواني کې یې فقیرکړم
چرس،چلم، منکرات واړه
بې توښې پتن زهیر کړم
وچه سوه د شرف ناړه
په کوم ژبه یې تعبیر کړم(۱۵ : ۸۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲۲ سید حسین سید

سید حسین سید هم د پښتو ژبې له معاصرو لیکوالو څخه دی، چې په دې تذکره کې یې پرژوند او زدکړو خبرې شوې،له دې تذکرې وروسته په اوسني لیکوال، پښتانه شعراء چې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی او همدارنګه په فرهنګ زبان وادبیات پشتو کې هم د ښاغلي سید حسین د سوانحواو د لیکوالۍ په محتوا خبرې شوې دي.

سید حسین د سید مبین زوید ۱۳۱۵ ق هـ کال په حدودو کې په کند هار کې زیږیدلی، او هملته لوی شوی دی،زده کړې یې په خصوصي توګه کړې دي، د ده نظم په ساده او روانه پښتو لیکل شوی دی اوډیر اجتماعي او اخلاقي مسایل یې په کې بیان کړي، د ولس په ناوړه دودونو او خرافاتي رواجونو یې نیوکې کړي، د ښاغلي سید حسین د نظمونو زیاته برخه په طلوع افغان ورځپاڼه، د کندهار د ادبي انجمن په پښتو مجله او د کابل په مجله کې خپره شوې ده.

په خپل وخت کې د ده خطاطي شهرت درلود په نستعلیق کې یې زیات مهارت ستایل کیده او د استادۍ په درجه خلک ورته قائل وو.

سید حسین سید تقریباً شل کاله پرله پسې د کندهار د مطبوعاتو په مدیریت کې کله د مطبعې د منتظم او کله د طلوع افغان د مرستیال په حیث کار کړی.

نوموړی د ۱۳۲۸ ش کال د حوت په میاشت کې په کندهار کې وفات شو او پخپله پلرنۍ هدیره کې خاوروته وسپارل شو.

ښاغلي سید حسین د هغو کسانو په باب چې ناحقه دعوه په قسم خوړلو ګټې د دوی له خولې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲-۲۲-۱ د سید حسین سید د نظم نمونه:

دعوه مې وګټله

زه هر مشکل تېروم — او هر عاقل تېروم

شاهدان تل تېروم — دوه او درې شل تیروم

کلی پربل تېروم — کلی پرخپل تېروم

زه څه پروا نه لرم — لحاظ د چا نه لرم

منم خاطر د قرآن — باک د بابا نه لرم

دعوه مې وګټله — ملامتیا نه لرم(۶: ۷۰۷)

## ۲-۲۳ ملا محمد شریف جانان کاکړ

ملا محمد شریف جانان کاکړ، د کندهار د ملا عبدالعزیز(چې په صوفي کاکا مشهور و) زوی، د ملا عبدالسلام لمسی، د ملا مهربان کړوسی، د ملا راحت کوسی او د ملا اخترکودی دی.

ملا اختر د سدو، سدو، د سیدو، سیدو اخترزی، ابراهیم زی، علی زی سنځرخیل کاکړ دی.

په کندهار کې د اسحقزو په کوڅه کې په ۱۳۱۴ هـ ق کال کې زیږیدلی او د کاکړو په کوڅه کې لوی شوی او هلته یې استوګنه کوله. مذهبي او دیني زده کړې، ریاضیات، صرف،نحو، تفاسیر، فقه او نور علوم یې د خپل ورور ملامحمد شفیع (وفات ۱۳۲۶ هـ ش/۱۳۶۷ هـ ق) څخه ترلاسه کړل.

کله چې په ۱۳۰۰ هـ ش کال کې تجارتي ښوونځی لومړی وار په کندهار کې تاسیس شو ښاغلی ملا جان هلته په ښوونه او روزنه مقررشو. قرأت، دینیات، فارسي،پښتو،عربي،حساب، تاریخ، جغرافیه او نور مضامین یې درس ور کاوه.

د اماني دورې د یوې تذکرې له مخې ملاجانان آخوند په ۱۳۰۱ هـ ش کال د مکتب تجار ښوونکی او د شلو کالو زلمی ښوول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته په احمدشاهي او تیمور شاهي ښوونځیوکې ښوونکی مقررشو. یـو وار کندهار ته نږدې د کدې په سیمه کې د سر ښوونکي په حیث مقرر شوی دی.
د ښوونکي مجله ۱۵، ۱۶ او ۱۷ شماره د کندهار د پیاوړي او سابقه دار ښوونکي د پېژندګلوی په لړکې پر اته لسم مخ د ملاجانان کاکړ کندهاري په باب داســې لیکي: ښاغلی جانان تر دغه وروسته د ښې او پخې لیکنې په سوب د کنــدهار د طلوع افغان په اداره کې محرر وټاکل شو، خو هلته هم د ښــوونځي ځخــه لیرې نه دی پاتې شوی او د پښتو درسو ښوونکی و، د ډېرو کلونو د پاره یــې د پښتو قرأت لوست پرمخ بیولی، په ۱۳۳۵ هـ ش کال کې بیرته د زرغونې آنا په ښوونځي کې ښوونکی مقرر شو.
په افغانستان کې د ثور د خوني کودتا، او تاریخي کش و بګیر له سببه نوموړی د نبوي(ص)
عمل په تکمیل هجرت ته اړشو، او د خپلې کورنۍ سره په ۱۳۶۴ هــــ ش کــال کې چمن ته مهاجرشو.څلور میاشتې ناروغه و، او د ۱۳۶۴ هـ ش کــال د اســد میاشتې په ۲۲ نیټه په حق ورسیده او د چمن په زړه هــدیره کــې خاوروتــه و سپارل شو.

## ۲-۲۳-۱ د ملا محمد شریف جانان آثار

ملاجانان کندهاری یو لوی لیکوال او شاعر، تکړه مفسر،فصیح او بلیغ خطیــب و. اکثر اجتماعی، انتقادي، اصلاحي نظمونه او نثرونه یې وار په وار د کندهار په طلوع افغان اخبار کې نشر شوي دي او د یو شمیر علمي او ادبي کتابونو مؤلف او مصنف و، چې ځینې مهم آثار یې په دې ډول دي.
۱ ـــ حسن البیان من تفسیر القرآن، په ۱۳۵۰ هـ ش کال یې پیل کړی د قرآن شریف تفسیر دی. د سوره البقره آیــه"رزقا لکــم فلاتجعلــوالله انــداد و انــتم تعلمون" پورې په زړه پورې ژباړه او تفسیر لري.
۲ ـــ زین البیان من تفسیر القرآن، چې په ۱۳۸۷ هـ ق/ ۱۳۴۶هـ ش کال کــې یې پیل کړی خطي نسخه یې ۴۳۴ مخونه لري او ۱۳۹ خطبې په کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ ـــ د حج شریف احکام، د حج د مناسکو په باب په پښتو کې بشپړ اثر چې د ۱۹۹۶ م کال په فبروری میاشت کې د حبیبي اکادمۍ چمن له خوا پــه ۳۹۹ مخونو باندې چاپ شو.

۴ ـــ بهار جانان، په ۱۳۰۸ هـ ش / ۱۳۴۸ هـ ق کال کې یې تألیف کړی خطي نسخه یې ۲۷۴ مخونه لري، دکندهار دبیلابیلو پښتو شاعرانو لرغــونی شــعري جونګ دی چې ځینې برخې یې څو څو واره له چاپ راوتلې دي.

۵ ـــ اکبرنامه(ژباړه) د ۲۰۱۱ م کال چاپ.

۶ ـــ ارمان جانان، د حاجي ملاجانان آخوند مردف دیوان دی چې خو را په زړه پورې اشعار پکې دي.

۷ ـــ عبرت نامه، ۳۳ نقلونه لري، په ۱۳۳۴ هـــ ش کـال کـې یـې لیکلـې،د ګلستان سعدي په ډول لومړی یوقصه راوړي بیایې نتیجه په درو شعرونو کــې راوړي.

۸ ـــ یادداښتونه، بیلابیل یادداښتونه دي چــې ځینــې پکــې بیخــي مهــم او تاریخي یا دداښتونه دي.

۹ ـــ سفرنامې، د حج او ځینو نورو ځایونو حال دی چې په خوره بنه پراته دي.

## ۲-۲۳-۲ د ملاجانان د نظم یوه نمونه:

پس له حمد ه له صلواه د غه عرض دی
پښتنو ورونو ته کاندمه وینا
که څوک زما څخه یوپوښتنه دکتاب کړي
چې دا څرنګه کتاب جوړ کړی چا
دا کتاب اکبر نامه نومیږي یاره
په نامه د اکبر خان سو مسمی
اکبر هغه سړی چې نر زمری و
دی و زوی د دوست ماد خان غوندې پاچا(۱۱: ۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲۴ عبدالخالق واسعی

د دې تذکر بل ليکوال مولانا عبدالخالقی واسعی دی له نجيب وروسته په ځينو پښتو تذکرو کې د نوموړي د سوانحو په هکله هم معلومات راغلي دي.

عبدالخالق واسعی د ۱۳۱۹ هــ ق کال د روژې د مياشتې پــه شــلمه د کنــدهار ښار د باميزو په کوڅه کې زيږيدلی او د مرحوم حبو آخــونزاده پــه مشــهوره علمي کورنۍ کې لوی شوی او روزل شوی دی.

نوموړی د کندهار له پوهو او مشهورو عالمانو او ليکوالو څخه دی، په تيره بيــا په شرقي او عربي علومو کې يې لوی لاس در لود.

د ده مرحوم پلار مولوي عبدالواسع، نيکه يې مولوي عبدالرؤف او ور نيکه يــې عبدالرحيم آخونزداد چې د نامتو علامه حبيب الله آخونزاده مشهور په "حبــو آخونزاده " زوی دی هم له خورا نامتو پوهانوڅخه تير شوی دی.

عبدالخالق واسعي د ۱۳۶۰ کال د حوت مياشتې په وروستۍ نيته د ور پيښــې ناروغۍ له امله په ابن سينا روغتون کې وفات شو.

### ۲-۲۴-۱ د عبدالخالق واسعي د ماموريت دوره:

نوموړي د ۱۳۰۰ هــ ش کال څخه ماموريت پيل کړی لــومړی ماموريــت يــې د قضاتو د مکتب معلمي او ور پسې د (مرکــه پښــتو) غــړی و او بيــا دوه کالــه وروسته د کندهار د ګنج په مکتب کې او وروسته په ۱۳۰۶هــ ش کال هلتــه د متوسطه مکتب معلم و.

په ۱۳۱۲ هــ ش کال په کندهار کې د "د پښتو انجمــن" پــه نامــه يــوه ټولنــه تأسيس شوه، يوغړی يې دی هم و. په ۱۳۱۸ هــ ش کال کې د انيس د هفته وار اخبار د تحرير غړی و، په ۱۳۲۰ هــ ش کال کــې د راډيــو د رياســت د پښــتو تراجمو آمر او وروسته د مطبوعاتو د مستقل رياست د آژانــس پــه مــديريت پورې مربوط د پښتو د دار الترجمی د مدير په حيث مقرشو. په ۱۳۲۲ هـــ ش کال کې د پښتو ټولنې د عضو په نامه کندهار ته ولاړ او په عين حال کې يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کندهار په مطبوعاتو کې د معاون په حيث او کله به يې د مدير په غياب کـــې د کفيل په حيث وظيفه اجراکوله او په همدغو ورځوکې د احمد شاه بابا په ليسه کې د دولسم صنف د منطق او ادبياتو معلم هم و. د ۱۳۳۰ هــ ش کال د جــدي په مياشت کې د پښتونستان د تحريک په سلسله کـــې د (وورور ږغ) د مجلـــې مسوول چلوونکی او مدير هم وټاکل شو. د ۱۳۳۵ هــ کال ديخوا د پښتو ټولنې د عضو په توګه په دغه ټولنه کې د لغاتو د مدير په حيث مصروف و او له هغــه وروسته په مشرانو جرګه کې سناتور شو.

## ۲-۲۴-۲ د ښاغلي واسعي ترجمې او تاليفات:

۱ــ د تأليف په نامه د ده لومړی اثر د پښتو د متعدي مصادرو مجموعه ده چــې د پښتو مرکې د عضويت په زمانه ده ټول پښتو مصادر ټول کړي او د مصــدر د پښتو مرکې د نورو آثارو سره ورک دي او بيايي خــه نــوم او نښــان چانــه دی ليدلی.

۲ــ بل اثر يې چې بايد تأليف ورته وويل شي د " پښتو خود آموز" د متلو برخه ده، داکتاب د پښتو د زده کړې د پاره دی  او د جمعيت له خوا تأليف شو چــې په کميسيون کې دی هم و او د پښتو متلونو برخه د ده ده او د طلوع افغان پــه مطبعه کې چاپ شوی دی.

۳ــ د ده بل اثر د پښتني دودونو د کتاب د کندهار د پښتنو دودونــو برخــه ده چې ده ليکلې ده او د کتاب مهمه برخه هم هغه ده. داکتاب پښتو تولنې چــاپ کړی دی.

۴ــد ده په ترجمه کړو آثارو کې يو کتاب د ( بشپړه ويناوې) په نامه دی چې د مصري مشهور ليډر سعد زغلول د ( جوامع الکلم) ترجمه ده او تر اوسه نه دی چاپ شوی.

۵ـــــ د ( روح الاجتمـــاع) ترجمـــه ده چـــې د فرانســـوي اجتمـــاعي عـــالم او فيلسوف(ګوستاولوبون) د فرانسوي تأليف د عربي ترجمې څخه پښـــتو شـــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. دې دواړو کتابونو د مطبوعاتو د ریاست د ۱۳۲۰هـ ش کال په تراجمـوکې جایزه اخیستې ده.

۶ـ نړۍ په دو زرم کال کې د (العالم فی عام ۲۰۰۰) پښـتو ترجمـه ده چـې د پښتو ټولنې له خوا نشر شوی دی.

۷ـ شخصیت ځنګه وده کوي؟ د (کیف تتکامل الشخصیه) پښتو ترجمه چې د پښتو ټولنې له خوا نشر شوی دی.

۸ـ روح التربیه چې د مصر د یوه لوی لیکوال تألیف دی او له عربي ځخه پښتو شوی دی.

۹ـ روح الاعندال چې په فرانسوي تألیف شوی او بیا په انګلیسي ترجمه شوی او وروسته عربي ته را اړول شوی او بیا په پښتو ترجمه شوی دی.

۱۰ـ (علم النفس او د هغه اغیزې په ښوونه او روزنه کې) دا کتاب د مصر د یـو علمي شخصیت فکري تألیف دی چې له عربي ځخه پښتو شوی دی.

۱۱ـ (الصحافه) د محمود سمهاني مصري تألیف چې له عربي ځخه پـه پښـتو ترجمه شوی دی.

۱۲ـ (د حصون حمیدیه) پښتو ترجمه داکتاب د یوه مشهور ترکي عالم تـألیف دی او موضوع یې اسلامي عقاید او معتقدات دي کتاب اصلاً په عربـي تـألیف شوی دی.

## ۲-۲۴-۳ د ده د نظم نمونه:

### تیاره او ښکلا

تـــل یـــې ګـــوره چـــې تیـــاره او ښـــکلا
دوه عنوانونـــــــه د غـــــــروب پرکتـــــــاب
ځیـــر ورتـــه ګـــوره چـــې ښـــکلا هـــر ماښـــام
لـــــه تـــــابیلیږي د تیـــــارو پـــــه حجـــــاب
ټولـــــه نـــــړۍ بانـــــدې آرام شـــــي حـــــاکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې لمر پښه کیښیږدي د غروب پر رکاب
څوچې سهارشي تیارې مخ ونیسي
بیر ته عالم د ژوندون اورکړي کباب
لمر د افق پرژۍ جلي ولیکل
چې عالم ړوند دی هم مغرور هم خطا
آیا د ژوند فنا زوال نهویني؟
لکه تیارو چې زما رڼا کړه تالا
کشکي لمر خپل تاریخ لیکلای همیش
چې څه پیږۍ دې رژیدلي پخوا؟
د لمر نظام ته یو حیرت اخیستی
ختو،لویدو یې سودایي کړه دنیا(۷: ۱۳۳۷)

له اوسني لیکوال وروسته په پښتو کتابښود کې هم د عبدالخالق واسعي د دوه آثارو یادونه شوې ده:

۱ـ شخصیت خنګه وده کوي(ژباړه) ، کابل،پښتو ټولنه،۱۳۴۰ ش کال ،دولتي مطبعه.

۲ـ نړۍ په دوه زرم کال کې(ژباړه)،کابل پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ ش کال،دولتي مطبعه.(۲۰: ۲۶۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲۵ قاضی عبدالصمد

د دې تذکرې بل لیکوال عبدالصمد دی چې د ده په باب هم یوځـه معلومـات راغلي دي، زما د معلوماتو له مخې د دې تذکرې له لیکـوال وروسـته یـوازې سرمحقق زلمي هیواد مل په خپل کتاب فرهنګ زبان و ادبیـات پښـتو کـې د قاضی عبدالصمد په باب نور معلومات راوړي.

قاضی عبدالصمد په ۱۲۶۶ هـ ش کال کې په کندهار کې زیږیدلی دی،په پښتو او فارسي ژبو یې نظم او نثر لیکلی نوموړی د ویښ زلمیانو د ملي نهضت غـړی و او په ۱۳۳۸ هـ ش کال کې وفات شو.

### ۲-۲۵-۱ د قاضی عبدالصمد د نظم نمونه:

چې محیط یې توله ګوړوي ځوک به یې ناکا په فریاد سم

که معمار هرځو قابل وي کوږ اساس نه سي په باد سم(۲۳: ۳۱۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲۶ محمد رسول مسلم

د دې تذکرې بل لیکوال ښاغلی مسلم دی چې د ده په باب همپوره معلومات نه دي ورکړل شوي.

له نجیب وروسته په ځینو پښتو تذکرو کې د مسلم د سوانحو په باب دا معلومات راغلي دي.

محمد رسول مسلم دمیرزا محمداعلم زوی، د محمد کرم نمسی په ختې کاکړ او په کندهار کې زیږیدلی دی.

نوموړي خپل تحصیلات په خصوصی ډول له خپل پلار څخه پای ته رسولي دي چې د خپل وخت ښه عالم، مشهور خطاط او په انګریزي او اردو ژبو پوه سړی وه.

ښاغلی مسلم له ۱۳۰۴ هـ کال څخه تر ۱۳۰۷ هـ کال پورې د کندهار په لومړني ښوونځي کې ښوونکی وه او په ۱۳۰۸ هـ کال کې د ښاروالۍ د مصارفاتو په څانګه کې لومړی کاتب وټاکل شو او په ۱۳۰۹ هـ کال کې د ګمرک د مدیریت د لیکنې لومړی کاتب و، په ۱۳۱۱ هـ کال د ملکي شفاخانې د مدیر په حیث کار کاوه او په ۱۳۱۴ هـ کال کې د هرات د پښتو د کورس لوی ښوونکی د مدیر په رتبه وټاکل شو.

له ۱۳۱۹ هـ کال څخه تر ۱۳۲۱ هـ کال پورې د کندهار د تجارت په اتاق کې منشي و.

په ۱۳۲۲ هـ کال کې یې د (وطن) شرکت د پر یس فابریکې د څانګې د مامور په حیث وظیفه واخیسته.

په اوسني لیکوال کې د محمد رسول مسلم له خولې د طبیعي خصوصیاتو په باب داسې راغلي:

"زما طبیعي خصوصیات

۱ـ له ترینګلي سړي څخه مې بد راځي، ځکه چې پخپله ترینګلی نه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ له هغه چا څخه چې لکه مچ په هره کاسه کې بې سته لویږي بد وړم، ځکه چې په خپله هرځای نه یم.
۳ـ له هغه چا څخه چې له خلکو څخه د خیرانې او قلمانې یا بله توګه پیسې اخلي ډېر نفرت لرم، ځکه چې پخپله مې په عمر کې دا جک نه دي وهلي.
۴ـ ډېر شاکی سړی مې نه دی خوښ، ځکه چې پخپله که لږوي که ډیره وي قناعت پرلرم که لنده را ورسیږي خوښه که نه په وچه مې هم خوانه بدیږي، ښه لباس مې ډېر خوښ دی مګر په معمولي لباس هم نه شرمیږم.
۵ـ په دخانیاتو او نشه را وستونکو شیانو کې د هیڅ شي عملي نه یم. "
ښاغلی مسلم د پښتو ژبې لیکونکی او اجتماعي شاعر دی، خو شعر یې تر نثر ډېر دی. په عربي او اردو ژبو هم پوهیده او ښه د مطالعې څښتن دی.
د ښاغلي مسلم اجتماعي او تنقیدي شعرونه د هیواد په جرایدو کې په تېره بیا د طلوع افغان په ورځپاڼه کې ډېر خپاره شوي دي.

**۲-۲۶-۱ د محمد رسول مسلم د شعر نمونه:**

**د محمد رسول مسلم د نظم یوه نمونه:**

زمـــا وروره ســـــې بـــــه ویښ پــــه دوران کلـــــه
خلقو خپلې چـارې وکـړې تـه چـاره کــې د ځـان کلــه؟
ســه بیـــداره ســر اوچـــت کــړه قافلــه واړه رهـــي ســـوه
په یوه ســر ســفرکیږي چـــې رهـــي ســـې کـاروان کلـه؟
اتفـــاق کـــــه دیانـــــت دی لـــــه قرآنــــه هـــــدایت دی
مسلمان و ځان تـه وایـي عمـل کـړې پـه قـرآن کلـه؟
فلـــک ورکـــړه وهرچاتـــه پرقـــدر بانـــدې یـــې برخـــه
پرمقصـــد د پښـــتانه بـــه و څرخیـــږي آســـمان کلـــه؟
نه شکوه سته لـه آسـمانه نـه لـه بـل چاګیلـه مـن یـم
لــه خپـل لاســه را رســیږي پربـل چـادی تـاوان کلـه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوښښ سره رسیږي د انسان مقصد ترپایه
خود پخوده دی حل سوی مشکل امر آسان کله؟
لوی نقصان دی په وطن کې خیانت او نفاق وروره
چې ورک نه سي له مابینه یوزړه کیږي افغان کله؟
خوله درونیسه "مسلمه" ته چا داسې رښتیا ګوی کړې
اوس عالم خوشحاله کیږي د رښتیا په بیان کله؟(۷: ۱۲۳۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲۷ محمد انور نومیالی

محمد انور نومیالی د دې تذکرې یو بل لیکوال دی چې مرحوم نجیب یــې پــه باب ډیر لږ معلومات راوړي د تذکرې له معلوماتو ښکاري چې ښاغلی نومیــالی د دې تذکرې د لیکلو پرمهال ځوان او د فرهنګ میدان ته یې تازه مخه کــړې وه وروسته یې بیا پښتو ادب ته ډیر خدمتونه کړي دي چې ما د اوسني لیکوال او تر ډیره بیا د کندهار له یو شمیر فرهنګیانو څخه د ده په هلکــه معلومــات راټول کړي چې دلته یې راوړم:

محمد انور نومیالی د حاجي ملا محمد نعیم اخوند زوی،د غــلام محــی الــدین لمسی په ختېه الیزی، د کندهار ښار کې د معروف ولســوالۍ د الیــزو پــه یــوه روحاني کورنۍ کې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي.

محمد انور نومیالي د وخت د متداوله او مروجه علومو زده کړې له خپله پلاره، چې ملا طبیعته سړی و او همدارنګه د ســیمې لــه نــورو اســتادانو څخــه او د جنوبي پښتونخوا په مدرسو کې تر سره کړې دي . ځواني یې په طالب العلمــۍ او ملایۍ کې تېره شوې ده. د وخت داستبداد ناسم چلند او دغه راټه ســتوري ته ، د کومې تعلیمي ـــ تحصیلي موسسې د فراغت د سند چې لــه دوســتانو سره به یې په مجلسو کې په هکله ورته د ((کاغذ)) خطاب کاوه ، د دغه کاغــذ د نه درلودلو بهانه نیوله ، او د تورتمپالو له خوا د ده د پرمختګ مخنیوی د دې سبب شو چې د څه مهال لپاره د انزوا او ګوښه نشینۍ حالت اختیــار کــړي . د علمي القابو د وېش پر مهال د کاندید اکاډمیسین پر لقب نومول شوی . محمد انور نومیالي د ژبو د زده کړې په برخه کې ښه وړتیا درلوده، پر پښتو او فارسي ژبو سربېره یې اردو، عربي، انګریزي، روسي او ډنمارکې ژبې هم ښې زده وې او د دغو ژبو له اخذونو څخه یې ښه استفاده کولای شوه.

استاد نومیالي د کندهار ښار په بیلابېلو ښوونځیو او لېسو کې د اد ب او منطق د استادۍ وظیفه درلوده . وروسته کابل ښار ته په راتګ سره یې څه موده پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

گمرک کې وظیفه واخیسته، د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز سره یــې همکــاري درلوده، د ۱۳۵۷ کال د غویي میاشتې تر پاځون وروســته د بیهقــي د کتــاب خپرونې موسسې د ریاست دنده ور په غاړه شوه. نوموړی د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی هم پاتې شوی، څېړنو یې رسمي بڼه نیولې وه او د علومو اکــاډمۍ د ختیځ پېژندنې انستیتیوټ غړی او بیا مشر وټاکــل شــو . د تېــرې پېــړۍ د وروستۍ لسیزې په لومړیو کــې یــې د نــورو څېړنــو لپــاره د منځنــۍ اســیا هېوادونو،لکــه ازبکســتان او تاجکســتان تــه ســفرونه کــړي دي . دا چــې د تاجکستان حالت او زموږ د هیواد حالت یو له بله په سیالۍ کې کم نه وو، نو له مجبورۍ ورځې د روسیې د پتر بورګ او بیا د مسکو ښار ته مســافر شــو . پــه مسکو کې یې څو ځله خواره واره افغان فرهنګیــان راټــول کــړل او د افغــان فرهنګي ټولنو بنسټ یې کېښود .

نوموړی پر ۲۰۰۰ ز کال ډنمارک ته هم مهاجر شوی دی.

محمد انور نومیالي د انساني ژوندانه په اړه خپل ځانګړی فلسفي ــــ اخلاقــي لید لوری او دریځ درلود، په رښتینولۍ او سپېڅلتیا مــین و، د فکــري اســتغنا څښتن و . د انسان لپاره د انساني فکر او په انسانستان کې د اوســېدو ټینــګ پلوی و . هوډمن و، خوځنده و، استراحت طلب نه و، آن په دغسې عمر کې چې ډېر نور خلک د راحت غوښتونکي شي، ده په نورو څېړنو او د خپلو پخوانیو، د زلمیتوب د نیمګړو او نابشپړو څېړنو په بشپړېدو پسې متې رانغښتې وې . ده د خپل ژوند په اوږدو کې د هېواد د یــو شــمېر ډېــرو ویــاړمنو فرهنګیــانو د استادۍ ویاړ درلود . خپل ډېر اثار یې د ټایپي ــــ طباعتي غلطیــو لــه خطــره ساتلي او خپله یې په لاس په ښکلي لیک کښلي دي، چې د پوره حوصــلې او ښه ذوق څرګندونه یې کوي.

له افغان مطبوعاتو سره په ځانګړي توګه د کندهار د طلوع افغانه سره یــې لــه هماغه ځوانۍ راهیسې ښه پاللــه . د علومو اکاډیمۍ په چوکاټ کې د څېړنیزو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرژو سرببره يې پښتو ژبه په نورو ډېرو ښو او ارزښتمنو اثارو وپسوللــــه . پــه پښتو ژبه کې د تخونو يا د روسي ادب د «چستوشکو» ژانــر د رامنځتــه کولــو پلوی وو . د هېواد په دننه او بهر کې يې د مطبوعاتو له لارې د چاپ شوو ليکنو او څېړنو شمېر ښايي سلگونو ته ورسيږي . د ژوند په وروستيو کې يې ليکنــې پخپله په کمپيوټر کمپوزولې او بېلابېلو وېب سايټونو ته به يې د خپراوي لپاره استولې . د محمد انور نوميالي سياسي لوری د کيڼ لاسو له لوري سره يو وو.

کانديد اکاډميسين محمد انور نوميالي د ۲۰۰۶ ز کال د اکتوبر د مياشتي پــر ۴ (د ۱۳۸۵ ل کال د تلې پر ۱۲) د ۷۹ کالو په عمر په ډنمارک کې د زړه د درېدو لامله له دې نړۍ سترگې پټې کړې . د ده جنازه لومړی لــه ډنمــارک څخــه د اسلام اباد له لارې د افغانستان پلازمېنې کابل او بيا کندهار ته ولېږدول شوه او د ۲۰۰۶ ز کال د اکتوبر پر ۱۷ د کندهار پوهنتون پــه ســاحه کــې خــاورو تــه وسپارل شوه.

**۲-۲۷-۱ د محمد انور نوميالي چاپ شوي آثار:**

**۱ــــ انسان او تکامل (ژباړه)، د کابل چاپ.**

**۲ــــ هند د لومړي کميونيزم څخه تر مر ئيتوب پورې ( ژباړه ).**

**۳ــــ د پښتو ادبياتو د تاريخ يوه تيوريکه طرحه ( څېړنيز اثر ، کابل ).**

**۴ــــ د وېش سيستم ( څېړنيز اثر ، گستتنر ، کابل ).**

**۵ــــ د افغانستان توکمونه (ژباړه، سريزه او تعليقات ، کابل ).**

**۶ــــ ميتودولوژي تاريخ ( ژباړه، سريزه، لمنليکونه او تعليقات ، کابل ).**

**۷ــــ د پښتنو د ټولنېز تاريخ مبادي ( څېړنيز اثر ، مسکو ).**

**۸ــــ د کوډو سرنوشت د علمي پلټنې په رڼا کې ( څېړنيز اثر ، مسکو ).**

**۹ــــ الپې ليلا يا زر او يوه شپه ، لومړی ټوک ( د ختيځ د نــامتو ولســي کېســو ژباړه ، مسکو).**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰ـــ الپې ليلا يا زر او يوه شپه ، دوهم ټوک ( د همدغو نکلونـــو د ژبـــاړې بلـــه برخه ، مسکو).

### ۲-۲۷-۲ د ښاغلي نوميالي ځينې ناچاپه آثار

۱ـــ الپې ليلا يا زر او يوه شپه ، ( د همدغو ولسي کېسو د ژباړې پاتې برخې په دريم ټوک کې چاپ شوې ده).

۲ـــ باڼدار لومړۍ مجموعه ( د ده له خـــوا پـــه پښـــتو ژبـــه کـــې د تخونـــو يـــا چستوشکو د نوي ژانر په قالب کې د خوندور نظمونو ټولګه ).

۳ـــ باڼدار دوهمه مجموعه ( د همدغه تخونو دوهمه ټولګه ده).

۴ـــ هزار ويک قتقتک ( د تخونو يوه بله ټولګه ده .)

۵ـــ هغه پلا او دا پلا ( يوه سفر نامه ده . )

۶ـــ زما د پوهنې حدود د حقيقت په مخ کې ( د ژوندانه په باب د ده د فلسفي نظريو يوه ټولګه ده چې پر ۱۹۵۶ ز کال کښل شوې وه .)

۷ـــ د افغانستان د ايتنوګرافۍ په باب يوه پلټنه.

۸ـــ د مختلفو موضوعاتو په باب يو شمېر نا چاپه مقالې

## ۲-۲۷-۳ د نوميالي د نثر نمونه:

انسانستان

ممکنه ده چې انګلستان به مو ډېر اوريدلی وي، هندوستان دغسې، عربستان هم دغسې، او يو بل " ستان " هم دغسې خو نن زموږ خوښه ده چې تاسې لـــه (انسانستان) څخه هم خبر سئ او د يوې مختصرې جغرافيې په ســـاحه کـــې د هغه حدود و وينئ.

د (انسانستان) جغرافيه البته داسې نه ده چې د ملتو، نژادو اوبو، غرو خطوطـــو او ملکيوتو په توسط تشکيليږي بلکې دغه جغرافيه هغه فاصـــلې تشـــکيلوي چې انسان او د طبيعت عالم يې سره جلا کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(انسانستان) په ټولو اصولو کې له دا نورو (ستانو) سره فرق لري مثلاً انګلستان هغه چې یوازې د انګلسانو منافع په کې ساتلې وي او بل چاته کــه یــې ضــرر ورسیدی خو واوا، که نه ګټه خویې په هیڅ ډول نه وررسیږي مګر انسانســتان هغه دی چې په ده کې د ټولو انسانانو او د ګرده بشر منافع خوندي کیږي.

په دا نورو(ستانو) کې خو ژوند د یوې دعوی نــوم دی لــه بلــه ســره او د یــوه جنجال نوم دی له ځانه سره خو په (انسانستان) کې نه څوک پرچــا د تعــرض فکر لري او نه څوک د چا په مقابل کې ځان حمایه کوي. هلته په هرځای کې و هیچاته هیڅوک خارجي نه ایسي بلکې هرځای د سړي خپل کور دی. که دچا سره د (انسانستان) اراده وي نو په دې خبره پوهیده هم ورته په کار دي چــې ځینې عادات چې په دا نورو (ستانو) کې د خلکو شخصیت تشکیلوي هلته ډیر قیمت نلري او نه د چا په درد خوري بلکې که له چا څخه صادرســي نوښــایي چې د (انسانستان) په شفاخانو کې تر معالجې لاندې سې ځکه که د چا خیــال وي چې هلته یو انسان پربل یوه بابایي وکړي او آغــایې دې پــر وړغــوي خــو داسې کار هلته کورټ ممکن نه دی او که یو انسان د بل په مقابــل کــې ځــان اصیل ګڼي او هغه بل بدل ورته ایسي نو داسې بدل خلک هم هلته ژوند نســي کولای او که څوک د بل په اذیت کې قدرت ږغوي خو داسې همه غرض خلــک هم یو انسان غواړي چې بل یو د ځان مریي وساتي نو داسې ســاهوګان هــم هلته نسي چلیدای او که څوک غواړي چې د بل د لاس په حاصــلو کــې ځــان چاغ کړي نو داسې تجارت هم هلته په (انسانستان) کې کور نلري اوکه څــوک غواړي چې پربل باندې سرلوړ ونیسي داســې ناقابــل ســرونه هــم هلتــه نــه پیداکیږي او که څوک میل لري چې بل ته ځان ټیټ کــړي خــو داســې تیــټ کسان هم هلته څوک نه پیژني لنډه داچې د دانورو ستانو"هغه جری چې ژوند یې تریخ کړی دی هلته پریوه مخ درک نلري".

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (انسانستان) ټوله بشري ادراکات او انساني ملکات داسې کارنه ورکوي لکه په دانورو"ستانو" کې چې آموخت ورسره نيول سوی دی بلکې هلته د فکر طرز، دسليقي جريان، د عمل سلوک او د غرائزو ميل په داسې ترتيب چليږي چې په دا نورو "ستانو" کې تصنيف سوي روحيات د هغو معرفي نسي کولای او نه د (انسانستان) انسان دې موجوده روحياتو تراوسه پورې ليدلی دی. هغه انسان بيخي د دې انسان تصور نسي کولای ځکه تعدي، حرص،غضب، تجاوز، استعماريت، خود خواهي، قتل، غارت، تعصب او نور د دې انسان لازم صفات کورټ نه پيژني او نه ورسره آشنا دی.

لنډه داچې د (انسانستان) اوسيدونکي بيل روحيات لري او بيل استدلال. که چا هغه انسانيت وليدی نو ښايي چې موجوده سړيتوب وژحيوانيت وايسي ځکه هلته ژوند يو محترم مضمون دی او د ژوند د جمال د پاره بشري جريان شروع دی چې ژوند د ژوند د پاره په خپله طبيعي ساحه کې وپالل سي.

په (انسانستان) کې هيڅ داسې چارې نسته چې په ژوند کې بې ګټې وي بلکې د ژوند عملي نظام يې د ګردو پرنفعه ولاړ دی او علم يې له طبيعي حقيقي احساسه څخه ترکيب سوی دی.

هرهغه شان چې يو انسان له بله څخه جلا ساتي او يا يې په جنګ ورسره اچوي داسې عوامل د (انسانستان) د ښمنان دي او هر هغه ايجابات چې يو انسان پربل ګرانه وي او ور نيژدي کوي يې هغه د (انسانستان) دوستان دي.

(انسانستان) په خپل ځان کې د انسانيت د ارتقاء او د انساني ذهنيت د تکامل هغه مرحله بلله کيږي چې د ژوند تکفل کوي د ژوند په معنی!

نو ژوندی دې وي انسانستان (۷: ۱۳۳۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲۸ میرحیدر حیدری

میرحیدر حیدری د دې تذکرې بل لیکــوال دی چــې ښــاغلي نجیــب یــې د تحصیل دورې، د ده د کورنی، د ماموریــت دورې او د مطبوعــاتو ســره د ده د پیژندګلوی تر عنوانونو لاندې معلومات راوړي دي، ترکومه چې مــا د ښــاغلي حیدري پسې کومې تذکرې او آثار کتلي دي د ده په باب مې معلومات نــه دي پیداکړي له همدې امله د نوموړي په باب د تذکرې په اصلي متن کې په راغلــو معلومات بسنه کوم.

## ۲-۲۹ محمد رسول پښتون

د محمدرسول پښتون په باب مو د پښتو معاصر لیکوال تذکرې په اصلي مــتن کې معلومات ولوستل ، په نورو پښتو تذکروکې د پښتون د ســوانحو پــه بــاب معلومات نه دي راغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۳۰ عبدالعلي مستغني

د پښتو ادبیاتو د معاصرې دورې لیکوال د عبدالغني مستغني د سوانحو په باب د دې تذکرې د نورو لیکوالو په نسبت زیات معلومات راوړي دي د ده د زوکړې او وفات تاریخ او همدرانګه د نوموړي د ماموریت په هکله معلومات راوړل شوي دي. دلته زه غواړم هغه معلومات وړاندې کړم چې ښاغلي نجیب په دې تذکره کې ورته اشاره نه ده کړې او په نورو پښتو تذکرو کې د ده باب راوړل شوي دي.

د عبدالعلی مستغنی شاعري له ۱۳۱۵ هـ ق کال څخه شروع شوې او بیا د مړینې تر وخته یې راز راز مطالب او مضامین په قصیده او غزل شکل کې ځای کړي دي چې یوه برخه یې اجتماعي او اخلاقي او نور عشقي او ادبي دي د ده اشعار زیاتره په " سراج الاخبار" او " کابل مجله" کې چاپ شوي دي.

ښاغلي مستغني د پښتو او پښتونولی سره زیاته مینه در لوده، په تیره بیا د پښتو ژبې لوړتیا سره یې زیاته مینه او خاصه علاقه درلوده او خپله داعلاقه یې څو ځلي پخپلو اشعارو کښې ښکاره کړې ده.(۷: ۱۲۲۳)

سرمحقق زلمي هیوادمل هم په خپل اثر فرهنګ زبان و ادبیات پښتو کې د مستغني په باب لیکلي:

عبدالعلی مستغني د سراج الاخبار افغانیه د ادبي برخې محرر وه د حبیبیې مکتب معلم او په وروستیو کې د کابل ادبی انجمن غړی شو.د ده متفرق اشعار د هیواد په اخبارونو کې نشر شوي دي همدارنګه د مستغني د پښتو او دري غزلیاتو او قصایدو دیوان چاپ شوی دی د نوموړي لیکلي موضوعات، ملي، اجتماعي، اخلاقي او عشقي رنګ لري.(۲۳: ۴۷۱)

همدارنګه استاد حبیب الله رفیع هم پخپل اثر پښتو کتابښود کې د مستغني دوه آثار معرفي کړي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲-۳۰-۱ د مستغني آثار:**

**۱ـ د عبدالعلی مستغنی دیوان(پښتو او دري)، کابل، د پوهنې وزارت ـ ددارالتألیف ریاست،۱۳۳۸ ش کال.**

**۲ـ قصاید مستغني (پښتو او دري)، عبدالکریم مستغني، د ملي دفاع وزارت مطبعه ،۱۳۴۲ ش کال.**(۲۰: ۲۳۱)

## ۲-۳۰-۲ د عبدالعلی مستغني د نظم نمونه:

**خپل ځانونه به قربان کړو نه دیار خپل**
**هر د یار دیار کوښه بولو دیار خپل**
**چې د خپل دین و دولت په لار مړ نه شي**
**ښه ژوندون دی هغه بولو ننګ و عار خپل**
**هر میدان چې د خپل ځان په وینو رنګ کړو**
**په قانون یې د نظام بولو ګلزار خپل**
**په دنیا و آخرت به سرفراز وي**
**نظامي چې وي محکومه د سالار خپل**
**سپاهي دې د خپل سر بها خوړلې**
**د مور سر او مال قربان دی تر سرکار خپل**
**نصیحت مور ته په کار نه دی ناصحه**
**ته په کار خپل دانا تر یې مور په کار خپل**
**مستغني به ځان قربان تر خپل ملت کا**
**موافق به د ګفتار کاندي کردار خپل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۳۱ فضل اکبر بېنوم

د پښتو معاصر ليکوا اثر وروستی ليکوال بينوم دی د دې ښاغلي په باب هــم د استاد عبدالقدوس نجيب په( پښتو معاصرليکوال) تذکره کښلږ معلومات راوړل شودي دي، له دې تذکرې وروسته ترکومه ځايه چې ما پښــتو تــذکرې کتلــې يواځې په اوسني ليکوال کې مې د نوموړي په باب معلومات وموندل:

ښاغلی فضل اکبر بينوم مشهورپه حضرت پاچاګل صاحب دپښتونستان دلوی او ستر مجاهد دترنګزو دحاجی صاحب مشرزوی او داشنغر دمشــهور بــزرګ بودلي بابا نمسی په ۱۸۸۷ز کال پخپل کلي ترنګزو کې زيږيدلی دی او وروسته تر هغه چه دهغه وخت متداوله ديني تحصيل يې پخپل کور او نورو ځايو کــې په خصوصي توګه سرته ورساوه ، د خپل مجاهد پلار په پيــروی يــې دجهــاد ميدان ته ودانګل.

هغه وخت يی د انګريزي استعمار پر خلاف جهاد کاوه او وروسته دپاکســتاني استعمار او تجاوز په مقابل په مبارزه بوخت شو، شپه او ورځ يــې پرځــان يــوه کړې وه، دخپل قوم او خپل وطن د آزادۍ دســاتلو دپــاره يــې د پاکســتان د حکومت ګوليو،بمونو او توپونوته ټټرسپر کړی و او دپښتو نستان په باجوړ کــې دملي مجاهدينو او آزادۍ غوښتونکو لارښوونه يې کوله.

ښاغلي هميش خليل پخپل کتاب کې دبينوم دپخوانيو جهادونوداسې يادونــه کوي: پيرنګيانو چې دبونير فتح کولو په غرض هندوستانی فوځ دغه علاقې ته وليږلو نو حضرت بادشاه ګل صاحب فضل اکبر بينوم دخپل پلار پــه هــدايت د آزادو قبايلو دمجاهدينو يو لښکر داستعماري طاقت دمقابلی په غــرض خپــل قيادت کښې واخستو د ۱۹۱۴زکال دجولای مياشت وه چې پــه ســر کــاوۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملندرۍ د ړومبۍ او دويمې معرکې دمسلسل جهاد نه پس يې انګريزي فوځونه په شا کړل.
آزادو قبايلو کښې له ۱۹۱۵ نه تر ۱۹۲۰ز کال پورې مجاهدينو دخارجي طاقت خلاف خپل جنګونه جاري وساتل، دغه دوران کښې يوه بله لويه غزا د انګريزانو خلاف په شبقدر وشوه، دغه غزا کښې هم لکه ړومبۍ مجاهدين سرخ رويه او کامياب شول.
په ۱۹۳۷ز کال کې چې حاجي صاحب د ترنګزو وفات شو نو دآزادو قباييلومجاهدينو او نمايندګانو په يوه خوله حضرت بادشاه ګل خپل روحاني پيشوا تعين کړ.
د ۱۹۳۷ز کال نه تر ۱۹۴۷ کال پورې بادشاه ګل صاحب غازي آباد کې په خانقاه معلی ناست وو ، او دمهمندو قيادت به يې کولو. په ۱۹۴۶ز کال کې دحکومت افغانستان په دعوت کابل ته راغی.
د۱۹۴۹ز کال په فبروری مياشت کې چې په کراچۍ کې دموتمر عالم اسلام غونډه کيدله نو بينوم صاحب دپښتونستان دقبايلو د نماينده په حيث په هغې غونډه کې ګډون درلود او يو وخت د جميعت العلمای اسلام سرحد مشر هم ټاکلی شوی و.
ښاغلی بينوم دسياسي مذهبي او قومي لاربشودنو او مصروفيتونو سره دپښتو ژبې د ادب سره هم ډيره مينه لرله او په پښتو کې دشعرونو ديو بشپړديوان خاوند دی.
ښاغلی هميش خليل دده د شعري مقصد په باب کی داسی ليکي:
"ديوسياسي رهنما او مذهبي پيشوا نه علاو بادشاه ګل صاحب په حيثيت ديو شاعر هم دملک اوملت خدمت کوي، دا اولوالعزم شاعر لکه د اکثرو قومي شعراوو د خپل وطن او قوم ديو ځلانده راتلونکي ارماني دی . خپلو نظمونو کې قوم ته د وطن ساتلو اودفاع کوښښونو دتلقين سره سره دميرخمنو د ناپا کو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارادو خبرداری هم ورکوي او د خپل عالی عظمت شان او ناموس دساتلو پیغام هم." (73 :16)

سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار په پښتانه شعرا پنځم ټوک کې د فضل اکبر بینوم د وفات کال او د ده د آثارو په باب معلومات وړاندي کړي:

فضل اکبر بینوم چې په (پاچاګل صاحب) مشهور وه د ژوند وروستی کلونه یې په افغانستان کې تیر کړل.

نوموړی د ۱۳۵۴ هـ ش کال د مرغومی په دوهمه نیټه په کابل کې وفات شو او جنازه یې د کاپیسا ولایت دکوهستان ولسوالۍ د نوآباد کلي په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

سرمحقق بختانی خدمتګار لیکی" چې لس دولس کاله د مخه د اشعارو یو دیوان یې ما لیدلی دی."

همدارنګه پوهاند رښتین لیکي "چې د ۱۳۱۹ هـ ش کال په آخره کې ما د ده یو وړوکی د یوان لیدلی وه بیا په ۱۳۲۲ هـ ش کال کې یو بل لوی دیوان مو ولید چې تر ۶۰۰ مخونو زیات و او نژدې دولس زرو بیتونو ته رسیږي. په دې دیوان کې قومي،ملي،سیاسي، تاریخي، عشقي، تصوفي،اجتماعي او خلاقي مضامین او د پښتو شعر اکثرې نمونې لکه، غزل، رباعي، قطعه، قصیده، مثنوي، ترجیع بند او نور راغلي دي." (13: 1558)

## ۲-۳۱-۱ دبینوم دکلام نمونه:

وطن وایی

زه خوستاعزیز وطن یم

چه مې خرخ نکړې په بل

ګوره ما چې بربنډه نکړې

چې زه ستا کړم پټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هر نعمت چې زما ستادی**
**څه به خورې چې شم دبل**
**څه فایده به درله وکړې؟**
**بیا په تیر ساعت ژړل**
**دخپل باغ میوې هغه خوري**
**چې دبل کړي ترې شړل**
**که زه نه وم ارمان به وکړې**
**وي به تا له شرمیدل**
**تر بیت دی ستا په ماکې**
**زما تا باندی کول**
**مشترک په دې مفاد یو**
**مه کوه دې کې خلل**
**دا کول دلیونو دي**
**په خپل ځان توره وهل**
**کوم پښتون دی چې کړی ګورې**
**خپل کا له نه غیر بلل**
**تا ته چا ویلي دا دي**
**چې پښتون داسې کول**
**پښتون تا باندې مین دی**
**قربان تا باندې دی تل**
**دغماز خبرې مه اوره**
**بینوم دا تا ته ویل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

د دې تیزس په بشپړولو سره ما وکولای شول چې د پښتو شاعرانو او لیکوالـو یوه داسې تذکره خپلو فرهنګي حلقوته وړاندې کړم چې تراوسه نه وه پژنـدل شوې. په تذکره کې د راغلیو ۳۱ تنو شاعرانو او لیکوالو په باب مې یـو لـړ لازم معلومات ترکومه ځایه چې مقدور وم سره راټول کړل او د تذکرې لیکـوال پـه باب مې هم په مقدمه کې مواد راوړل.

په افغانستان کې د پښتو ادبیاتو پـه معاصـره دوره کـې دا (د پښـتو معاصـر لیکوال) دریمه تذکره ده البته باید ووایم چې د معاصرې دورې قدیمه تـذکره په ۱۳۱۶ او۱۳۱۷هـ ش کلونو کې لیکل شوې ده، نـوم یـې دی د پښـتو ننـي لیکوال دا تذکره استاد خادم او استاد رشتین دواړو په ګډه جوړه کـړې، د دې تذکرې څه برخې مرحوم خادم د کابل کالنۍ د ۱۳۱۸ هـ ش کال په ګڼـه کـې چاپ کړې دي د دې تذکرې لومړنۍ برخې د کابل کـالنۍ د ۱۳۱۶ او ۱۳۱۷ هــ ش کلونو په ګڼو کې خپرې شوې دي. بله تذکره عبدالرزاق زهیر لیکلـې د ده تذکره په فارسي ژبه ده او نوم یې دی،شعرای معاصر پښتو چې تراوسه نـه ده چاپ شې او خطي نسخه یې د افغانستان په ملي آرشـیف کـې خونـدي ده او دریمه همدا تذکره ده.

په مقدمه کې همدارنګه د تذکرې د معرفۍ علاوه د تذکرې مأخـذ، د تـذکرې لیکوال، د تذکرې د تدوین هدف، دکار میتـود او د موضـوع شـالید پـه بـاب معلومات راغلي دي.

ورپسې د تذکرې اصلي متن راغلی او وروسته تعلیقات راوړل شوي دي.

دا تیزس به د ادبي محققانو او د معاصر دوران د ادبي مؤرخانو لپاره کـار آمـد وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مناقشه

پدې برخه کې هڅه کوو، ټولو هغو احتمالي پوښتنو ته لنډځوابونه وومو، چې دمناقشې یا له تیزس نه د دفاع پرمهال ناستو ممتحنه غړو ته پیداکیږي . ښايي ځینو دوستانو ته پوښتنه پیداشي، چې د دې تذکرې د تدوین اهمیت څه دی؟ په دې تذکره کې د کومې سیمې شاعران معرفي شوي؟ دغه تذکره په کوم وخت کې لیکل شوې ده؟

آیا دا تذکره تراوسه چاپ شوې یانه؟ د تذکرې لیکوال څوک دی؟ آیا په تذکره کې لیکوالان او شاعران د الفبا په ترتیب سره راغلي که نه؟ په تعلیقاتو کې شاعران او لیکوالان په څه ډول معرفي شوي دي؟

اوس نو پورتینو پوښتنو ته په ترتیب سره ځوابونه وایو.

د دې تذکرې له تدوینه زمونږ هدف دادی، چې د پښتو د معاصرې دورې تذکرې لیکنې ټولې ورکې کړی سره یوځای شي او دا سلسله زمونږ په فرهنګي تاریخ کې خوندي شي.

ما په همدې خاطر دا تذکره تدوین کړه، سره له دې چې د دې تذکرې ځینې لیکوالان او شاعران تر دې د مخه په نورو پښتو تذکرو کې معرفي شوي دي ، خو بیا هم ځینې داسې لیکوالان او شاعران پکې شته چې تراوسه بل ځای نه دي معرفي شوي.

په دې تذکره کې د افغانستان د مختلفو سیمو د شاعرانو شرح حال راغلی چې ډیری د کندهار سیمې اوسیدونکي دي او د لیکوال هم عصر اشخاص دي.

د پښتو معاصر لیکوال دا تذکره د دیرشمو کلونو په جریان کې لیکل شوې ده.

یاده شوې تذکره تراوسه په مستقل ډول چاپ شوې نه ده اما په طلوع افغان اخبار کې په مسلسل ډول نشر شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تذکرې لیکوال عبدالقدوس  نجیب نــومیرې چــې پــه ۱۳۰۲ هـــ ش کــال دکندهار د بابړو په کوڅه کې زیږیدلی او د پښتو ژبې یــو تکــړه لیکــوال تیــر شوی چې د دې تذکرې علاوه ګڼ شمیر نور آثار یې هم لیکلــي دي اود ۱۳۸۴ هـ ش کال دچنګاښ دمیاشتي پر شپاړسمه د ۸۲ کلنۍ په عمــر دســرطان د ناروغۍ له امله د امریکا د متحده ایالاتو د کلفورنیا ایالت د لاس انجلس ښار د( Wephill) ویپ هیل په روغتون کی وفات شو.

همدارنګه باید وویل چې په دې تذکره کې راغلي ۳۱ شاعران او لیکــوالان تــر اولسم شخص پورې د دوی د تخلص د هجا پراساس معرفــي شــوي دي، مګــر پاتې شاعران او لیکوالان بیا په دې ترتیب نــه دي معرفــي شــوي. مــا هــم د تذکرې ترتیب په نظر کې نیولو سره په تعلیقاتو کې هر شاعر ته نمبر ورکــړی او سوانح مې ورته بشپړې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلي پایله

د دې تیزس د لیک چارې هم د یوه هدف لپاره تر سره شوې دي، اصلی هــدف یــې دادی چې عبدالقدوس نجیب په نامه لیکوال چې د کندهار ولایت اوسیدونکی دی د دیرشمو کلونو په جریان کې یې دا تذکره لیکلې ده او تر دې دمه په مستقل ډول نه ده چاپ شوې ، اما په طلوع افغان اخبارکې په مسلسل ډول نشــر شــوې ده پــه دې خاطر چې په تذکره کې د معرفي شویو شاعرانو او لیکوالــو ســوانح بشــپړې نــه وې اړتیاوه څو د دوی سوانح بشپړې اوپښتو فرهنګي حلقو ته وړاندې شي دا یو هدف او بل هدف یې دا دی چې د ماستری تحصیلې دورې په پای کې د تیــزس لــه بشــپړلو وروسته د ماستری سند په ترلاسه کولو سره د دې سند له امتیازاتوڅخــه اســتفاده وکړم.

مرحوم نجیب په دې تذکره کې ۳۱ تنه شاعران اولیکوالان معرفي کــړي دي، دغــه شاعران د ښاغلي نجیب د زمانې خلک وو چې ډیری له دغــو هغــه وخــت تــازه پــه فرهنګي فعالیتونو پیل کړی وو، په وروسته کلونوکې یادو شویو فرهنګیانو د پــام وړ فرهنګي فعالیتونه کړي، کتابونه یې لیکلي اوګڼ شمیر آثار یې تألیف کــړي دي، پــه همدې خاطر ما د دې تذکرې د بشپړلو لپاره تصمیم و نیوه چــې تیــزس پــه بانــدې ولیکم، دغه موضوع مې له فهرست سره یوځای د کابــل پوهنتــون دژبــو او ادبیــاتو پوهنځي ته وړاندې کړه وروسته د بورد له خوا و منل شوه، په تیزس مې کار پیل او د استاد سرمحقق زلمي هیوادمل تر لارښونې لاندې مې پــه درې برخو(مقدمــه،متن او تعلیقاتو) کې بشپړ کړ.

د تیزس په لومړۍ برخه (مقدمه ) کې د موضوع اهمیــت، د کــار میتــود ، د موضــوع شالید او د تذکرې لیکوال په باب معلومات ، د تذکرې اصلی متن او وروسته تعلیقات راوړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړاندیزونه او سپارښتنې

۱ـ د دې تذکرې له متن څخه معلومیږي چې د هیواد په بیلابیلو پښتنو سـیمو کې ښايي داسې لیکوالان او شاعران تیر شوي وي، چې په هیڅ پښتو تـذکره کې د هغوی شرح حال نه وي راغلي که پـه دې هکلـه هـم محصـلینو تـه د مونوګراف یا تیزس موضوع ګانې ورکړلې شي او د دغوشاعرانو او لیکوالانو پـه باب څیړنه وکړي د پښتو ژبې د ادبیاتو په غنامندۍ کې به ګټور تمام شي.

۲ ـ د دې اثرعلاوه د ښاغلي عبدالقدوس نجیب څینې نور ناچاپ آثار هم شته چې تدوین ته اړتیالري که کار په باندې وشې ډیره ښه ده.

۳ـ لکه څرنګه چې مخکې مو وویل دا تذکره تراوسه په مسـتقل ډول چـاپ شوې نه ده، دا تذکره باید چاپ شي.

۴ـ په تذکره کې د هغو لیکوالو په باب چې په نورو تذکرو کې نـه دي معرفـي شوي که د دوی د ژوند او فرهنګي فعالیتونو په باب محصلینو ته مونوګرافونـه ورکړل شي ښه ده.

۵ـ په پښتو ادب کې ښایې دې ته ورته نورې تـذکرې هـم موجـودې وي او د څینو دلایلو له امله ناچاپ پاتې وي که پیدا شي ، د تدوین لړۍ یې پیل شې او پښتو فرهنګي حلقوته معرفي شي، د پښتو ادبیاتو تاریخ به لا بډایه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مأخذونه


۱ ـــ آریا،محمد نجیم. (۱۳۷۸هـ ش). محمد هاشم میوندوال. کابل:میوند نشراتي مرکز.

۲ ـــ اوریا،نورالله. (۱۳۹۰ هـ ش ). باغوان(د ماستری تیزس). کابل: دکابل پوهنتون.

۳ ـــ ایوبی،محمد نادر. (۱۴۲۴ هـ ق). اقتصادي نظریات. لاهور:اکرم پریس.

۴ ـــ ایوبی،محمد نادر. (۱۴۲۹ هـ ق). سیاسي نظریات. لاهور: اکرم پریس.

۵- بینوا،عبدالرووف. (۱۳۴۰ هـ ش ). اوسنی لیکوال(لومړی ټوک). کابل:دمطبوعاتو مستقل ریاست.دولتي مطبعه.

۶ ـــ بینوا،عبدالرووف. (۱۳۴۱ هـ ش). اوسنی لیکوال(دوهم ټوک). کابل:دمطبوعاتو مستقل ریاست.دولتي مطبعه.

۷ ـــ بینوا،عبدالرووف. (۱۳۴۶هـ ش). اوسنی لیکوال(دریم ټوک). کابل:دمطبوعاتو مستقل ریاست.دولتي مطبعه.

۸ ـــ بینوا،عبدالرووف. (۱۳۸۸ هـ ش ). د زړه خواله.کابل:د سرحدونو قومونو او قبایلو چارو وزارت.

۹ ـــ بینوا،عبدالرووف. (۱۳۶۰ هـ ش). د افغانستان نومیالي.کابل:د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتو ریاست.

۱۰ ـــ ټولنه،پښتو. (۱۳۴۲ هـ ش). پښتانه شعراء (دریم ټوک).کابل: د علومو اکاډمي.

۱۱ ـــ جانان،محمد شریف. (۲۰۱۱ ز ). اکبرنامه. کوټه: چمن پرس.

۱۲ ـــ حبیبي،عبدالحی. (۱۳۹۱ هـ ش) . پښتانه شعراء. کندهار:د علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳ ــــ خــدمتګار،بختانی. (۱۳۶۷ هـــ ش). پښــتانه شــعراء (پــنځم ټــوک). کابل:دافغانستان دعلومو اکاډیمي.
۱۴ ـــ خــدمتګار،بختانی. (۱۳۵۷ هـــ ش). پښــتانه شــعراء (څلــورم ټــوک). کابل:دافغانستان دعلومو اکاډیمي.
۱۵ ـــ خواخــوږی، محمــدابراهیم. (۱۳۸۶ هـــ ش). د مینــې وږمــې. کابــل:د خواخوږي ادبي او کلتوري ټولنه.
۱۶ ـــ خلیل،همیش. ( ۲۰۱۰ ز). پښتانه لیکوال. پیښور:یونیورستي پبلشرز.
۱۷ ـــ رشاد،عبدالشکور. (۱۳۵۹هـ ش). مخارج الحروف. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو اوادبیاتو انستیتیوت.
۱۸ ــــــ رشاد،عبدالشـــکور. (۱۳۸۹هــــ ش). جغرافیـــایي یاداښــــتونه. کندهار:دعلامه رشاد اکاډمي.
۱۹ ــــــ رفیــع، حبیــب الله. (۱۳۸۵ هــــ ش). زنــدان خــوږلي ادیبــان. کابل:دافغانستان قلم ټولنه.
۲۰ ـــ رفیع، حبیب الله. (۱۳۵۶ هـ ش). پښتو کتاب ښود. کابل:د بیهقي کتاب خپرولو موسسه.
۲۱ ـــ رفیع، حبیب الله. (۱۳۶۰ هـ ش ). د استقلال څلورمه جبهه.کابل:د امان کتاب خپرولو موسسه.
۲۲ـــ روهیال، مطیع الله. (۱۳۹۴ هــــ ش ). (مرکــه). کابــل: کابــل پوهنتــون. چهارشنبه د عقرب شلمه نیټه.
۲۳ ـــ هیوادمل،زلمی. (۱۳۵۶ هـ ش). فرهنګ زبــان و ادبیــاتو پښــتو.کابل:د پوهنې وزارت د تألیف او ترجمې ریاست.
۲۴ ـــ هیوادمل،زلمی. (۱۳۶۵ هـ ش). فرهنګ ادبیات پښتو(جلد دوم). کابل: دولتي مطبعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (میر حمزه سامیزي) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library




د خپرونو لړ: ۱۰۷

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**